آزادي که خېراتي وي يا د چا مهرباني وي
افتخار به پرې ونه کا که همت بې افغاني وي

قرباني چې په کښې نه وي هغه کله لوی اختر وي
آزادۍ سره تړلې ډېره لويه قرباني وي

# د الفت خبرې

د

## ګل پاچا ((الفت))

http://www.ulfat.de

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين اياك نعبد و اياك نستعين و الصلواة و السلام على
سيد المرسلين و اله و صحبه اجمعين

# د الفت خبرې

د الفت خبرې د مرحوم استاد الفت د وروستيو اشعارو مجموعه ده چه په ۱۳۶۷ هجري ش. کال په جرمني کښې د دوکتور عبدالرحمن الفت په اهتمام چاپ شوېده او اوس د تصحيح نه وروسته په بشپړ ډول د لا نورو زياتونو سره د انټرنټ له لارې محترمو لوستونکوته وړاندي کېږي.

مهتمم: دوکتور عبدالرحمن «الفت»
جرمني: دليندی، مياشت ۱۳۸۹ هجري ش.

# فهرست

سرلیک: مخ:


تقریظ ..... أ
دالفت خبرې ..... 1
دحق رڼا ..... 1
پروردګاره! ..... 2
خیرالبشره! ..... 3
رحمة للعلمین ..... 5
دحج الهام ..... 6
دزړه مضمون ..... 7
دکربلا الهام ..... 8
سترګه دسبایمه ..... 12
قهرمانه پېغله ..... 12
پیر ..... 13
ملي حماسه ..... 13
وطنه ..... 14
ګل پرسته ..... 16
تلوسه ..... 17
مړي ژوندي ..... 17
دمورمینه ..... 18
مورې! ..... 18
قدراومقدار ..... 20
صاحب ..... 21
سپك نظر ..... 21
مساوات ..... 22
مانیجن ..... 23
نن اوپرون ..... 23
دزړه د نیا ..... 24
څه کېږو؟ ..... 24
سیاست ..... 25
سرنوشت ..... 25
بې جلبه زور ..... 26
ملي شورى ..... 27
د خان مهرباني ..... 27
پالیسي ..... 28
زه اودی ..... 29
ترقي اوتمدن ..... 29
څه جوړوي؟ ..... 30
بې چله اوناچله ..... 31
رڼا ..... 31
قبیله پرستي ..... 32
د شورى فضا ..... 33
په چاپسې ځي؟ ..... 34
نه ګورم ..... 35
دروغ اوربنتیا ..... 35
ددرګاه سپې ..... 36

زندان ........ 38
دمحیط تاثیر ........ 39
ددهقان درس ........ 40
چاڅه راوړه اوچاڅه ........ 41
په ښکلا مین ........ 42
رندانه نظر ........ 42
ښه نظام ........ 43
په څه حال کښې یو؟ ........ 44
نوی نظر ........ 45
کږې زلفې ........ 45
څنګه وخوت؟ ........ 46
دشيخانونظر ........ 46
د هلمند د اوبو تړون ........ 48
یوصدراعظم چه چانشولیدلی ........ 50
څلوريځې ........ 51
څلوريځې ........ 52
څلوريځې ........ 53
څلوريځې ........ 54
څلوريځې ........ 55
څلوريځې ........ 56
څلوريځې ........ 57
څلوريځې ........ 58
څلوريځې ........ 59
څلوريځې ........ 60
څلوريځې ........ 61
څلوريځې ........ 62
څلوريځې ........ 63
څلوريځې ........ 64
څلوريځې ........ 65
څلوريځې ........ 66
څلوريځې ........ 67
څلوريځې ........ 68
څلوريځې ........ 69
څلوريځې ........ 70
څلوريځې ........ 71
څلوريځې ........ 72
څلوريځې ........ 73
د حال ژبه ........ 74
ولې ؟ ........ 74
که پیداشي ........ 75
په داسي حال کښې ........ 75
ښځه ........ 76
دلبراوستمګر ........ 77
په غلا غلا کتل ........ 78
زما کار ........ 78
د ژوند مرثیه ........ 80
زړه اوضمیر ........ 80
زر ........ 81
دژونددستور ........ 81
دعشق جنون ........ 82
حسن اونظر ........ 83

اولوالابصار ................................................................................................ 85
خبرنه و ................................................................................................ 87
اقتدار ................................................................................................ 88
مزدوري سترگي................................................................................ 89
ملي قدرت ................................................................................................ 89
محمد(ص) ................................................................................................ 90
پاکه مینه ................................................................................................ 92
امیدونو!................................................................................................ 93
رسم او رواج ................................................................................................ 93
بابا ................................................................................................ 97
ښامار................................................................................................ 97
دغریب گیلي ................................................................................................ 98
حاضرجوابي................................................................................................ 99
ځوك څه پوهېږي؟................................................................................ 99
دمحمد"ص"تعلیم................................................................................ 100
دمحمد"ص" عرفان ................................................................................ 101
اوسنی او پخوانی مسلمان ................................................................................ 102
په ځان مینه! ................................................................................................ 104
محیط اوانسان................................................................................................ 104
عمل اوعکس العمل ................................................................................ 105
سوتی................................................................................................ 106
خپل اوپردي................................................................................................ 106
دشاعرترنم ................................................................................................ 107
امیدونه راژوندي کړه ................................................................................ 108
دعصرد لبره!................................................................................................ 108
جوي انقلاب................................................................................................ 109
خطابونه................................................................................................ 110
نا جوړه جامعه................................................................................................ 111
دبنوسیوری................................................................................................ 111
نوی گل ................................................................................................ 112
آزادي................................................................................................ 113
خپلواکي................................................................................................ 113
زما وصیت................................................................................................ 115

# بسم الله الرحمن الرحيم

# تقريظ

## وبه نستعين

والصلاة و السلام على رسوله الكريم

داداشعارومجموعه دالفت صاحب رحمة الله عليه

**دژونداخري** مرحلې احساسات اوافكاربيانوي لكه څنګه چه " پښتوسندرې" بې دڅواني. او" غوره اشعار" او" غوره نثرونه "ئې دژوند دوسطي مرحلې داحساساتواوافكاروبيانونكي دي.

پدې اخري مرحلې كښې مرحوم الفت صاحب له ټولورسمي كارونو څخه لاس واخيست، او سره له ډېرې مينې چه شورى سره ئې درلوده اخرو دوروته ئې ځان كانديدنكړ، په شاهي دوره كې ئې تقاعد واخيست اودسردارمحمدداود خان دحكومت سره ئې همكاري ونكړه، دهغه دكودتاپه اول كال كښې دبيت الله په زيارت مشرف شو ( د" حج الهام " په همدغه كال په مني كښې وليكل شو) دزيارت څخه وروسته اكثره وخت ئې دننګرهار دعزيزخان په كڅ كې تېراوه‌او په مختلفوجوماتونو كښې بې وعظونه كول چه دمولوى صاحب فضل الرحمن نه مې ددې وعظونوقيصې په پېښور كښې څوكاله وروسته واورېدې.

دخپل ژوند ددغې مرحلې كيفي تغيرالفت صاحب دخداې مرحمت ګڼي اوداسى بې بيانوي:

| | |
|---|---|
| زه بېخـي بـل شـوم بـل مـې‌جهـان شـو | بـدل مـې بـون شـوبـدل مـې تـون |
| ظـاهري نـه دى جسـماني نـه دى | څـوک ليـدى نشـي زمـا بـدلون |
| زه هغـه نـه يـم اوس چـه پخـوا وم | دى زمـا كلـه زمـاپرون |
| ماوليـد بـل چاليـدلى نـه دى | لـه خپلـه ځانـه دځـان بېلتـون |
| "الفـت" مونـدلى فـيض لـه الفتـه! | ښـه ده چـه نـه دى دچـامرهون |

دالفت صاحب په اشعارو كښې مداحي نشته، نه دڅوانى دوخت په اشعاروكښې اونه دژونديه اخري مرحلې كښې. الفت صاحب داجتماع داصلاح په هدف يوماهر نقاد وچه داجتماعي مشكلاتودحل خبرنه دده داشعارواو آثارومهمه برخه ده. ددې باهدفه نقادى څومهمې جنبې دمثال په توګه دلته بيانوو:

ا- كه څه هم الفت صاحب بوې روحاني كورنى ته منسوب دى چه شجرة النسب بې‌شيخ عبدالقادرجيلانى رحمة الله عليه ته رسيږي اود نيكونوزيارتونه بې په پاكستان اوافغانستان كښې منتشردى ( دصوابيويه مياډېره كښې بې پنځم نيكه اودصواتومشهورزيارت ئى داتم نيكه دى ) خوسره د دې هم دروحانيت انتساب نه استثماري استفاده، چه دپيرى اومريدى په طريقه مروجه وه، سخته كركه بې ورڅخه كوله:

# پیر

که حرام خوري که روژه خوري که ریاکړي — مه وایه چه پیرګناه کړي یا خطاکړي
اسلام ځی مګرپیري نه ځي له پیره — که هرڅودنیاته مخه دین ته شاکړي
عقیده دچاپه پیرنه خرابیږي — که خراب خراب کارونه برملاکړي
خلک به وائي تلاوت اوتهجدکا — تولـه شپه که فاحشوسره سباکړي
له نیکونونه نمسوته پاتې کیږي — ددرګاه د سپي سره پیري وفاکړي

امادذي استنکار معنی دانه وه چه الفت صاحب دعارفانواومخلصومتصوفینومقام ته په بې اهمیتی وګوري. دخواجه عبدالله انصار رحمة الله علیه په حق کښې وایي:

دعارف زړه کښېپوازي دخدای ډاروي — شرک بې بولي که بې زړه کښې وي بل ډار
بې له خدایه چاته سرټیټیوي کله — که بې سرله تنه غوڅ کړي اقتدار
ادهم سرددولت تاج ته ښکته نکړ — چه بې سرکښې خیال پیدا شو ددلدار
بېزواله پادشاهي کاندي فقیر — حقیقي فقیرته ټیټ سردتاجدار

ب- دافغانستان فیاض طبعیت اوورسره ورسره دفقرانتشارهمیشه دالفت صاحب دتعمق اوتاثرسبب و. دی ښه خبرو چه ظلم اوبېعدالتي ترکومې اندازې پورې پراجتماع مسلطه وه دهغه وخت دمروجو هلوځلونتائج دعدالت دتامین دپاره هم ورته معلوم و. خصوصاًچه شوری اوشوری بازي بې له دي چه عدالت تامین کړي دتعمیل په مقابل کښې ئې لوی خنډګرزیدلی وو:

چه وکیل تش کاندي زړه جب بې ډکیږي — چه وزیرتیټوي سرځای بې لوړیږي
دوزیرلمنې لاندې مرداری — چه وکیل کاندي خوله وازه معلومیږي

ج- که دالفت صاحب ټول افکار په یوه کلمه کښې تمثیل شي ښائی "دفقیرانوسره همدردي" ئی ښه تمثیل وي، دی دفقردعلاج دپاره دیو اخلاقي جذري بدلون طالب و، اود" وفی اموالهم حق معلوم للسائل والمحروم" ته بې **د جامعې** نه دعملي پابندی غوښتنه کوله.
ددغه اخلاقي بدلون استناد دمحمدصلی الله علیه وسلم په سیرت اوسجایاووباندي ،او ترسیمول یې، ددي اشعارو یوه لویه برخه ده چه دلته یې د اولې منظومې یوه برخه اقتباس کوو:

# خیر البشر ه!

رحمة للعلمین خیرالبشره! — دکامل انسانیت اصلي مظهره
ته چه نه وې په جهان کښې رڼا نه وه — دادراک اوشعورسترګه بینانه وه
تاکړه ورکه هغه توره تربږمی — چه نه لمرشوه ورکولی نه سپوږمی
سرېټوب ورساوه تاترمعراجه — فرعونان دې کړه راکوزله تخت وتاجه
فقیران اوحقیران دې عزیزان کړه — سرکشان دې پخپل ځان پورې حیران کړه
انساني کرامت تاراووړانسان ته — بشري وروري دې راوړله جهان ته

په عالم کښې دې پیدانوی نظر کړ
جوړ دې کړله ملتونو یوملت
دخدای کور کښې دې پرېښودل بتان
دسرېوجوړول دې لوی هنرو
دېربې لارې دې روان په سمه لار کړه
دیتیم داوښکوقدر درسره و
انساني حقوق دې ښځولره ورکړه
عدالت دې دتقوی جزوباله
که مسجد دې جوړاوه که خندقونه
غزاګانوکښې له هرچانه صابروې
مشکلاتو کښې له هرچامستقیم
مړوې که ژوک یوازې تش نسونه
دېنه لویه معجزه نشته ده بله

چه قادر دې په لیدو دخیروشر کړ
دتوحید دکلمې په برکت
مشرکان دې کړه دیوخدای بندګان
که نه! یونوم دبوجهل اوعمرو
ناپوهان دې پوه په حق دموروپلار کړه
دپېرزونظر دې تل په بېچاره و
دعزت ټیکرې دې کونډوته په سر کړه
مساوات دې په عمل کښې وپاله
کړه دې نوروسره سم مشکل کارونه
په جهاد کښې به شخصاخپله حاضروې
خدای درکړی لوی دولت خلق عظیم
تامړې کړې وړې سترګې وړې زړونه
خوده پټه له نظره دغافله

الفت صاحب دایمان اصلي معیارپه ښواعمالو کښې لیده نه په مظاهروکښې او داچه" بعثت لاتمم مکارم الاخلاق " بې دډېرو لوړو مفاهیمو کنزباله، هغه کوم اسلامي منظرچه ده ته داعجاب او الهام مصدروهغه داچه حضرت عمررضی الله عنه سره لدې چه پوځ بې دروم اوفارس په فتوحاتوبوخت و، دی پخپله ګوډی په شادبېوزلو کورته روان اوپه تناره کښې بې ډوډی پخوله پدېصورت بې دپخواني حدیث عملي متابعت کاوه اوپه اسلام کښې بې دسیاست اوعمل بېلتون نه مانه. داسلام دغه عملي جنبه دالفت صاحب شخصی تعامل کښې منعکسه وه او په فامیلي فضا کښې به دده اشدغضب هلته نازل وچه دفقیرپه حق کښې به بې دچانه تقصیرولید. اودغه غریب پروري ترآخري سلګی پورې (قوس ۱۳۵۶ ) ورسره وه:

# زما وصیت

غواړمه چه مرګ مې وي په شان دېوفقیر
نه دې راډیو کښې وي زما دمرګ اعلان
خاوروته دې وسپاري ماهغه دهقانان
نورڅه نه ورم عجزاونیازبه ورمه خدای ته
لاس کښې که څه نه و، چه نهروړې ماړه کړمه
ښه به وي که لرمې داتیاره قبررڼاکاندي
مکرړئ دریادپاره ماپسې خیرات
ورکړئ غریبانوته که وي زما څه مال
خدای ته دېرنزدې وي له هرچاڅخه "الفته"

نه دې پکښې ویروي نه دخلکو ډېربهیر
نه دې وي زما په قبرخان وبېګ اومیر
هغه چه کړي تخم اووړي خیرکثیر
رحم اوکرم ته به بې ورم عذراوتقصیر
زړه کښې خوڅه و، چه ئې په دوې کړمه زهیر
که مې رڼاکړی وي دچاذهن وضمیر
ځان پسې نه غواړم خیراتونه چشمګیر
پټ غوندې له خلکو چه پکښې نه وي تشهیر
هغه چه دنیا کښې وي غریب خواروحقیر

کوم شی چه په دې اشعاروکښې دډېراعجاب ځاې دی هغه دوطن داضطراري حالت احساس اوددې حالت حتمیت دی او دا چه دنجات لاره هم دهمدغه اضطرارپه مرور کښې پرته ده : د" کربلاالهام " ترعنوان لاندی په بو اتېابیتونو کښې چه ترتېولواوږده قصیده ده ددې حالت حتمیت اوداچه خطرسره مواجه دحیات اصلي سردی بیانوي:

داسې ډېربدبدحالونه په انسان باندې راغلي
په همداسې سخت ساعت کښې پیداشوي لوی کسان

زلزلې اوطوفانونه په جهان باندې راغلي
چه ځان نه سپاري طوفان ته او سپرېږي په طوفان

دطوفان په سرنوح کېښود دبشر دبقا پنډ — دتدبیرعزم په مخکښې طوفان کله ګرزي خنډ
که هرڅومره لوی طوفان وي عمربې‌لنډ لکه ظالم وي — دنوح عمربې نصیب شي چه طوفان باندې حاکم وي
خاوندان د ارادوتل په جرئت مومي نجات — له خطرسره جنګونه حقیقت دی دحیات

اوپه رښتیاچه ددې مسلمان ملت قربانی ددنیا داعجاب مورد وګرزېدله، او مومن مسلمانان په طوفان سپاره شول اودافغانستان اسلامي جوهر په همدغه ابتلاکښې تجلاوکړه. خوداچه الفت صاحب دحوادثونه مخکښې دوطن دنجات یواځینی لار جهاد ګڼله هغه دده اسلامي بصیرت اوفراست ښئي: اتقو فراسة المومن فانه ینظربنورالله:

یزیدان څومره ډېرشوي یوحسین نشته جهان کښې — دجهاددرس چاوانخیست مهجورپاتې شوقران کښې
ومنل مسلمانانو داسلام اسان امرونه — سرسایه ورکوي خدایه! نه دحق لار کښې سرونه
نوافل ئې‌دي ټینګ کړي واجبات بې دي هېرکړي — نور بې هرڅه دي ترک کړي اورادونه بې ډېرکړي
داسې خواره زاره نه وه حقیقي مسلماني — څه شوه چېرته لاړه هغه دایمان قهرماني
مسلمانه! باایمانه داغریب دین معتبرکړه — په دین سرورکړه اودین بیادپخواپه شان سرورکړه
انتقام دحسین واخله دخپل عصرله یزیده — ورک دزمکې خدایان کړه الهام واخله له توحیده

دوفات څخه وروسته دالفت صاحب په کتابخانه کښې دوه اثره نشرته اماده شوي وو یو بې په نثر د« اسلام اوداسلام نقش دفرداوجامعې په جوړولو کښې» چه شهیدعزیز الرحمن "الفت" رحمة الله علیه په پېښورکښې نشرکړ، اوبل "دالفت خبرې" چې دادی اوس نشرېږي. ددی اشعارونشرېموردہ څوکاله وځنډېد لواودجهاد ندا بې غوږوته اوس رسول کېږي. خوحقیقت دادی چه جهادته، او د قدسیت حفاظت ته یې، اوس له پخوانه لازیات احتیاج محسوس دی. ځکه چه دافغانستان داسلامي صبغې دتغییردپاره بین المللي موامره له هروخت نه اوس زیاته شوې اودغه موامره به د لیډرشپ طلبي اوزعامت دحرص و آز نه اعظمي استفاده وکړي له دې کبله نوجهاد اکبرته هم اشد ضرورت شته چه ددې اثراصلي مضمون هم همدادی.

پوشان نه دي نصیبونه قسمتونه — کاتبانودازل کړي فرقونه
چابانکونه دي ډک کړي په ډالرو — چاپخپلو خدمتونو تاریخونه

په جهان کښې چه مردوده باداري شوه — روحاني رنګ کښې راووته پیري شوه
دپیرۍ اومریدۍ بازارچه سوړشو — سیاسي رنګ یې‌پیداکړ لیډري شوه

په اوسنۍ مرحله کښې چه داکرښې لیکلې کېږي مجاهدین ددووقوتونو اونوروقواوودموامراتوپه سبب له خپلوحقه حقوقو چه دافغانستان ازادي ده موقتاًمحروم شوي. خودتضحیې اوقربانۍ استعدادپدې مسلمان ملت کښې ډیرزیات دی، اودخدای په مرسته دافغانستان ازادي لرې نده خودصفونووحدت یې اساسي شرط دی. کوم وحدت چه دخدائي معجزې په برکت دافغانستان عرفي.نژادي، لساني اواختلاطي کیان باندی حائل شو، اود اوسپنواوتیګوپه خلط کښې بې دسمنټو وظیفه اداکړه،اود روس دالحاد په مقابل کښې بې سدمنیع جوړکړ. که څوک د افغانستان ترکیب ته په احترام ندي قائل (که افغان ملتی دی اویا ستمي) نودافغانستان وجودي ترکیب نه بې انکارکړی اوخاین بلل کېږي دوئ دافغانستان دابدي بربادۍ په لاره قدم ږدي اودسلام نه بې لاره ببله ده. ځکه دوې یوقایم اودایم ظلم ته لاره خلاصوي:

شخص که هرڅوک وي د څو ورځو حاکم وي — دده ظلم وي څوورځې که ظالم وي
خدای دې نکړي جامعه په ځان ظالمه — چه داظلم هم قایم وي هم دایم وي

عبدالرحمن الفت
الریاض ۷. ۴. ۱۳۲۷

نثارتربت پاک یگانه مجاهد خداپرست حقیقت بین وطنخواه
شاعربزرگواروسخن سرای بی مانندعصرما
دوست گرامی ویارجانی من گل پاچاالفت
ای زماگرانه اوروره

چگونه شعرنمایم بسوگ توانشاد
که حرف حرف کند پیشترزمن فریاد

مرامجال نه بخشدسخن که گریم زار
که شعرزودترازمن عزاکندبنیاد

جهان شعربداغ توسوگوارشده
زخامه درغم توخون چکدبجای مداد

توشعربودی وتوذوق بودی وتوهنر
تونوربودی وتوصدق بودی وتوسداد

توگریه بودی وتوخنده بودی وتوعشق
توالفت وتومحبت توعاطفه تووداد

بگاه خشم خروشان چوسینهٔ جیحون
بگاه فخرفرازان چوقلهٔ شمشاد

قلم بمرگ تولرزدچنانکه درسرما
شکسته شاخ گلی لرزدازکشاکش باد

قسم بشعرکه: اندرقلمروخوشحال
بپایه توبدنیای شعرکمترزاد

برنج آبله پایان بینوای وطن
گریستی توچومادربماتم اولاد

باشک بیوهٔ بی خانمان بی فرزند
چه سیلهاکه زمژگان خامه ات نگشاد

بدردمرغک درخون طپیدهٔ مجروح
چه لعن هاکه نمودی بلانه صیاد

چه شامهای خجسته چه روزهای سعید
که باتوبود مراالفت مریدومراد

شبان ماه وشبان شباب ونای شبان
فضای خلوت یاران وصحبت آزاد
حدیث دلکش تودرفضای آن محفل
مسیح واربدلهای مرده جان میداد
دگرزنرگس شهلاکه وصفت خواهدکرد؟
که بباغ نرگس مارازمانه دادبیاد
دگرکه؟شانه زند زلف نسترن بقلم
دگرکه؟ تازه کند داغ لاله رابسواد
حدیث شوق که گویدکه خفت مرغ چمن
سرود بباغ که خواندبباغ شعربیداد
دگرکه بردل مجروح مانهدمرهم
دگرکه خاطرمحزون مانمایدشاد
دگرکه نکته سراید لطیف ترازآب
دگرکه شعرسراید بدیع ترازباد
دگرکه گرگ ستم رازندبمشت دهن
دگرکه پاک کندچشم باز را زعناد
تونورچشم وطن بودی ای دریغ که چرخ
جفانمودو ترازیرخاک تیره نهاد
تودربیاض وسوادزمانه محفوظی
همیشه تابودازروز وشب بیاض وسواد
ترا **بحافظ**هٔ روزگاربسپردند
که روزگار بد و خوب ما نماید یاد

حوت ۱۳۵۶
بغداد (خلیلی)

بسم الله الرحمن الرحيم

# د الفت خبرې

دزړه خبرې دالفت خبرې
دعقل اوفکر دحيرت خبرې

دمحبت له حرارت نه پيدا
دويښ احساس دبصيرت خبرې

دحق رڼا دروح نجویٰ لرې
دعشق نغمه دمعرفت خبرې

راغلې دنيا ته دالهام له لارې
د لوړاوښکلي حقيقت خبرې

دکار خبرې د "الفت" کاردی
هروخت په کاردي دالفت خبرې

# دحق رڼا

له وهم وخياله اودعقل تصورنه بهر
چيرته چه نه رسيږي هيڅکله دعلم نظر

له دي عالمه ماورا زمان مکان نه جلا
تولورنګونوصورتونوکم وکيف نه سوا

دحق رڼا کړي تجلیٰ چه بې ايمان ويني
عقل پوه نه دی چه بې څنګه په څه شان ويني

خدايه! تانشي پېژندی زمونږ قليل علم
داپه علت، معلول ولاړزمونږ عليل علم

ړانده پوهېږي چه لمرشته دی مګرلمرنه ويني
سحرله خوبه راپاڅېږي خوسحر نه ويني

ګونګ شونډې ويني چه خوځېږي خوخبره ناوري
کاڼه ته يوڅه ووايو اوهغه بل څه اوري

دغسې مونږ هم دړندوکڼوپه لاريوروان
مونږ له مکانه وتی نشواوته ئې لامکان

ښا پېرک کله دغه لمرخپله رڼا کښې ويني
دلمررڼابس دسپوږمۍ په تجلا کښې ويني

مونږ به لاڅه يوزمونږ علم اويقين به څه وي
يوه ماشوم نه دبلوغ په باب تخمين به څه وي

نورو کښې وينوهغه څه چه بې په ځان کښې وينو
دخپل غلط قياس عکسونه په جهان کښې وينو

په آينه کښې ماشومان تصويردځان ګوري
کوي باورچه واقعي نورماشومان ګوري

ډيرمجهولات شته چه انسان لا پېژندلي نه دي
د غيب پردو کښې ډېرڅه پټ دي چاليدلي نه دي

ډيرڅه موومنل هغه وروسته غلط وختل
ډيرڅه مو ردکړه چه نن علم اوحکمت ومنل

زمونږ مننه زمونږ ردزمونږ انکارغلط
څه اعتبارلري زمونږه اعتبارغلط

ستامعرفت ته دبشرعقل رسېږي کله    دانساني فکرلباس په تاجوړېږي کله
اهل عرفان په تضرع" ماعرفناک" وايي    مونږ هغه حمدکله وېلی شو چه تاته ښائي

# پروردګاره!

پېدادې کړه پسونه هم لېوان پروردګاره    دښوبدوخالقه!هم رحيم اوهم قهاره

پسونه شکرکاږي چه ګياه دې کړه زرغونه    لېوان دې ثناوائي چه پېدا دې کړه پسونه

خېالي زرکه دې ستايي چه احسن الخالقين يې    صياد ،باز او باښه وايي چه خيرالرازقين يې

يزيد شکرګزاردی چه فاتح دکربلادی    حسين کوي ډېر فخرچه سيدالشهدادی

شاهان دې کړه سرلوړي ددولت په تخت و تاج    شاهي تاج نه دې تېښتته کړه ادهم لره معراج

ګوډوايي شکرخدايه!چه دوه سترګې غړومه    ړوندوايي ډېره ښه ده چه نادودې نه وينمه

ګونګی دحال په ژبه شکرشکر کښې داوايي    ګونګ ښه يم چه دروغ نه وايم غيبت راته نه ښايي

په هرحال دې راضي يولروصبردايوب    قصه موهېره نه ده ديوسف اوديعقوب

يومياشې بل هاتي کړې ځينې لوی ځينې واړه    لويان دې کړه خوړونکي اوواړه ورته خواړه

په نس کښې دماهي ژوندی ساتلی شې انسان    چه ته يې ساتې ربه! نه غرقېږي په طوفان

دتېغ خوله دې کړه بنده په مری داسمعيل    په سره اوردنمرود کښې دې ساتلی دی خليل

هاتي په ځمکه پرېووت ابابيل چه په هواشو    مشکله نه ده تاته دشدادوژل په مياشو

قادره! ذوالجلاله! بې فعال مايريد    که ستا اراده نه وای څه کولی شويزيد

چنګيز او هلاکو تا مسلط کړه په دنيا    مظهر وه ستا د رحم مسيحا وه که بودا

بې ستاله ارادې نه هيڅوک هيڅ نشي کولای    نه څوک شي ښه کېدلی اونه څوک شي بدېدلی

بلبل دي نغمه خوان ګل وګلزاربانديٍ شيداکړ    کارغه دي دبدبوی مردارخوړلوته پيداکړ

دشاتوپه مچيوجوړوي خواږه عسل    دمارلړم په نېش کښي لري زهرداجل

دردونه ستاله خوادي دواګاني ستا له خوا    شيطان دي پېداکړی وآدم ته لاپخوا

څوک نشي پوهيدلي ستا دکړوپه حکمتونو    موسیٰ لاخبرنه وستا دخضرپه کارونو

قاصراومقصردی خدايه علم دبشر    دغيب پردوکي پټ کله ليدلی شي نظر

ترڅوعلم محدود وي په زمان اوپه مکان    بعيدبه وي امکان نه پېژندل دلامکان

# خير البشره!

رحمة للعلمين خير البشره!    دکامل انسانيت اصلي مظهره

ته چي نه وي په جهان کښي رڼا نه وه    د ادراک اوشعور سترګي بينانه وه

تاکړه ورکه هغه توره تربږمی    چي نه لمرشوه ورکولی نه سپوږمی

سرټيتوب ورساوه تاترمعراجه    فرعونان دي کړه راکوزله تخت و تاجه

فقيران اوحقيران دي عزيزان کړه    سرکشان دي پخپل ځان پوري حيران کړه

انساني کرامت تاراووړانسان ته    بشري وروري دي راوړله جهان ته

په عالم کښي دي پېدانوی نظرکړ    چه قادردي په ليدودخېروشرکړ

جوړدي کړله ملتونو يوملت    دتوحيد د کلمې په برکت

دخداي کورکښي دي پرېښبودل بتان    مشرکان دي کړه دېوخدای بندګان

دسړيو جوړول دي لوی هنرو    که نه! يونوم دبوجهل اوعمرو

ډېربي لاري دي روان په سمه لارکړه    ناپوهان دي پوه په حق دموراوپلارکړه

ديتيم داوښکوقدردرسره و    دپېرزونظردي تل په بېچاره و

انساني حقوق دي ښځولره ورکړه
دعزت تیکري دي کونډوته په سرکړه

عدالت دي د تقواجزء وباله
مساوات دي په عمل کښې وپاله

که مسجددي جوړاوه که خندقونه
کړه دي نوروسره سم مشکل کارونه

غزاګانوکښې له هرچانه صابروي
په جهادکښې به شخصاًخپله حاضروي

مشکلاتوکښې له هرچامستقیم
خدای درکړی لوی دولت خلق عظیم

مړوي که څوک پوازې تش نسونه
تا مړي کړي وږي ستړکي وږي زړونه

موالي دي کړه سرلوړی په ایمان
دخپل کورسړی دي وباله سلمان

زیدغلام وپه قریشودي افسرکړ
دده ځوی دي اسامه لامعتبرکړ

په هغه لښکردي کړلوقوامانداان
چې عمراوابوبکرېې وسپاپان

نه پیداپه اسامه کښې شوغرور
نه اخلاص کښې دعمرراغی قصور

ابوبکر خلیفه دخپل زمان
په جلب داسامه کښې شوروان

دېنه لویه معجزه نشته ده بله
خوده پټه له نظره دغافله

تابدل کړه معیارونه هدفونه
لوړدي کړه له ټیټې سطحې نظرونه

ډیروخلکوته ښنلي تاغناده
لوی بخشش دي له غنانه استغناده

دادنیاوه ستا اصحابوته حقیره
پادشاهي به ځاربده ستاله فقیره

تادواکړه دبشرزاړه دردونه
وردي کړه دخپراحسان عفوې درسونه

پوه دي کړلو په خوړلودخپل قهر
په ظاهره کښې که تریخ دی لکه زهر

قهرمونږ خوري که يې مونږ نشوخوړلی
عفوه هغه کړي چې قهرشي زغملی

احسان نشي کړی چې قهرپرې غالب وي
قهرجن سړی دځان کله صاحب وي

تاصاحب کړمسلمان دښه تهذیب
مؤدب دي کړ په احسن التادیب

جوړدي نکړ له مسلمه تش عابد
ورنه جوړدي کړقایداومجاهد

څوک دي نکړه استعمال لکه دواب
پیروان دي خپل بللي دي اصحاب

لــه صــاحب نــه ښــه خطــاب نشــته هرګــوره | راشـــه! پيرمريـــــددې زمـــاني ګـــوره
مســـــلمان اوس دپيرانوينـــــدګي کـــړي | لاپــونيم ځانتــه نســبت دپيردســپي کــړي
ډيرافســوس دی نــن پــه حــال دمســلمان | خـــومره ټيټـــه مرتبـــه شـــوه دايمـــان
چيرتــــه هغــــه مســــلمان اوچيرتــــه دا | چـــې يزيـــدبـــې شـــواوامام اومقتــدا

# رحمة للعلمين

رب العلمـــين دي رحمـــة للعلمـــين ګڼـــي | نلـــري ثـــاني چـــې دي خـــاتم النبيـــين ګڼـــي
ډيــرخلــک دي وايســتل تيارونــه درڼالورتــه | ستالاس کښې رڼا مسلمانان نورالیقین ګڼي
تــه پــه مومنــانو مهربانــه لــه هــر چانــه وې | ځکــه دې رؤف رحــيم ارحــم الــرٰحمين ګڼـــي
ستاخلق عظيم خوپه قران کښې خدای ستايلی دی | نورخلک لاڅه چې مشرکان دې هم امين ګڼي
ډيــر دې لــه دوزخــه ګرزولــي دجنــت لورتــه | ښــا يي درســره چــه دې شــفيع المــذنبين ګڼــي
تامسلم پــه بعث بعدالموت بانــدې مومن کړلو | نــه مــري مومنــان آب حيــات داســلام ديــن ګڼي
غيـــب تـــه دې نظرمتوجـــه دمومنـــانوکړ | ځکــه حيــواني نظرســطحي اوظــاهرين ګڼــي
دې دنيانــه ښــه بلــه دنيــا ځـــان تــه مومن لــري | هلتــه مــومن هرڅــه لــري کلــه ځــان مسکين ګڼي
بارددنياهرڅومره کــه ســپک وي څــه پــروا لــري | تلــه دعمــل بــې کــه درنــه وي ځــان سنګين ګڼي

ستامينه مې بس ده چه له ځان سره بــې خدای ته ورم
ســـتا رضـــا "الفت" رضـــا د رب العلمـــين ګڼـــي

# دحج الهام

مختلف اومخالف بیل بیل قومونه ... چې تړي دحج دپاره احرامونه

له قومي لباسه هرسړی بهرشي ... دهرچاپه تن يولنګ اويوڅادرشي

کلتوري اختلاف لاړشي له نظره ... شاهي تاج شاهي خولۍ لوېږي له سره

نه چلتاردچاپه سرنه عمامه وي ... دافغان عرب اوترک يوه جامه وي

توروسپین عرب عجم سره يوشان شي ... دواحدملت مفهوم ډېرښه عيان شي

ځي طواف ته ټول په ګډه دخدای کورته ... بياپه ګډه شي روان دصفالورته

ګډه سعيه کوي هغه اوکه داوي ... په يوه لاره روان شاه وګداوي

دهرچاځای شي مقام دابراهيم ... دهرځای مسلمانان پکښې سهيم

په يوه ژبه هريوواېي لبيک ... هريوبل ته واېي السلام عليک

واړه واېي لااله الا الله ... واړه بولي محمدرسول الله

واړه يوپه کلمه دي د توحيد ... په وحدت کښې بې نه شک شته نه ترديد

هدف يودمسلمينو دجهان دی ... چې په کانو بې هرڅوک ولي شيطان دی

په رښتيا چه يوامت اويوملت دی ... محمداوابراهيم ته بې بيعت دی

ټول ولاړيوې قبلې يوه محبوب ته ... که بې مخ وي شرق وغرب شمال جنوب ته

يوجهت دی ځلوروواړه جهتونه ... په هرلورې يوشی ويني نظرونه

دشرقي اودغربي قبله يوه ده ... پتنګان له هرې خواډېوه يوه ده

نه شقاق شته نه نفاق نه اختلاف ... معصوم دی دنراوښځی ائتلاف

لارفث لافسوق لاجدال ... دحاجي اوحاجيې دی وصف الحال

هيڅوک نه دي بې احرامه ټول محرم ... مخ دی لوڅ ځکه چې نشته نا محرم

ډيرلوی درس دی داسلام حج اوعمره ... که شعورفکرونظروي چاسره

سم شعورپیداکړه مشعرالحرام ته — دزړه سترګې غړوه باب السلام ته

زمزم راز د یو مشرب دی د اسلام — دخلیل اومحمد خیرالانام

په حجرالاسود پړده دسترګو تور — په سواددمعرفت دخدای دکور

خاوندان دجواهرواوالماس — کړي دې کاڼي ته سر تیټ په التماس

خاتمه دحج ایثاراوقرباني ده — مال ښندل نفس خوارول مسلماني ده

صفارمزد شعایرودی هرګوره — په ظاهرنظرموره منیٰ مه ګوره

هلته هر ژوی له زیانه په امان دی — کان امناددې مقام احسان دی

حرکت سعیه دحج صحیح دستور دی — معرفت دعرفات اصلی منظور دی

لاضررلااضرارفی الاسلام — داسلام تعلیم دی دانه تش سلام

حاجي مه وړه جای نمازتسبې سوغات — دي دوړلوالهامونه حسنات

پس له حجه دې که ښه شوه کړه اووړه — په ربښتیادې بیت الله نه څه وېوړه

# دزړه مضمون

اند ښننې مې چه په زړه کښې لکه لال په جګر خون شي — پس له ډېرو زړه چاودنودرنګین شعرمضمون شي

زړه ته نورڅه پاتې نه دي ټول په شعراوبه شوي — دشاعرزړګی چې شین شي دادب ګلان زرغون شي

هنرغواړي زړه چاودنه اودزړه په وینوپايي — دغوټۍ دزړه مضمون خودلوستوبه زړه چاودون شي

طوفانونه دي پټ شوي دقلم هره قطره کښې — داشعاروبحرګوره سترګوروته جیحون شي

شخصیت وروورولوئېږي خلک ډېرروسته پوهېږي — دادنن ورځې شاعر به پس له مرګه افلاطون شي

# د کربلا الهام

کله کله توره شپه کښې فضاډېره ظلماني شي
بحراني مهيب حالت وي هواډېره طوفاني شي

تورې وربځې راخپرې شي پکې ورک شي اسمانونه
آپتونه راوربږي خطرناک شي بارانونه

سېلابونه راروان شي سراومال وي په خطرکښې
اضطراب وحشت اوډاروي زړه کښې سترګوکې په سرکښې

سياسي فضاشي خړه تندريزه اومهيبه
ډارحاکم فکر محکوم وي ژوند ببخونده بدنصيبه

ابوالهول يزيد پيداشي چه دخلکو باسي زړونه
ورسره په کربلا کښې يوبلا مصيبتونه

هيبتونه دهشتونه مسلط وي په هرچا
هرسړی وي وارخطا چه مهيبه وي بلا

هره خواوي تورتمونه عقل فکروي حيران
چاره ورکه وي هرچاته ببچاره ښکاره شي ځان

نشاط نه وي په حيات کښې دخندا قحطي ګراني وي
عذابونه عتابونه فشارونه مجاني وي

مايوسي پريشاني وي خوښي نه وي په عالم کښې
بلبلان باغ کښې کړېږي وي اورونه په شبنم کښې

دغضب حکمراني وي خوله خنداته نه جوړېږي
هرساعت بې قيامت وي هريوزړه کښې پټ ژړېږي

هيڅوک هيڅ نشي ويلی جرئت سلب شي له هرچانه
جهان هرچاباندې تنګ شي له هرلورې هرې خوانه

داسې ډېربدحالونه په انسان باندې راغلي
زلزلې او طوفانونه په جهان باندې راغلي

په همداسې سخت ساعت کښې پيداشوي لوی کسان
چه ځان نه سپاري طوفان ته اوسپرېږي په طوفان

دطوفان په سرنوح کېښود دبشردبقاپنډ
دتدبيرعزم په مخکښې طوفان کله ګرزي خنډ

که هرڅومره لوی طوفان وي عمربې لنډلکه ظالم وي
دنوح عمربې نصيب شي چه طوفان باندې حاکم وي

خاوندان د ارادوتل په جرئت مومي نجات
له خطرسره جنګونه حقيقت دی دحيات

نمرودان سوزوي اورکښې که دعصرابراهيم
حق پالونکوته نه ښايي چه باطل ته شي تسليم

که يزيدپه کربلا کښې ظلم کړی له حده تېر
شهامت به دحسين څوک ترقيامته نکړي هېر

**يزيد نوم داستبداددی دسمبول په حيث جهان ته**
**حسين ډېراعلی مثا ل دی دايمان اهل ايمان ته**

ظالمان ديوه کوردي که عرب وي که عجم
وي ابولولو که شمرکه رحمن ابن ملجم

يوظالم دی چې په يونوم اوپه بل نوم مسمی شي
سکندر وي بيا چنګېزشي بياتيموريااتيلاشي

په یزید باندې وربېږي ترقیامته نفرتونه    دحسین په غم کښې ژاړي جهانونه عالمونه
که جابرچنګېز هرڅومره په قدرت دی مشهورشوی    خوبیاهم جلال الدین ته په ستاینه مجبورشوی
هلاکوېدګني هرڅوک چه قاصدودهلاک    هټلران هرچاګڼلی دښمنان دژوندوژواک
ددجلې رودظالمانودانسان په وینو سورکړ    په وحشت بربریت بې جهان خلکوته تنورکړ
هغه څوک وچه بې جوړې دسرونو مناري کړې    چاودان ښارونه وران کړه ترېنه جوړې بې مېرې کړې
چادي سوي په اورونو بشري تمدنونه    چاوژلي دي فکرونه چاتباه کړه هنرونه
څوک دقهرقهرمان وپه بامیانو څه تېرشوي    غلغه کښې چه څه شوي دجهان نه دي هېرشوي
څنګه راغی څنګه لاړه له جهانه سکندر    څه بې وکړه دلته هلته ورشه وپوښته خبر
عجیبه غونډې جهان دی عجیبه بې دي کارونه    کله وران کله ودان کړي قدرتونه هېوادونه
سقراط فخردیونان ودیونان قدرت محکوم کړ    په زندان کښې بې دزهروپه پیاله باندې مسموم کړ
اصلي کوردفلسفوشوفیلسوف لره زندان    یونان ولې سقراط وژني سقراط ژونددی دیونان
په فرمان دروم مسیح دی په سولۍ خېژول شوی    اوس مرکزدمسیحي دین دلوی پاپ دی ګڼل شوی
دغه رازکارونه اوس هم په بل رنګ اوبل عنوان شته    په بل نوم بله څېره کښې جهانسوزجهانګیران شته
په دې زمکه نه مړېږي ددې عصرناپلیون    لاس بې واچاوه اسمان ته اوس سپوږمۍ ته لري یون
سل چنګېزه دي پټ شوي دا توم هره ذره کښې    دجم ډېرجامونه ګوره درادارپه آئینه کښې
ورانولوته جوړېږي ددنیا عمارتونه    تباهۍ ته خدمت کاندي ددې عصرتخنیکونه
استعمارکله ورکېږي جامه شکل بې بدلېږي    استبداد په نوې بڼه سیاست لره څوم کېږي
په دې څه که دظالم نوم ایښی پلاروي رحیم خان    په ښه نوم کله ښه کېږي چه بې خوی وي دحیوان
حقیقت خونه بدلېږي که ظلمت وبولونور    دهلک په جامه کله هلک کېږي دچالور
له تیاروسره رڼاوي همېشه لاس وګرېوان    په هروخت کښې په جګړه وي اهریمن سره یزدان
ظالمان په ایماندارونښي کړی حکمراني    دظالم ظلم ته غاړه کله ږدي مسلماني

غرقیدونکی دی غرقیږي که فرعون دی که قارون
چه پیداشي په ولس کښې یوموسی اوبل هارون

دنمرودامرته غاړه نه ده ایښی ابراهیم
دفرعون قدرت ته کله تابع شوېدی کلیم

اسلام نه مني هیڅکله دیزیدمتابعت
حسین سرشي ورکولی نه لاسونه دبیعت

محمد اومومنانوکول ځکه جهادونه
چه دخدای په لاره سم کړي دابې لارې قدرتونه

داسلام روح دی جهاد، نارواسره عناد
حمایت دمظلومانو، ورکول دهرفساد

هغه کله مسلمان دی چه خرکېږي ددجال
وظیفه دمسلمان ده له دجال سره جدال

چاچه یوقدرت منلی په جهان کښې دالله
اصلي کار بې دی جهان کښې جهاد فی سبیل الله

مومن کله شي منلی یومطلق آمریت
اولوالامرداسلام دی مقیدپه شریعت

مکلف په مشوره دی اولوالامرداسلام
بې نیازه مشورې نه کله وخیرالانام

په هغوتل مسلط وي ظلم جبرقهرزجر
چه په ظلم کوي صبراوله خدایه غواړي اجر

حقیقي مسلمان نه دی دا ایمان څه ایمان نه دی
چه حسین غونډي یزیدته تېنګ ولاړ په میدان نه دی

اسلام نردی اونرتوب دی شهامت زړورتوب دی
نه ژړانه انګولاده نه دظلم مرئیتوب دی

په یوازی ژړاباندی حسین کله خوشحالیږي
پیروی دحسین وکړه که حسین دې ډېرخوښېږي

یزیدان ځومره ډېرشوي یوحسین نشته جهان کښې
دجهاد درس چاوانخیست مهجورپاتې شوقرآن کښې

ومنل مسلمانانو داسلام اسان امرونه
سرسایه ورکوي خدایه! نه دحق لار کښې سرونه

نوافل ئې دي ټینګ کړي واجبات بې دي هېرکړي
نوربې هرڅه دي ترک کړي او رادونه بې ډېرکړي

داسې خواره زاره نه وه حقیقي مسلماني
څه شوه چېرته لاړه هغه دایمان قهرماني

مسلمانه! با ایمانه داغریب دین معتبرکړه
په دین سرورکړه او دین بیا دپخواپه شان سرور کړه

انتقام دحسین واخله دخپل عصرله یزیده
ورک دزمکې خدایان کړه الهام واخله له توحیده

حسین توبې کړلې وینې ته پرې اوښکې تویوې
ځای دوینو اوښکوونیو څه یې وکړه څه کوې؟

راشه ! بس کړه ژړاګانې ظالمان وژړوه
حسین ظلم قبول نکړترې مظلوم مه جوړه وه

دهغه سر، سرلوړي ده ددنیا چت نه اوچته
چه په مرګ ئې ځان خلاص کړی دذلیل ژوندله ذلته

په حسين باندی مه ژاړه په هغه مظلوم وژاړه
چه ظالم ته ټيټوي سر مظالموته ږدي غاړه

دژړادواوي لادي دكوفې مسلمانان
جلادان داهل بيتو ديزيد خاص بندګان

دمسلم په حال به ژاړو څنګه وځنګه شو خدايه
دبوم سوري ته پناه وړي ښه يې بولي له همايه

ديزيد فرمان منې اونه منې دخدای قرآن
داسلام منبرته وخوت خجالت دمسلمان

مدينه كښې خونريزي كړي په مكه وړي يرغلونه
دعلي اوامامانو كنځل ځای شوه منبرونه

قرآن منع مسلمان كړ دكفارو له كنځلو
خطيبان يزيد مجبور كړه علي ته په پوچ ويلو

ژاړه ژاړه مسلمانه دمسلم په داسې حال
دصديق، عمر مقام كړيزيدانو چه پايمال

دعمروينو ته تېری چه وه فتنة الكبری
كربلا كښې شوه هر ګوره لكه طامة الكبری

په وېښته دمحمد ئې وركول چه خپل سرونه
دحسين سروړي يزيد ته نن دهغو اولادونه

خومره فرق څومره ژرراغی مسلمانه ستا په حال كښې
چه هېڅكله ګرزېده نه دچا فكر دچا خيال كښې

نن اسلام خدايږو شرمېږي په عمل دمسلمان
په تش نوم باندې مومنه! داسې كله وايمان

سياست اسلامي نه وي كه اسلام وي سياسي
سياست ددين خدمت كښې سياست دی اسلامي

دقسم دپاره ساتي قرآن كور كښې قرآن خور
اديرو كښې لوستل كېږي قبربانديې دسودخور

په ژوندهېڅ كارترېنه ناخلی خوپه سقاط كښې وېشل كيږي
درنګ ساعت ته چه مړكېږي نويسين پرې لوستل كېږي

دادخدای كتاب چه كړه بې راژوندي مسلمانان
جنازوسره بې وړي اوس، هديروته بډايان

داسلام ډېوه چه مړه شي دزيارت ډيوه بليږي
دبې روحه اسلام قدر ځكه ورځ په ورځ زياتېږي

په ژوندي حسين څه وشوه؟ دمزار قدربې ګوره
په همدغه ځای "الفتح"! داخبره پرېږده نوره

# سترګه دسبايمه

نه يمه خبرچې څه وايم اوچاته وايمه
زړه کښې مې څه دي ورسره زه هم نااشنايمه

غوارم هغه څه چې هيڅ اثر بې لاپيدانه دى
نه بې پېژنمه دمجهول په تمنايمه

تول راته ويده ښکاري يونيم چيرته ويښ وينمه
داسې معلوميږي چه زه سترګه دسبايمه

ډېر فکرکوم دزړه په وينوڅه ليکم درته
مه کوه ګمان چې تش په ژبه زه ګويايمه

ډېر ررازونه پټ زما ساده غونډې انشاء کښې دي
ګوره په يوه معناکې بيا بله معنايمه

پټ په فصاحت په بلاغت په صراحت کښې يم
رمز يم اشاره يم کنايه يم معما يمه

اوښکې مې له سترګورابهيږي په خنداکښې تل
ژاړم په خنداکې که ژړاکې په خندايمه

تورې تربږمى نه تکه سپينه معناباسمه
ځکه توروزلفواوسپين مخ باندى شيدا يمه

خوارغريب ماشوم يم هيچانه يم پېژندلى لا
هيڅوک نه پوهيږي چه فرعون لره موسى يمه

مادشعرتوروکښې دژونداوبه موندلي دي
کله مړي اشعارزمادشعرمسيحايمه

نه دخان نوکر يم نه مريد دکوم صاحب يمه
يم وکيل دخلکو شاعرهم په دې معنايمه

لوړځاى راته ښه نه دى له لوړې هواتښتمه
لويه ننګرهاره! زه ژوندى ستاپه هوايمه

# قهرمانه پېغله

په ښايست کښې درخانۍ سره وه سياله
قهرمانه دميوند پېغله ملاله

ښکليتوب بې نارينتوب کښې و پټ شوى
څوک بې هيڅ نشوخبرله خط وخاله

دجلال قصې بې هر چېرته کېدلې
چابې لري پلونکړله جماله

ګلالۍ پېغله وینا چې وي نقاده
مبارزه مجاهده زمریاله

دښکلاشهۍ وي پتېه شهامت کښې
زمری جوړشي دغزلې له غزاله

څوک بې نه ویني ښایست شجاعت ویني
که هرڅووي په ښایست کښې بېمثاله

ددرخودعشق سندرې ترې مه غواړه
د "الفت" طبع هرګوره ده ملاله

# پیر

که حرام خوري که روژه خوري که ریاکړي
مه وایه! چې پیرګناه کړي یاخطاکړي

اسلام ځي مګرپیري نه ځي له پیره
که هرڅودنیاته مخه دین ته شاکړي

عقیده دچاپه پیرنه خرابېږي
که خراب خراب کارونه برملاکړي

خلک به وابې تلاوت اوتهجدکا
ټوله شپه که فاحشوسره سباکړي

له نیکونونه نمسوته پاتې کېږي
ددرګاه له سپي سره پیري وفاکړي

# ملي حماسه

پخوابه په وطن خلکو سرونه ورکول
سرتېرو ته یې زړونوکښې ځایونه ورکول

مېړانه سربښندنه وه هنردافغانانو
بې ننګوته به هرچاپېغورونه ورکول

دننګ غیرت خبروبه پیداکړه طوفانونه
سړوسړوجذبوته یې تاوونه ورکول

ملي حماسه نه وه بې اثره بې تاثیره
ملالې چه میوندکښې شعارونه ورکول

مومن ته دخدای نوم اسم اعظم وپه رښتیا
یوالله اکبر څه جرئتونه ورکول

مرګ نه وافتخاروحق لارکښې شهادت
شهیدته ښایسته حورو ډک جامونه ورکول

نن هغه قوت څه شو چېرته لاړه ځنګه لاړه
فرنګ ته بې چه بیابیا شکستونه ورکول

اوس مونږکې بدلون راغی اوحالاتوکړوبدل مونږ
حالاتوته به مونږچې بدلونونه ورکول

مضمون دازادۍ زمونږ په سرووینورنګین و
زمونږ وینو تاریخ ته عنوانونه ورکول

په تورو، نه په تورو مونږ تعلیم نوروته ورکړ
بې زړوته مودځان په شاني زړونه ورکول

مونږهغه وخت مات کړی استعماردپرنګیانو
چې نوروپه دوه لاسوخراجونه ورکول

راځئ!چې خلک جوړکړوخلک به جوړکاندي کارونه
په کارنه دي ناجوړو ته کارونه ورکول

څه خلکوکې پیداکړئ چه پخپله څه پیداکړي
ترڅوخواروغریب ته خیراتونه ورکول

اساس دترقۍ اوډېرمهم اصل بې بوله
اشخاصوته اصلي شخصیتونه ورکول

# وطنه

وطنه! ښه دي آب وهواده
ځومره دي زیاته طبیعي ښکلاده

لمردي اسمان کې څه ښه ځلېږي
ډیوې دستورودشپې بلېږي

بهېږي هرلورمست مست سیندونه
په غورځنګونودي ابشارونه

وږمې دګلوڅپې څپې دي
بلبلان مست دي مستې نغمې دي

ځولۍ دي ډکه له نعمتونو
سینه دي ډکه ده له ګنجونو

مېوې دي ځومره خوږې خوږې دي
په شنوباغوکښې مزې مزې دي

خاوره دي ډېره ده حاصلخېزه
نه ده لوېدلې له زوراوخیزه

غروته دي ګورم رمې رمې دي
کروندې وینم غلې غلې دي

هرڅه دي ښه دي خوبده داده
کورکې دي غله دي هرڅه کښې غلاده

ته ډېرغني یې مونږ فقیران یو
ستادومره شتوکې ولې خواران یو

که ته زمونږ یې اومونږه ستایو
ولې بې برخې اوبېنوا یو

هرڅه په لاس کښې دیوځوتنو
دبډایانو دغلو رهزنو

مونږ په خواریوپه زحمتوکې
ځوصاحبان دي مست په نشوکې

ورته غړېږي تل سرودونه
دوئ دي اوښکلي تل وصالونه

نورڅه نه کاندي بې عیش ونوشه
کله بېهوشه کله مدهوشه

کـه دي نـاولي دي نـازولي — هرڅـه چـه کانـدي خـودي ښـاغلي

مونـږ بـه ترڅـو يوتحـت الثـرى کـې — ثونـازولي پـه ثريـا کـې

ترڅوبـه مونـږ خـوري هغـه ثوتنـه — چـې پـه دردنخـوري دتاوطنـه

ترڅوبـه مونـږ يوپـه هـيڅ راضـي — دحـق غاصـب بـه ګنوقاضـي

يوبـه بـې آبـه هـم بـې خـوږو — سـتړي خـدمت کښـې دثومـږو

راځـئ! ملګـروتيننګ عـدالت کـړو — وضـع بدلـه بـدل حالـت کـړو

هـيڅ شـى ورنکړوچاتـه بېکـاره — ژونـدون روان کـړوپـه نـوي لاره

ديـوه ګټـه بـل تـه ورنکـړو — يوانسـان بـل تـه لکـه خرنکـړو

شخصـيت ورکړوخواراوحقيرتـه — ډوډى پيداکړونادارفقيرتـه

انسـان ازادکړودبـل لـه قيـده — دظالمانولـه مکروکيـده

آزادي ورکړوفکراوخيـال تـه — نـه بـاداری تـه جـاه وجـلال تـه

راځـئ! چـې حـق دانسـان اداکـړو — نـه يـې غـلام کړونـه يـې آغـاکړو

نـه يـې ګـداکړوبل تـه محتـاج — نـه يـې راجـاکړوچي اخلـي بـاج

نـه يـې ظـالم کړواونـه مظلـوم — نـه ډېـربـې قيـده نـه ډېـر محکـوم

دومـره يـې مـوړکړوچي روغ وجـوړوي — نـه چـې پـه ډېروخوړونـاجوړوي

ډېرزيـات مړښـت دى ژونـدون تـه زهـر — ډيـره غنـاده دګنـاه مهـر

بـدهاېـي څـه ده جـوع البقـردى — حـرص دغناخواصـلي سـقردى

غنافاحشـه ده فاحشـه — عفـت وژونکـى شـهوت پېښـه

بنديزيـه کـاردى پـه غنابانـدي — نـه دفکرونوپـه دنيابانـدي

هيڅـوک دي نـه وي دلتـه قـارون — وي دي پـه فکـرکښې افلاطـون

دانسـان فکراصـلي انسـان دى — کـه فکرنـه وي خوشـې حيـوان دى

کـه لاس پښـې وي پـه ځنځيـرو کـې — فکـردي نـه وي پـه زولنـو کـې

چاچه وژلي آزادفکرونه  جهان پرې وا يي اوس لعنتونه
دسقراط مرګ دی پيغورجهان ته  فکروژونکو دزوړيونان ته
مسيح وژلی دروم قدرت دی  قدرت ته ځومره لوی خجالت دی
دښمن دفکرهرابوجهل  زندان دفکردخلکوجهل
دېروپوهانو ورکړه سرونه  چې ازادکاندې اسيرفکرونه

# ګل پرسته

تاته وايم تاته وايم ګل پرسته  دنارنج دګل په مست بوی باندې مسته
داهوا اوفضاچاکړه معطره  چاداخاوره له عنبروکړه بهتره
چاسمسورکړه دغه سره اوشنه باغونه  چاکړه جوړدرته دنياکې جنتونه
ځان خبرکړه چې دچاپه کاراوزيار  سينګارشوېده وادې دننګرهار
ګوره! څه جوړشوه دکارله برکته  دانسان دکاراوزيارله مشقته
دلته هلته چې هرڅه کې ښئې ځان  بل شی نه دی کاراوزياردی دانسان
دابنايسته ګلان چې وينې په باغوکې  څه چې اورې دبلبلوپه نغموکې
ددهقان اودباغوان دلاس اثردی  ګل پرست بلبل له حاله څه خبردی
داسرخې چې په دې سروګلوکې وينې  فکروکړه دې دچادځيګروينې
که عرق دګل عطارپلورې په تا  دې خولې دکاريګرنه دبل چا
راشئ! ونمانځو دګل په ځای ماليار  د کارخلک کاريګرستايي اوکار
دماليارقدرکه نه وي تش دګل وي  فرق به څه دبنيادم اودبلبل وي

لږڅه پوه شه! دچاسيوري لاندې ژوندکړې
چاد ګلو په وږموباندې خورسندکړې

# تلوسه

بياناڅاپه زړه ته راغله تلوسه دشعرويلو
دښايست انځورولودمعناسينګارولو

ذوق وشوق، ميل ورغبت بيازړه ته هره شېبه وائي
دګلزارلورته دتللو، په يوچا، د زړه بايللو

چې مې چتې نيوې نشو، نه په منډويوچرګوړی
اوس مې خيال په زړه کې ګرزي دعنقادرانيولو

پس له ډېرې دلسردۍ نه تقاضاده پيداشوې
سرولمبوته دلوېدلودبتانوماتولو

په رنځوراوضعيف زړه کې بيا جذبه شوه رااوچته
دجرئت پيداکولودبېرغ اوچتولو

بيامستې ده راروانه دخراب زړګي کاله ته
لکه ورانوکنډوالوته ماشومان په ځغلېدلو

دهوس کوردې ودان وي چې ساړه زړونه تاوده کا
داسرواونووهيلودډيووپه لګولو

عقله‌ته‌اوس ځان راټول کړه چې په زړه کې ځای پيداشي
دهوس ننوتلو دامېد دغځېدلو

دزړه کورکي چې دعقل درونډ اوغلی بوډا ناست وي
ماشومان دهوسونو رغبت نه کادورتللو

غوغا خېززړګی په کار دی شاعرانو ته هرګوره
د سکوت طلسم مات کړه د شپيلۍ په غږولو

دارڼاکه دسباوي که دچرګ اذان رښتياوي
دغه وخت دی دجذباتواواحساس دويښولو

مرورزړګی مې غواړي بياله ژونده سره جوړه
دوطن دعشق اومينې دغوغاپه جوړولو

هنګامه دژوندانه دي خدای هيڅکله غلې نکړي
دجذباتوپه وژلواودژبوپه تړلو

بې غوغا نه وي تېولنه مه وبربړه له شورونو
فسادونه ولاړېږي له ډک زړوپه خوله غلو

کينه نه ساتم په زړه کې څه چې وي هغه به وايم
خدای دې نه کاڅوک خوابدی په رښتيارښتياويلو

# مړي ژوندي

ډېرژوندي دي شي هغه مړي نه ځار
چه په مرګ بې شي ډېرخلک ناقرار

معنوي ژوندېي له خضرنه کم نه دی
چه په چاانسانيت کړي افتخار

مړهغه دی چه ژوندی په مړه حساب وي          نه مري هغه چه ژوندی بې وي یادګار

ډیرژوندي مړه دي اوډیرمړي ژوندي دي          مړه وي هیرژوندي په یادوي دروزګار

هرافغان ته الفت دومره پوهه غواړي          چه د مرګ وژوندتشخیص ته ده په کار

# دمورمینه

څوچه زمکه،اسمان اودنیا شته          دمورزړه کښې دمینې رڼاشته

که هیچاسره هیڅ ځای کښې نه وي          مورسره محبت بی ریاشته

دمورمینه دمینومورب وله          که دې مینه په خوریالالاشته

دلیلی محبت کښې هرګوره          دمورمینه دمینی ترشاشته

ټول عالم پې که بدګڼي موري          په اولادپېرزوینه دتاشته

ستاپه مینه کښې نقص نه پېښېږي          تاسره سرمایه دبقاشته

تاته وي لکه توردوه سترګو          که دې غېږه‌کښې اولادنابیناشته

ژوندون تاراښلی دی موري          له ژوندونه نورڅه شی اعلی شته

مااول دي وتاته ژړلي          بل ځای کله دچادژړاشته

جنت ستا قدم لاندې دی موري          تردې لوړمقام کله دچاشته

که زما په سروي داستاسیوری

نه حاجت دطوبیٰ یاهماشته

# موري!

موري چه خدای له تاپیداکړمه          ګران بې له هرچانه په تاکړمه

له خپله ځانه لا خبرنه ومه          چه تاله ځان سره اشناکړمه

په مینه مینه به دې ماته کتل — دمینې کیف ته دې بینا کړمه
په ژبه پوه نه وم په مینه پوه شوم — پوه دې بې لفظه په معنا کړمه
ورووروډې راوستم خبروباندې — راغلی ګونګ وم تاګویاکړمه
پاک به دې کړمه چه خیرن به شوم — لکه ښیښه به دې صفا کړمه
خوب به دې نه وترسحره پورې — چې لړخه دردبه په ژړاکړمه
که وطن چاڼ کړمه په مینه پسې — که لټ په لټ دغه دنیا کړمه
بې ریا خاصه پاکه مینه به ستا — کله په بل زړه کښې پیداکړمه
دمحبت غبړکښې دې وروزلم — په عواطفودې داناکړمه
اشنادې کړم له خوشحالیوسره — تاپه مسکاتاپه خنداکړمه
که وایم ستا غېږ کښې جنت وزما — پوه شوی نه یم اشتباه کړمه
جنت خوتیټ ستاله قدم لاندې دی — په اعلی حکم دادنی کړمه
رب مې دی خدای اومربي مې ته بې — پیداکړم خدای تاتواناکړمه
ودرولم تا پخپلوپښو — بیادې بلد په ګرزېداکړمه
څومره وړوکی و مه لوی دې کړم — یوه قطره وم تادریاکړمه
دورورولی، په رابطه باندې تا — دچا روکی دچالالاکړمه
درس ته لیږم تا په څه زاریو — په څه خواریودې ملا کړمه
چه ظلمی شومه هم دې پرې نښودم — دبل دپاره دې داداکړمه
تاسړی کړی یمه ګرانې مورې — دکارسړی که کړمه تاکړمه
ستااحسانونه بې حسابه دي — ستاکوم یوحق به زه اداکړمه

نوروته لوی تاته وړوکی ښه یم
ځان به وړوکی درته بیا کړمه

# قدراو مقدار

دچافخردسیسی، زرکې په ښکار
دبل فخر په وژلودښامار

دوړوکي کاروړوکی دلوی لوی
دهرچاقدر دخپل کارپه مقدار

دعقاب پروازته ګوره چرګ ته ګوره
چرچرک چېرته او چېرته موسیقار

چاسره نقشه وړه چاسره لویه
یوبه خونه جوړوي بل به لوی ښار

څوک سینګارکوي څوک کارکوي څوک لوبې
ملتونه جوړوي ملي معمار

عادي خلک به کوي عادي کارونه
نوابغ لري په کارکښې ابتکار

دتاریخ جبرکوي لوی لوی حکمونه
څه رااوزي جریده کې دروزګار

ډېره لویه غبرپه کارده مستقبل ته
لوی جریان کښې بې چې ښکاري څه آثار

زړونه داسې ګواهي لي چه هرګوره
نوي نوي څه راوړي لیل ونهار

لوی بدلون دی راروان په دغه لوري
وڅارئ دشپواوورځولویه لار

ډېرڅه وړي ډېرڅه راوړي انقلابونه
نه پرېږدي یوسړی خورداوبل خروار

ولسي نظام هرڅه خلکوته سپاري
هم دکارمسئولیت هم اقتدار

مساوات نشي راتلی څوچه هیوادنه
باداري آغائي کډه نکړي بار

عدالت که راځي ظلم به ضرور ځي
واقعي دموکراسي غواړي دا کار

چه نظام ولسخورنه وي ولسپال وي
نه وي څوتنه ډېر چاغ نور خوارو زار

که ببو د استبداد را باسي زړونه
جمهوري نظام له زړونوباسي ډار

چه پیداشي اطمینان خوښي په زړوکښې
نیسي ځای دخلکوزړونوکښې سرکار

بدبیني بدګماني غلط فهمي
نه وي خلکوکښې چه خلک وي امېدوار

ژوندي کېږي امېدونه اسرې هیلې    په افسون دمحبت په ښه کردار
علاقه نظرهغسې نه جلبېږي    لکه څوک چه جلبوي علاقدار
نه په چل باندې کېدی کیدی شي نه په جبر    څه چه کاندي شخصیت دیوکاردار
زړه چه ښه شي په ښه زړه بیاهرڅه کېږي    هغه کېږي چې نه کېږي په اجبار

# صاحب

خپل تورمخ نه ویني خودبین نه دی    خپل بد لېدی نشي بدبین نه دی
که حق هرڅومره وي ظاهراوباهر    ورته نه ګوري ظاهربین نه دی
دعدالت تلې ته ګوري کله    دچاپه شانې پله بین نه دی
هغه دې مخې لره نه ورځي هیڅ    چه ډېر پېمخی ماه جبین نه دی
ورته مه وایه! دنیازمنو بدحال    صاحب نازبین دی نیازبین نه دی

# سپك نظر

درانه پېټې په مایه اوښانوبارو    یوپه بل پورې تړلی لوی کتارو
غرغرې وې بادېده له خولې زګونه    غړمبېده اوښان له څرمې ډېر په قارو
یولوربل لوربه بې غاړې غړولې    سم په لاره باندې نه تله ناقرارو
دکتارمخکښې ساروان و په خره سور    اوپه خره پسې مربوط داوښ مهارو
مشکل نه وتحمل ددرنو پېټو    لوی مشکل په یوه خره پسې رفتارو

داذلت د اوبښ همت نشوزغملی
ورسره ځکه احساس دننګ وعارو

اوبښ ویل مادانسان بارونه وړي
په دي کارکښي کړی ماکله انکارو

سرکشي مې کړې نه ده له انسانه
زما مدارمې که ناپوه اوکه هوښیارو

په هرلوريږورپسي یم روان شوی
که په لاس کښي دماشوم زما مهارو

مګرخره پسي دځان ترل نه غوارم
ماته دومره سپک نظرکله په کارو

انسان څه چه اوبښ بې هم تحمل نه کا
سپک نظرګوره له هرباره دروندبارو

# مساوات

منظومه ترجمه

حیوانات دغرو- رغواودځنګلونو
په جرګه سره راټول شوه په سوونو

وېلې مونږ به ترڅوګرزوبې نظامه
راشئ!جوړکړو لوی مجلس داولسونو

دوئ به جوړکاندي قانون زمونږ دپاره
دانصاف اوعدالت په اساسونو

دځنګله قانون اوس بد ښکاري هرچاته
مونږ باد برودوحشیانوپه نومونو

مونږلا پاتې په زاړه حال یوتراوسه
څئ چه تېرشوله زړو زړوخیالونو

جرګه جوړه شوه مجلس هم افتتاح شو
وکیلانوشروع وکړه په نطقونو

سوی ویل چه مساوات ډېرښه اساس دی
تېیت وپاس دي مینځکښې نه وي دحقونو

په دي پوه شئ چه مونږ واړه برابریو
وباسئ! دتفوق خیال له سرونو

ټول به حق دژوندلري په دي وطن کې
برتري به نه وي هیڅ دنژادونو

دغه رازخبري نه وي لاتمامې
قطع نه وه سلسله دتقریرونو

چه مجلس کښې سراوچت غیظ وغضب کړ
حالت بل شو تبل وخوړقوتونو

لېوه وغړمبېدپه قهربې سوی ته و وې
راته وښیه! منګولې دلاسونو

نه دي داړې زما په څېر نه دي نوکان دي
برابربه څنګه شوېه تش حرفونو

په دادومره وړه خوله لوېې خبرې
حماقت دی تجاوزدی له حدونو

دي ویناسره بیاسوی په وینو سورو
لېوان ګډوپه رموکښې دپسونو

مجلس ختم شو هیبت په ټولوراغی
لنډوعمرددارنګه صحبتونو

# مانیجن

سرکښې دلښکرخوروان یم مګرافسرنه یم
لکه په کلام کښې مبتدایمه خبرنه یم

یم بنیادي کاڼی ددې لوېې ودانۍ ځکه
خاورولاندې یمه څوک مې نه ویني بهرنه یم

ستادمخې سپریم اودتوروګذارونه خورم
جنګ جګړه چه نه وي بیالایق ستادنظرنه یم

هرڅه زما په سردي په وطن باندې مې سرایښی
نه وایم سرداریمه خووایمه بې سرنه یم

وینم ګورم اورم چه نورڅه کوي مونږ څه کوو
ستا نوکرکه یمه مګرګوره کوروکرنه یم

یم لکه زیتون په توروغرونو اورغونوکښې
لوی بې تربیته شوم خوبیاهم بې ثمرنه یم

دازمانصیب دی زه همدغسې راغلی یم
زړه بایلم په هرچا زه دهیڅ یوه دلبرنه یم

زه به غریبي کړم ته زما په سرخاني کوه
تابه معتبرکړم که زه خپله معتبرنه یم

څوچه یولرنشي بل یوکله برکیدلی شي
ځکه مانه برېږي چه زه ښکته یمه برنه یم

ته له مانه مخکښې په دې راز ښه پوهېدلې بې
ستادسردعاکومه ځکه چه زه سرنه یم

# نن اوپرون

دنن فخردپرون ورځې پېغوردی
دپخواوختوبیناوس کروکوردی

دپرون مېړمن وه سل پردوکښې پټه
اوس بې نیمه تنه لوڅه سر، سرتوردی

تقاضادزمانې ګوره بدلېږي
کله یخ سیوری په کارکله سوراوردی

کله وچ زور حکومت کاپه جهان کښې
کله تندردباران په ښاخکوسپوردی

چاوې زوړحاکم په نوي بدل شوی
که رښتیا وي زوړ حاکم خو ظلم زور دی

وابې چوپ شه ! غلی اوسه هیڅ مه وایه
له منطق نه د ناطق حیوان زړه تور دی

چه بې توروديپه توروسپین خبرکا
جهان ځکه سبا سپین بېګاه ته تور دی

# دزړه د نیا

لاس به هیچاته کله اوږد نکړي — که دي ترلاسه دزړه دنیا کړي

ډېر سوغاتونه ډېر دولتونه — له تاسره شته که یې پیدا کړي

دزړه په کورکښې شته جهانونه — که دزړه خونه لږ څه رڼا کړي

که پخپل زړه کښې رڼا نه وینې — ړونده! مه وایه خدایه سبا کړي

# څه کېږو؟

مونږهم زړه لروښه ژوندته هوسېږو — چه دنوروترقي وینوپخسېږو

اسرې هیلې امیدونه لروزړه کښې — خوهیڅ نکړو تشه طمع کښې اوسېږو

ډېرمین په ازادۍ دموکراسۍ یو — چه ډېرلږورته نږدې شوترې وېرېږو

نورڅه نه وینو بس وینوښه خوبونه — په واده دخوب خونه پلرونه کېږو

داچه مونږ هرڅه کوو زمونږکارنه دی — خدای خبردی چه دچالاس کښې لوبېږو

ته خپل کارپه بې غمۍ کوه رقیبه! — مونږ پخپلوکښې ډېر وران یو نه جوړېږو

فرېبونه راکوه نورڅه رانکړې — که سل ځله وغولېږو بیا غولېږو

زوروره! ستا چاړه زمونږه غاړه — دقانون په حکومت مونږ نه پوهېږو

دوه قدمه که په مخ ځودرې په شټ ځو — په دارنګه تګ کوم ځای ته نه رسېږو

ماشومان دي چه لوړېږي کال په کال

مونږ زاړه هرکال له بل کاله ټیټېږو

# سیاست

سیاست دعقل ،فکرزرنګي ده　　خوکه ځان ځوک زرنګ ښئي لودګي ده
چل، فریب ،ټګي ئې وه توښه دلارې　　چه راغلې له کاله دفرنګي ده
په زړه یو رازپه خوله بل راز عمل بل راز　　دظاهرباطن خلاف فرزانګي ده
سیاست اواخلاق نه سره جوړېږي　　دیزید اود حسین بېګانګي ده
په مطلب ئې هرڅوک نشي پوهېدلی　　اشارونه جوړه ژبه دګونګي ده
اتفاق کښې بې نفاق پټ دی هرګوره　　آزادي بې په بل ډول بندګي ده
منګی ډک وي له اوبونه خوله ئې وچه　　سیاست سره همدغه شان ټګي ده
ټګي مه کوه دبل په ټګی پوه شه!　　په ټګی نه پوهېدل خوسادګي ده
دشپو ورځو له رنګونو معلومېږي　　زماني بده ګڼلې یکرنګي ده
چه هروخت کښې ډېره ښه ښکاري هرچاته　　دسپین مخ اوتوروزلفو دورنګي ده
دژوندون تابلوته ښائي ډېررنګونه　　څه بېخونده په یوه رنګ زندګي ده
چه مدام په یوه رنګ باندی لیده شي　　توره ورځ دغریب ښه دزنګي ده
ټول عالم که مددګاردبېچاره شي　　بیاهم ګوره داچاره بېچارګي ده
چه ژوندي غواړي له مړونه مرادونه　　دغه رنګه زندګي خودمرګي ده

# سرنوشت

سرنوشت ګوره چه څوک څنګه څه شان ورکوي　　زاړه مړژواندي پرېږدي پېغلې ځوانان ورکوي
دورکولوکارکښې مهارتونه لري　　څوک عیاشی کښې ورک کړي څوک په حرمان ورکوي
کله مغرورکړي سری ښوښوچانسونوباندې　　دومره بې کړي معتبرچه بیا خپل ځان ورکوي
ته چه هرفکرکوې زه درته دومره وایم　　که بې وزرونه ورکړه پوه شه!مېږیان ورکوي
داسیاست زوړشوی چه لور پرېږده څوی وژنه　　اوس دنرتوب په وژله ابن عمران ورکوي

يوسړيخورسياست خوري شخصيت دسړي    دسرسړي نه پرېږدي قهرمانان ورکوي
دبدبينۍ تياره بې دومره کړه زياته چه اوس    داجل وهلي خلک آب حيوان ورکوي
بدګمانيوهريوبل ته تک توروښوده    خلک دغلوډله کښې اصلي کاروان ورکوي
يوبل پسې لاڅه چه، يوبل سره هم نه ځي    په داسې حال کښې زړونه خپل اطمينان ورکوي
ډيروخپل پل غلط کړاوپه غلطه لاړل    ملامت نه دي خلک که رهبران ورکوي
چه غريبي کړي ورکه له کوروکلي ځنې    دغريبانو دښمن غريبان ورکوي
چه خاين ورک شي بيخي اوڅوک بې نوم وانخلي    دارالامان کښې بې هم دفتر، ديوان ورکوي[1]
که نامطلوب شي وزيرنوسفارت ته بې لېږي    ګوره هيواد نه څنګه بدبد کسان ورکوي
خدای دې خيرونه ورکړي چه څه ړانده خو پالي    چه له نظره نشي نظربازان ورکوي

# بې جلبه زور

چه بې قيده بې جلبه زوردهرچالاس ته ورشي    عقل بې کوچ وکړي له سره رحم بې زړه نه رابهرشي
مجاهددآزادۍ چه اقتدارته ورسېږي    بياهماغه سړی ګوره ازادۍ ته لوی خطرشي
دقدرت هضمول ګران دي دادهرسړي کارنه دی    خيال بې بل فکربې بل شي چه بې لاس په نوروبرشي
دهاتيانووخت تېرشوی اوس قوي ماشين په کار دی    چه پخپل سرباندې نه وي اوپه سموچاروسرشي
تحمل دانتقادخوضعيفان نشي کولی    ډېرقوي سړی په کاردی چه داپېټی ورپه سرشي
شجاعت اوشهامت دی که څوک حق شي اوربدلي    په دې رازباندې هرګوره ديموکرات بايدخبرشي

[1] ددارالامان حريق ته اشاره ده چه دخاينوټيکه دارانودخيانت دوسيې پکښې وسوي

# ملي شورى

۱۳دوره

نه پوهېږم چېرته به داسې شورى وي ... چه دڅېرې واک اختيارئې دملا وي

کله اوركله اوبه وي كله هيڅ نه ... ګاه دوسپنونينې ګاهې حلواوي

څه چه نن كاندي تصويب سبابې ردكړي ... په هرآن كښې په غضب هرآن پخلاوي

تصميم نيسي ماتولوته هرګوره ... ماتول دخپل تصويب بې مشغولاوي

يووخت سپينه رڼاورځ توره شپه كاندي ... بله ورځ ورته تورتم سپينه رڼا وي

# د خان مهرباني

خان ته سربښكته كول سرګرداني ده ... دپښونه ده دزړونو ستوماني ده

دادروندپېتى چه په سربې ګرزومه ... سردې وخوري دچنګېزدوخت خاني ده

خربشوى چه ورته وائي پرې اخترشي ... په نوكردخان همدامهرباني ده

غولول چل اوفريب هوښياري بولي ... هوښياري، كښې پټه شوې شيطاني ده

وايم زه له لوږې مرم ته له مړښته ... وائي چوپ شه!دغه برخه اسماني ده

داسلام په نامه څه ظلمونه كېږي ... ماليدلي خانه! ستا مسلماني ده

چه دخوارغريب خدمت ته بې رابولم ... وائي كله زما كارپادواني ده

هم زمونږه خدمتګارهم موبادارده    دایوه عملي بله زباني ده
ښه پوهېږم له بل ځایه الهام اخلي    که څه وایم وائي دابدګماني ده
نه بې فکرددې ملک نه بې لباس دی    په کاله کښې ئې قالینه ایراني ده
چه هرڅومره څه لري ټول خارجي دي    بس یوازې تذکره ئې افغاني ده

# پالیسي

دغنادتن جامه که مفلسي ده    دتقوی لباس کښې پټه ابلیسي ده
دنیادارکه کله اغوندي خمتا    دروپیوامیانی هم کرباسي ده
په ظاهره که قاتل په مقتول ویرکا    مرثیه نه ده سندره حماسي ده
څه چه وائي ښه ئې واوره باورمکړه    ته پوه نه بې دده ژبه سیاسي ده
نن په سرځای درکوي سبا خپولاندې    دغه ټیټ وپاس کېدل دپلوماسي ده
تملق په اخلاقي بڼه کښې وینم    اوس بې نوم قدرداني حق شناسي ده
دېرکارونه په هغه خوله اجراء کیږي    چه ئې کارقدمبوسي کاسه لیسي ده
چه په ژبه بې ختمي هغه بې خوښ وي    پالیسي بې په رښتیاچه پالیسي ده
داخلي سیاست دېردی راټیټ شوی    زیربنادلوړمقام قدمبوسي ده
وائي وجه ئې وجهه کښې ده هرګوره    موثره علاقه خدایږوجنسي ده
مینوژوب کښې چه بازارته لوڅه اوزي    مه وایه چه یارانه ئې لباسي ده
نامردان وائي مردی کښې مزه نشته    خوندوره غوښه ګوره دخسي ده
په آغازبې مه غولېږه انجام ګوره    مالیدلي شهنامه دفردوسي ده
له بل ځایه ده راغلي دلته نه وه    دڅو ورځو مېلمنه دیموکراسي ده
حاکمان ولسوالان شوه نورڅه غواړي    مونږ ته بس دموکراسي نیمه سي سي ده
ولسواله! ستا په خوله به ټول عمل کا    اولسي جرګه ببشکه اولسي ده

که" الفت " ولاړ یوازې په میدان دی
بېکسي ده هسې نه چه ناکسي ده

# زه اودی

ماوې په زړه کښې به ځای درکړم، ده وې برښه دی
ماوې قدم دې په لېمو ، ده وې په سرښه دی

ما وې ملګری به دې یم په یوه لاره به ځو
ده وې چه پېټی زمایوسې ماته خرښه دی

ماوې دخرودوران تېرشوی خرکاري ښه نه ده
ده وې ته پوه نشوې ملګري نه نوکرښه دی

ماوې هغه دسرسړی دی په ښه نوم یادېږي
ده وې دټول اولس دپاره بس یوسرښه دی

ما وې په یوسریاندې کله ټول کارونه کېږي
ده وې له سل سرونه یوسرښکرورښه دی

ماوې ولس به شي بې سره که سرونه نه وي
ده وې زما دسردعاکړئ، دی بې سرښه دی

ماوې چه بې ستاله یارانو دانورهم لري حق
ده وې هاها په پاده خپل مال ته نظرښه دی

ماوې خدمت په صداقت قام اوملت خوښوي
ده وې ترڅوچه چلېږي چل او هنرښه دی

ماوې ملت کښې ډېرصادق خدمتګاران شوه پیدا
ده وې له داسې مفسدانونه حذرښه دی

ماوې هغه دخلکو خوښ دی پرې ټولیږي خلک
ده وې زه نه غواړم لیډر ماته لډرښه دی

ماوې چه پس له دې کوتک کوتکماري ښه نه ده
ده وې رښتیا دفریب دام دخولې منترښه دی

ماوې نورخلک اوس روان دې پاس سپوږمې ته خبږي
ده وې سپوږمۍ نه خوزما څنګ کښې دلبرښه دی

ما وې چه خپل خیرنوردخلکوشرکښې مه لټوه
ده وې چه خیرزماپکښې وي هغه شرښه دی

ماوې ولس ډېرخواروزاردی څه چاره ده په کار
ده وې جاهل دی اوجاهل تردې بترښه دی

ماورته وکړې څوخبرې دحساب وکتاب
قیامت بې جوړکړچه سل ځله تری محشرښه دی

# ترقي اوتمدن

په دې لاره غوایي هم اوس په موټروکښې تېرېږي
خوموټرته په ختلوغویي کله سړي کېږي

که سپوږمۍ ته سپي اوچت شي دتخنیک له برکته
په دې لوړو مقامونوله سپیتوبه نه خلاصېږي

چه وطن ترقي وکړي دڅارویوژوند هم ښه شي
سویه دژوند جګېږي ماهیت بې نه بدلېږي

اوښ چه ډېربازارته لاړشي تمدن سره اشناشي
دومره فرق پکښې پیداشي چه موټرنه نه وېرېږي

په سپیتانه که هرڅومره ترقي د چانصیب شي
ځای بې بر،مقام بې برشي، شخصیت یې نه لوړېږي

لیاقت چه ښه تحلیل شي بل شی نه دی تصادف دي
احمقان په ښوچانسونو پخپل ځان باندی غولېږي

څوک چه ډېرله حده لوړشي وجود شي بې تناسبه
هرڅوک ګوته ورته نیسي له هرچاڅخه شرمېږي

که ډېرغټ نه بې سړیه پام کوه چه خپه نشې
هغه څومره په عذاب شي چه له حده ډېرغټېږي

ابتداء انتها دواړه مساوي دي که څوک پوه شي
وګوره! شيخ فاني نه بيا ماشوم طفل جوړيږي

دناپوه مقام ته رسي چه ښه پوه په ناپوهۍ شي
لوی پوهان اخر کښې وايي چه په هيڅ شي نه پوهيږي

د بريناچه شي نه ويني خوشحالي بيا په حيات کښې
ښه ليدی نشي داناچه بدبينۍ ته ورسيږي

رڼا ورځ ورته تورتم وي سپين هم تور ورته ښکاريږي
بيا په دغه لمرهيڅکله دده شپه نه سبا کيږي

# څه جوړوي؟

چه لوی کاردارځانته مکان جوړوي
وايي لوی کورافغانستان جوړوي

خوشي ناست نه دی ورته ښه وګورئ
دحرم باغ لکه رضوان جوړوي

جنت يې جوړ کړ خوهغه به ورځي
چه ځان نه حورې اوغلمان جوړوي

وايي اصلاح مې کړه شروع له ځانه
ځکه اول ځان بيا جهان جوړوي

حزب يې که جوړنکړ زيارت يې جوړکړ
ليډرکه نه جوړوي خان جوړوي

دلته چه هريوپس له بله راځي
ځان نه ولي بل نه شيطان جوړوي

په مدرسه کښې داغيار وکله
څوک دافغان ځوی نه افغان جوړوي

پردی کلتورپردی لسمون له سرې
حلقه بګوش داين وآن جوړوي

سر کښې څه نه پريږدي ماغزه يې مينځي
دسروبښته يې په ښه شان جوړوي

مودپرستي دومره غالبه شوه اوس
ځان خرڅوي اوچاته ځان جوړوي

غلط علاج نه يې علاجه ښه دی
ناجوړه ښه دی که يې وران جوړوي

# بې چله او ناچله

دلته کله څوک چلېږي بې څه چله　　دې بازارکښې خوبې چله دی ناچله

داهم چل دی چه خرپلارکړه خپله چارکړه　　پلار ګلوي مې ددې خلکو ولیدله

سیاست په دې چل ډېرښه پوهېدلی　　چه خپل ظلم عدل ونبیي هرکله

چل دانه دی چه هرچاته چل ښکاره شي　　چل هغه دی چه چل نه ښکاري هیڅکله

چل بې نزده چه په چل دی مشهورشوی　　لغماني دې څه چل زده کړي له کوم بله

هغه څه کاچال چلند ددنیا والو　　ماملـه بې ددنیا چه پرېښودله

دابنایسته دعاج ږمنځ ئې په کارنه ده　　چه بې سراوبېره پاکه وخرېله

څه په کار زري پېښه ده هغه چاته　　چه پښه ئې له زنګونه غوڅه کړله

په زینود زړه رنځورته ختل ګران دی　　ماته لاندې خونه ښه ده له برجله

چه ولس له هرې خوانه پرېشان وي　　ته هم ښه بې پرېشان خیالي اربله

# رښا

دهغوله مخې هرکله رښاوي　　چه په مخکښې ئې دحسن تجلاوي

دسپین مخ په رښا زړونه ژوندي کیږي　　دبلبل ژوندون دګل په تماشاوي

چه ښایست دچاپه سترګو کښې ځای وکا　　یونظرېې هم اکسیروي هم کیمیاوي

دجمال رښاته مونږه خوشحالېږو　　منتظرد تورې شپې غله ددنیا وي

له ښه مخه څوک مخ نشي اړولی　　زاهدان ورته کتونکي په غلاغلاوي

عبادت نه دی ګناه ده ډېره لویه　　که طاعت حقیقي نه وي د ریاوي

چوکۍ نه ده شخصیت دی دساتلو　　که چا خپل ځان پېژندلی په رښتیاوي

لوی دښمن دشخصیت شخصي نظام دی　　په نطفه کښې بې لاوژني که دچاوي

چه رښاوي دایمان دچاپه زړه کښې　　دخپل وخت فرعون لره لکه موسی وي

څوک چه لوی اخترکوي قرباني هم کا　　سود و زیان د دنیا هروخت خواپه خواوي

نه پټېږي منورفکرمغزو کښې　　نه پټېږي که دچابدن کښې ساوي

که رڼاده دښکلاده یا دعلم　　سخ دهغه چه داناوي یالیلی وي

## قبیله پرستي

باداردی خوازاد نه دی قبیله کښې دی اسیر　　خېل او زي نه وتی نشي که وکیل شي که وزیر

دلته ژوندقبیله بې دی قبیله لکه قبله ده　　توجه ورته لري ټول که صغیردی که کبیر

فکرخوئ قبیلوي دی تش لباس یې مدني دی　　آغا نه دیموکرات کېږي که هرڅومره شي تنویر

قبایل اوعشایرلاپه قوت اوزور چلېږي　　قبیلې تقویه کېږي ملیت خواروحقیر

جنګ جګړې دقبایلوپه قانون کله حل کېږي　　تش په ښار کښې په څوکسوقوانین لري تاثیر

یوغلجی بل درانی دی څوک تاجک دي څوک ازبک　　دافغان له کوروکلي خدایه ورک کړې دا توپیر

شته په هرقام کښې ګوندونه په یوه خیل کښې خېلونه　　شوه ټوټې ټوټې قومونه که مسعوددي که وزیر

فرقوي تعصبونه ګوره ورځ په ورځ زیاتېږي　　یوهم نکړي په دې کارکښې نه تاخیراونه تقصیر

چه اساس قبیلوي وي اواحساس خانداني وي　　په ولس بې نظرنه وي په خپلوانووي زهیر

دملت په نامه باندې قبیلې ته خدمت کاندي　　که احمداوکه محموددی ګڼه یودبل نظیر

خیال وفکر بې لوی نه دی که بې نوم هرڅومره لوی وي — قبیلې ته که مربوط وي لکه لوی غرد پامیر

که تبعیض اوامتیازوي هرڅوغلی په پرده کښې — نه پټېږي پرې پوهېږي که اعمی دی که بصیر

فامیلي احساس غالب دی خویشخوري کله پټېږي — که هرڅوئې پټوي څوک په خبروپه تقریر

یوه کور کښې که اوسېږي دیوه کورېې مه بوله — حیثیـــــت برابرنــــــه دی دبــــادار اوداجیر

قبیلو کښې صاحبان شته اغایان اوبادارن شته — بې قانونه حکومت کا، خان وبیګ ارباب اومیر

نامربي وزیران نوردي نه داعین وجیم چه ګورې — مجبور وګڼه هرګوره دارسمي مربي وزیر

حقیقي فاعل یوبل دی دا چه وینې منفعل دی — دی څه نه کاپه ده کېږي که تخریب دی که تعمیر

همنوعي که دلته نه وي، ده جنسي علاقه ډېره — چه ښه جنس ورته عرضه کابیادعرض ګوره تاثیر

که هرڅومره وي بدمخی مخوراومعتبرشي — چه سره سپین لري په کور کښې یاښه مخ بدرمنیر

مه غولېږه عالیجاهه که په خوله درته دعاکړي — جوړه نه راځي په زړه کښې دبډای اودفقیر

خوله په سوک شي ماتولی دسرسترګې ړندولی — خوتړلی نشي سترګې دوجدان اودضمیر

دلیکوالووظیفه ده چه ازاد قضات وکا — ازادي اصلي معنی ده محرره! دتحریر

عدالت دیموکراسي هم دلته شوه قبیلوي

اوکه دغه شانته نه وي څوک یې کله قبلوي

# د شورى فضا

## ۱۳ دوره

څه طوفانونه دشورى خړه فضا کښې وینم — تندربلی سیلاب سیلی رعد و برېښنا کښې وینم

څه به پېښېږي څه به کېږي ټول حیران غوندې دي — هریوپه وهم په تشویش اوپه سودا کښې وینم

مترقي اومرتجع یوهم خوشحاله نه دی — نه په بډای کښې خوشبیني نه بېنوا کښې وینم

دولایاتو قبیلودمذهبودژبو — اختلافونه تفرقې نشوونما کښې وینم

دنوي فکراوزاړه فکردقهرتکر    دلوی بدلون دپاره یسفک الدما کښې وینم

چه خوري سرونه اوپه وینومړیده نلري    قهرآمیزجنګونه ډیرپه اشتهاکښې وینم

چه مونږ بې غوښه اوچاړه کړو د قصاب دپاره    نشم ویلی چه دالوی فساد په چاکښې وینم

له ناپوهی سره ګډژوندی سیاسي مصلحت    پوهې سره مجادله په لوی لالاکښې وینم

ځومره فاسد اغراض په ځومره لفافوکښې دي پټ    ځومره فتنې پټې په رمزاو په ایماکښې وینم

بیابه تازه شي هغه تېراوهېرزاړه زخمونه    دغږوهلوبداثرپه غږېداکښې وینم

دافغاني وحدت په حال مې زړه رپېږي مدام    بله نقشه دسیاست په دورنماکښې وینم

داتفاق ناري وهي دنفاق اوربلوي    دوستی کښې پټه دښمني زهردواکښې وینم

کومې جګړې چه قبایل بې غرورغوکښې کوي    اثرېې دلته دشوری شوروغوغاکښې وینم

که دجنګ اور شپېر کښې بل کړي هزاره اوپښتون    دلمبوتاوېې دوکیل صاحب وینا کښې وینم

ښې اوچپ یوهم اعتماد په حکومت نلري    له خلکولرې حکومت بله هواکښې وینم

په سیاسي نظام کښې ځومره خلاګاني لرو    دابې اساسه حکومت بیت الخلاکښې وینم

پربېږده چه ډک زړونه کړي تش داعتماددپاره    پربږده چه ډېرځه ووائي خیردې په داکښې وینم

قهرکه هرځومره وي زیات ډیرې وینا سره ځي    ډېرلوی خطردقهرجنوپه چوپتیاکښې وینم

داعتماد دجلسوډېره آتشینه وینا    آخرسرېږي ددې اور ایرې هواکښې وینم

## په چاپسې ځي؟

نن په یوه پسې روان سباپه بل پسې ځي    کله په ږیرې پسې ځي کله اربل پسې ځي

داقتدارخولی چه اېښې په هرسربانديې وي    سرته بې نه ګوري خولی دقره قل پسې ځي

فرق دشپانه اودقصاب پسونه کله کوي    چه شنه ګیاه ئې لاس کښې ووینې قاتل پسې ځي
رنګ بې کړه ورک چه په خام رنګ محض جلبل غولېږي    نه ماهیت نه بې هیئت وینې محل پسې ځي
لکه سرسام بې فکره هرې خواته لاس اچوي    دتحول په نامه محض تجمل پسې ځي
ځان غورځوي له ګړنګونو په یوه اشارت    منده وراخلي هسې نه چه تامل پسې ځي
افتخارات اولوبې ګتې مشکلاتوکښې دي    دلوړهمت خاوندان ځکه په مشکل پسې ځي

## نه ګورم

چه کرلي استعماروي هغوګلو ته نه ګورم    پردي ساز ته چه ګډېږي هغوښکلو ته نه ګورم
له هغو سترګو ځاربږم چه پکښې شرم حیاوي    خدای دې عشق بې پردې نه کا پرتوګ ښکلوته نه ګورم
که دفکرښکارولویادحق ویلو ځای وي    دچاسترګورډولوغاښ چیچلوته نه ګورم
په توده مینه چه نکړي داساړه زړونه تاوده څوک    په تودوتودو خبروتودولوته نه ګورم
چه هرڅه وران ویجاړوینم کارخراب فکرخراب دی    په خبروبې چه جوړکړي هغوڅلوته نه ګورم

## دروغ اورښتیا

په رښتیاویلوډېرزړونه بدېږي    آزادي دفکرګرانه تمامېږي
سیاست له حقیقت سره جوړ نه دی    چه دایوخوشحالوم بل خپه کېږي
ښه پوهېږم دروغ خواږه رښیاترخه دي    دي خوږوته زما خوله کله جوړېږي

دامونږ تول ورته ړانده ښکاروکه څنګه  چه دشرم کارکوي او نه شرمېږي

په رښتیاچه زورورنلري سترګې  په رښتیاچه سترګې سترګونه زېږېږي

دهغه قاضي به څه رازقضاوت وي  چه قضابې خپل حاجت ته منسوبېږي

دارښتیاده چه ددروغومزل لنډدی  یعني داچه سړی ژرځای ته رسېږي

چه دچاپه نوکری سرلوړي کاندي  سرله دېنه زیات هیڅکله نه ټیټېږي

# ددرگاه سپی

دصاحب ددرګاه سپی
دغریب کاله سړی
په نظرکښې یوشان نه دي
یوېي خپل دی بل پردی
دجناب په نامه یاددی
دلیلی دکوڅې سپی
جناب نه دی هرسړی

که مزدورشي دصاحب څوک
له هرچانه وي بې قدره
که څوک ځان ورته سپی کاندي
دصاحب پرې خاص نظروي
سړیتوب ساتل ګناه ده
په حضور کښې دبادار
په نظرداستثمار

هغه سپی چه صاحب کورکښې
په نعمت اونازساتلی
یوسړی دسپي خدمت ته
بودجه کښې منظورشوی
نوروسپیوغونډي نه دی
له مزدوره معتبردی
دصاحب چه پرې نظردی

صاحب وائي زماسپي ته
دسړي په نظرکوري
په ادب کښې ئې هېڅکله
له انسان نه کم مه بولي
اودس نه ماتوي کورکښې
ځي دبانډې چېرته لري
چه پې نکړي چغه کوري

له دهقانه پې ژوند ښه دی
په صابون مینځلی کېږي
دپرخواران اوغریبان پې
ژوندانه ته هوسېږي
لکه سپي دیورپیانو
نازوي پې بي جانه
چه په سپي ده مهربانه

دسپي داقدر چه ولید
بې همتې انسانانو
دیروومانه سپیتوب
ددنیادصاحبانو
سړي سپي شوه سپي سړي شوه
دصاحب له برکته
اوزمونږ له دون همته

که انسان استخدامېږي
عملاًدسپي خدمت ته
دقانون نظرخوښه دی
دانسان لوړکرامت ته
حقوق واړه مساوي دي
دبداي اودفقیر
دصاحب اودحقیر

# زندان

لاړم دارالمجانین ته
هلته وخولېوني
ډېر بي قيده غړېدل
ژبي نه وي په فرمان
ازادي وه دبيان

په خبروبندیزنه و
نه وډاردخارنوال
دخطراحساس هیخ نه و
بي پرواوناطقان
ناخبرله این وآن

کېدي رنګ په رنګ خبري
بي آدابوبي ترتيبه
دهرچاکلام مصئون و
لکه ځوی دپارلمان
له قانونه په امان

دروازي که وي تړلي
ځنځېر پېچ و لېوني
په نامه شفاخانه وه
هېچانه باله زندان
بدل شوی وعنوان

له هغه ځایه چه لاړم
دمحبس توروکوټوته
هوښیاران لاپه عذاب و
ترېنه ښه ولېونیان
دادعقل دښمنان

په پښو کښې زولنې وې
په لاسو کښې اتکړې
هوا جبسه رڼا نه وه
ژوندون ډېر وهراسان
په بد حال کښې وبندیان

مګر ژبې بندې نه وې
وینا وه ډېره ازاده
لوخ اوبو نه وېرېږي
نه له بند خخه بندیان
نه له اوره پتنګان

چه راووتم له بنده
تګ راتګ هرلور ازدو
هرخوک وپخپله خوښه
غلامی ته وررووان
دیوه بل بندګان

آزادي دفکرنه وه
ژبې بندې وې له ډاره
په احتیاط احتیاط مجلس کښې
غرېدل به وزیران
وایه! چېرته وزندان
په کوم ځای کښې وبندیان

# دمحیط تاثیر

سوزوي مواوبه هم چه په جوش راشي    اوبه اورشي که محیط يې وي سوراور

په اواربستر کښې سيند دومي ارامه    خوپه چړ کښې يې بیاګوره شروشور

په هرڅه کښې دمحیط تاثیرته ګوره    وي بې زهروچه اوبوکښې وي منګور

لوګی اورنه دی پیدا خوخوک نه سوزي    دمحیط اغېزه کله لري مور

له یوه پښتنه رڼا اولوګی دواړه    دیوه مخ منوراودبل تور

دمظلوم دزړه دتاوساړه آهونه    سوزوي دظالمانوکلی کور

دظالم عاقبت خواردی له هرچا نه    ما ډېرخواروزارلیدلی ظلم زور

وار د توريې دی تېر شوی په جهان کښې    حکومت اوس د ښتك دی او د لور

ډېرسپاره مستواسونو غورځولي    یزیدهم داقتدارپه آس وسپور

# ددهقان درس

وا یې چېرته په کوم ځای کښې یودهقان و    چه رستم دزماني ورته حیران و

په قلبه کښې یې اوبه کړې ډېرې سپارې    نري شوي یې په لاس کښې ډېریومان و

ډېرغویان یې ستړي کړي و جغ لاندې    کاراوزیارته یې ورکړی امتحان و

دخپل مټ اوخپل باوزله برکته    دهر چانه یې ژوند ښه، کوربې ودان و

له نیستۍ نه راوتلی وهستۍ ته    له وچ ډاګه یې جوړکړی ګلستان و

رسېدلي یې باغونه و ثمر ته    دانګوروورېي ځوړندشان په شان و

چه ناڅاپه دادکارسړی رنځورشو    بیاپکښې نه هغه زورنه هغه توان و

چا دباغ دونوونکړه پالنه    دزامنوپه همت کښې یې نقصان و

باغ له دربوله کبلوڅخه ډک شو    دوحشي بوټوله لاسه هرڅه وران و

نیستي ېېرته را روانه شوه کاله ته    چه دکارسړی رنځوراوپرېشان و

دهقان ووې ای زماخواروزامنو    له یوتاک لاندې ماایښې ډېرشیان و

اوس بې ځای ښودلی نشم دومره وایم    چه وړیا یې مه ګڼئ په قیمت ګران و

که په لاس درشي نیستي به موشي غوځه    له روستی سلګۍ سره بې دابیان و

ددهقان زامن دپلارله مرګه وروسته    شپه اوورځ په باغ کښې ستړي او ستومان و

دهرتاک بیخ بې سپړه چه څه پیداکړي    په تلاش کښې دموندلوسرګردان و

دباغ خاوري لاندي باندي شوي څوواره    هیڅ پیدانشوه دورکې په ارمان و

پس له ډېروزحمتوډېروخواریو    تفاوت دباغ حاصل کښې صدچندان و

ددهقان عملي درس درمزپه ژبه    کړه ثابته چه تاک لاندي ډېرشیان و

چه دکارسړی جوړکاندي له بېکاره    دغه پوهه اوهنرکارددهقان و

## چاڅه راوړه اوچاڅه

چاجهان ته تش کدوغوندي سرراووړ    چاپه سرکښې فکرلوی لکه غرراووړ

چادشمع په شان خپل کوررڼا کړی    چاسحرغوندي له ځان سره لمرراووړ

چاته تندرځان سره دی مرګ راوړی    دباران څاڅکوصدف ته ګوهرراووړ

راووړ انجې ډېرناوړه بوی جهان ته    ګل دنیا ته خپل وجود معطرراووړ

یوښاخ ګوره تش کوتک شودوهلو    بل ښاخ ګوره چه بې سیوری ثمرراووړ

له یوه لرګي نه دار جوړ شوبل پول شو    چالــه ځان سره خیرونه چاشرراووړ

چاکړه زیاته دښمني په دې عالم کښې    چاپیغام دمحبت دبشرراووړ

دچالاس کښې تېره توره ده ګوابېږي    چادپوهې اودفکرهنرراووړ

چادخلکو دامېد سترګې ړندي کړې    چادزړه سترګوته نوی نظرراووړ

انساني فکربې جګ کړ ترافلاکو    دبشرپوهې له ره بې وزر راووړ

هغه مه هېروئ هېڅکله عالمه    چه عالم ته بې دمیني اثرراووړ

# په ښکلا مين

څوک مين په ښکلا څوک مين په ښکلو　　يو په خوله ترې اخلي خوند بل په کتلو
دچابرخه دښکلا درک واحساس　　دبل برخه وي جنسي دلک وتماس
يو لېوال وي چه ترې واخلي خوند خلوت کښې　　بل وي محوه په جمال د طبيعت کښې
محبوبه دهنرمند ښکلې معناده　　معشوقه دبوالهوس پادرهواده
دچاسترګې ښاري ستوري اوسپوږمۍ　　دچابرخه هوسونه خرمستۍ
ديوه نظرپه شکل اوصورت وي　　اودبل محبوب په خپله محبت وي
ظاهربين په سپين پوستکي مينېږي　　سطحي مينه ځي پوستکي ژر تورېږي
شکلي وي فاني، ښکلاده بې زواله　　بې نيازه له ګاڼوله خط وخاله
د"الفت" محبوب عرض نه دی جوهردی　　په نظر کښې بې چه ښکلی دی هنردی

# رندانه نظر

هرڅه بل راز وينم بيا نظر شو رندانه　　ومې ليده تشه دادعقل پيمانه
ناوري څوك ناصحه هغه تش نصېحتونه　　و وايه شاعره! حقايق بې باکانه
شېخ دې خپله ډيره کړي شانه دبل د پاره　　مادی زړه بايللی په اربل د جانانه
چېرته سپينه ږيره، چېرته ولول توري زلفې　　چېرته دبوډاتګ چېرته تګ خرامانه
نورڅه نه غواړمه محبت غواړم له ښکلو　　ده ماته کافي يوه خنداعاشقانه
هرڅه ورکول اهل ته ښه وي له نااهله　　تل لره نظراهل نظرته دوستانه
عقله ! ته ما پرېږده ستاله لاسه ډېرپه تنګ يمه　　غواړمه ژوندون لږڅه ازادشاعرانه

تا دسیاست په ځنځیرونو ژوند تړلی دی ... نه منې قیدونه همتونه مردانه
ښه مې په ځیرځیرچه وکتل سیاستونه ... مکرو، فریب و، غولول ماهرانه
وي که ډیرښه لال دسیاست دښامارخوله کښې ... ورشه! که لرې منترافسون ساحرانه
مه غواړه له مانه سیاسي مهارتونه ... راغلمه پاک زړی سیاست نه بیګانه
هغه چه دوخت حاکم ته وايي زمامدار ... ځانته قابلیږي په جلب او ګاوخانه
کله ازادیږي دعمرواسیرفکرونه ... خدای دې دچانکړي ذهنیت غلامانه
وايي غلامان په غلامۍ باداران شوي ... واوره! دمحموداوایازانوافسانه
نوم که دحاکم شو ولسوال نوپه داخه ... نه ځي له حاکمه خوی خصلت حاکمانه
مونږ لااسیران یودخانانو دپیرانو ... یودمکردام لرې اوبل یې زولانه
ګرزوي په لاس کې د تسبو دانې مدام ... مه وایه چې دام د زاهد نه لري دانه
وږي یو، بربنډ یو، خواري ده زمونږ په برخه ... برخه د ځوتونو عیاشي بیشرمانه
نه لرې د جوارو دانې کور کې دهقانان ... تل د اغاکور کې د کباب پته دانه
ډیر خلک په بند کې دي د لږو صاحبانو ... خان و بیګ لرې دطلسمونو جیلخانه
نشو په چلول له اسارته خلاصیدلی ... یو اقدام په کار دی رندانه بې باکانه
داد خان نوکر که که در ته بدوايي الفته ... غواړه له آزادو قضاوت آزادنه

## ښه نظام

ښه له هرنظامه جمهوریت دی په باربار ... ښه یې که تمثیل کړو په عمل اوپه کردار
ښه کارونه سرته رسوي دخلکو مرسته ... ځوچه انصارنه ودین مکه کښې وایسار
غواړي جمهوریت چه رښتیانۍ دموکراسي ... کیږي دغه کارچه روشنفکره وي کاردار
اوس اداره علم دی یوازې آمري نه ده ... ده په کارآمرته روحیه دخدمتګار
هریودهرکارنه دی هرڅوک په هرڅه پوه نه دی ... داخبره ټیک ده سوی دمندې اوښ دبار
یوبه ښه جراح وي بل به پوه وي په نبضونو ... هرډاکترپوه نه دی په علاج دهربیمار

نه دي برابر استعدادونه دماغونه  یوبه دنظرخاوندوي بل به وي تورمار

لویه علامه د کاردانۍ او کامیابۍ ده  ورکړي چه هر چاته دهغه مناسب کار

نه پکښې حیرت نه تعجب نه اعتراض شته  اخلي که میرزاقلم اوتوره منصبدار

وي جمهوریت کښې په اساس د عدالت  ورکړه دهرکارداهلیت په اعتبار

ډېر لحاظ په کار دی د کارونو د بهبود  کاراصلي منظوردی په معنی کښې دسرکار

اچوي په کار جمهوریت استعدادونه  نه پرېږدي چه وي لیاقتونه خواروزار

حق او عدالت ته ښه نظر د اهلیت قدر  دی دښه نظام د پېژندلو ښه معیار

# په څه حال کښې یو؟

دجمهوریت نظام درشل کښې یو  دترقۍ دیون تکل کښې یو

له زاړه حاله نوي حال ته ځو  دتحول حال اومحل کښې یو

څه جوړوویاڅه جوړېږي رانه  په انتظاردمستقبل کښې یو

نوربه مووینې کنډوالوکښې خومونږ  داسروهیلو په برجل کښې یو

هرڅه چه یو خونا امبده نه یو  هرځای چه یوطول الامل کښې یو

پاځئی روان شو دعمل په لوري  مونږ هغه یوچه په عمل کښې یو

جمهوریت ډېرې غوښتنې لري  مونږ بې په فکر دغزل کښې یو

دژوندانه مبارزه دانه ده  چه ناست یوبل ته په مرچل کښې یو

دترقۍ لار لوی پېچومی لري  مونږ لاایسارلنډي کوتل کښې یو

دقیق سنجش حساب کتاب دی په کار  مونږ لاتخمین اوپه اټکل کښې یو

زمانه اخلي امتحان رانه  دډېروګرانو سوالوحل کښې یو

په حقیقت کښې به اوچت یوکه مونږ  داساسي فکرپه تل کښې یو

ترقي پوهه معنوي لوړتیا ده  نه چه په جګ سر د جبل کې یو

# نوی نظر

ولسي نظام سره نوی نظر روي — خدمتګار پکښې بادارنه معتبر روي

معيارونه ارزښتونه بدلوي ځان — ميراثي شرافت ځکه مرور روي

نه ښوک فخرپه ډېرمال نه په نسب کا — افتخار بس په خدمت کښې دبشر روي

بې کاره ژوندون دهيڅا په کارنه وي — طفيلي ژوندعزم کړي دسفر روي

ناتوان وي چه دبل په اوږوبار وي — چه دکارتوان پکښې وي توانګر روي

بې ارزښته وي فلان ابن الفلان بيا — دهرچا قدر پخپل فضل وهنر روي

چه هيڅ نه و، هرڅه وهغه به هيڅ وي — سخ دهغه چه په کاراوکاريګر روي

دحساب اوکتاب وخت وي ځکه هرلور — غيبي غږدعدالت اين المفر روي

# کږې زلفي

کږي زلفي زما خوښي دي زاهده — که ته سم کوري قامت ته بې وکوره

چه لړ پوه دعشق اوميني په رموزشي — سترګي وخوري اشارت ته بې وکوره

زه بې حق دملاحت منم په سترګو — که ته مچ بې حلاوت ته بې وکوره

دګل پاڼونه نازک بدن بې ويني — دسنګين زړه قساوت ته بې وکوره

زورورحسن په هرچازوروردى — په مينوقيامت ته بې وکوره

چه له لاسه بې وران شوي ډېرکورنه — دلاسونو لطافت ته يې وکوره

چه په مينه راته وکوري رنځورشم — ظلم بې پربړده عنايت ته بې وکوره

ښکلي مخ ته ئي په زغرده کتی نشم — سترګي سوزي وجاهت ته بې وکوره

# څنګه وخوت؟

پټ په غريبۍ کښې وچانه پېژانده خان وخوت
څاڅکی دباران موګانه تندرداسمان وخوت

څوک بې په قيمت نه پوهېده هرچاارزان ګاڼه
داددرويزې کندولی لوښی دجانان وخوت

څه غلط ګمان وپه غلطه خلکو خپل باله
مال ودسرکار اخص الخاص دشاهجهان وخوت

پورته ختل ښه دي مګر سرته ختل ښه نه دي
پورته بې مه بوله که اوچت دګرد په شان وخوت

اوس دتحول افسون بدل ماهيتونه کړه
سل ځله فرعون نه هم فرعون ابن عمران وخوت

وهم وکه خيال که غلطي زمونږ دفهم وه
مونږ دژوند قانون ګاڼه هغه خيالي داستان وخوت

څه شوه هغه سره اوشنه باغونه دخيالي دنيا
دادازادۍ بنا چه جوړه شوه زندان وخوت

وګوره! الان کما کان دی احوال زمونږ
يولکه چه وو، دارتجاع دزړه ارمان وخوت

# دشيخانو نظر

په کلونو له کاله نه وه وتلې
نامحرم بې پلو هم نه وليدلې
رنځوری له کاله ووېسته بازارته
چه ځان وښئي طبيب ته له ناکامه

د لوی شيخ دکور بي بي
چه بې نوم وشابي بي

شرعي محرم راغلی ورسره و
چه ښه پوه و دښخانو په نظر
لټاوه به يې چېرته داسې يوطبيب
چه ظاهرېي په صلاح وي اراسته

په سوچه رېره ببر
عمامه يې وي په سر

ډاکتران و رېر خرېلي چې ځلميان
يوهم نه وموافق دښيخ په طبع
دلته هلته يوهم داسې سړی نه و
چه صالح وي دښخانو په نظر

نه فاسق وی نه فاجر
طبابت کښې وي ماهر

پس له ډېرو ګرزېدلو
ده پيداکړ حکيم جي
زوړهندوخيرن پير ن
دپکړې رېږي خاوند

ږيرخرېلی نه بهتر
د ښخانو په نظر

# د هلمند د اوبو تړون

حکومت یوڅه وائي بل څه کوي | سیاستدان رښتیاویلی نشي
"وا بېي ژوندون خوپه اوبودی ولاړ | څوک له اوبونه تېرېدلی نشي
هلمند بچی دافغاني وربځودی | بې پښتونخوادبل کېدلی نشي"
خودتړون په انګلیسي متن کښې | هلمند ایران نه بېل ګڼلی نشي
هلته بې بولي د افغان اوایران | که په پښتو کښې بې بللی نشي
معتبرمتن انګلیسي دی ځکه | چه وکیلان پرې پوهېدلی نشي
چه هلمندځوی شودافغان اوایران | داازدواج څوک پټولی نشي
خاورې که اچوي زمونږ سترګو کښې | دتاریخ سترګې ړندولی نشي
په افغاني سیندافغاني خاوره کښې | څوک نظارت دبل منلی نشي
هغه بې آبه سیاست به څه کړو | دخپلواکۍ آب چه ساتلی نشي
حکومت ولیده چاړه اوبو کښې | په اوبوځکه درېدلی نشي
چاچه لوڅ کړی آب بازۍ ته وی ځان | اوبونه څنګه تېرېدلی نشي
بې آبه ژوندپه اوبونه دی ولاړ | اوبه بادي ژرنده زغملی نشي
دسمندرژونددماهي ژوندنه دی | ډیوه اوبو کښې بلېدلی نشي
په دریابو کښې نهنګان لري حق | مېږی لښتي ته خوله وروړلی نشي
څوک چه اغزی کري اوبه څه کوي | اوبوته هیڅ حاجت لرلی نشي
چه بې په سترګو کښې نونه وي پاتې | په هلمند اوښکې تویولی نشي
دوطن خاوره اواوبه دوطن | هیڅوک پلورلی یابښلی نشي

شوری چه وي داحتضارحالت کښې
دداسې پریکړی حق لرلی نشي

له فشارلاندې لندکی حکومت
له ځانه دېرلوی کارکولی نشي

حکومت هرڅه په اوبولاهوکړه
داوبو نوم څوک اخیستلی نشي

دیموکراسي رانه جل ووهله
دوبناتنده ماتېدلی نشي

اورپري بلبري چه اوبه یادې کړو
"گل به آب داد" هم څوک ویلی نشي

تش دګلاب نامه کښې آب پاتی دی
بې آبي دېنه زیاتېدلی نشي

دمکماهون نقش دهلمند اوبو کښې
نقش برآب سړی بللی نشي

هویدابوله شاهانه سیاست
اخترخویټ مېره کېدلی نشي

له کاسې لاندې نیم کاسه نشته هیڅ
سیندڅوک وښولاندی بیولی نشي

چه بې نظره بحرهندباندې دی
هلمندبې یوغرپ هم کېدلی نشي

که ئې رضاته رضاخپولاندې کړو
دمستې خوي څوک بدلولی نشي

دملیاردوډالرونوې وسله
مه وایه !څوک تهدیدولی نشي

چه تش خبرېې په مونږ هرڅه وکړه
په استعمال بې څه کولی نشي؟

نوردې پښتون دغه متل نه کوي
اوبه په ډانګ څوک بېلوی نشي

په ډانګ له کاڼودې اوبه وتلې
فنفجرت څوک هېرولی نشي

موسیٰ تېرشوی رودنیل څخه دی
بل سړی دغه کارکولی نشي

څوچه راده څخه تېرنشې موسی
فرعون په رودکښې غرقولی نشي

بس دی همدومره آب وتاب دشعر
چه بیابې تاب خلک راوړلی نشي

# يو صدر اعظم چه چانشو ليدلی

صدراعظم اسم اعظم غونډې شو    ځکه بې ثوک پيداکولی نشي
غړي نه چټکه الوتکه کښې هم    دده حضورته رسېدلی نشي
عمربې ډېر چه بې تر ډيره وخته    ملک الموت چېرته موندلی نشي
لن ترانې وايي دحال په ژبه    خوقرغه کوه طورکېدلی نشي
غړي تېلفون کښې نه رسېږي ورته    ثوک بې په خوب کښې مخ کتلی نشي
دانځرګل غوندی نظرنه وتی    دچاله ياده خووتلی نشي
مه خپه کېږه که بې نشي ليدی    پخپله دی هم ځان ليدلی نشي
يو دګلاب بوي ترېنه ګردتاوېږي    لمن بې هرګل بويولی نشي
ځينوچه وليده خپل ځان بې ورک کړ    مه وايه ! ځان ثوك ورکولی نشي
مقام بې لوړدماغ بې لوړدی هومره    چه سدبې سرته ورختلی نشي
پوه نه يم ولې بې له جګې غونډۍ    ځانته بل ځای کورجوړولې نشي
ګل ږدي په هغه سرچه ټيټ شي ورته    بې سرکوزی داکارکېدلی نشي
داڅوبيتونه ورته ځکه ليږم    چه جريدو کښې خپرېدلی نشي

# څلوريځې

فکرکښې خيال په خيال کښې فکرنيول — معنى ته رنګ، رنګ ته معنى ورکول
دشاعر کاردی شاعري وګڼه — دزړه په سترګوخوب په ويښه ليدل

دمعنادزړه په رازاورمزخبريم — دژوندون ښکلاته سترګې اونظريم
دادلاس اوپښوکارله مامه غواړئ — خيال اوفکرته پيداپه شان دسريم

هغه وينم چه بې نورنشي ليدلی — هغه وايم چه بې نورنشي ويلی
دلته څوک دحال په ژبه نه پوهيږي — زه په ژبه دمآل يم غږيدلی

که رښتيا نشي ويلی اوسه غلی — دروغ خومه وايه که ځان ګڼې ښاغلی
آس بې مه بوله براق ورته مه وايه — بې لکۍ خره ته که خرنشې ويلی

پخواکور کښې بي بي ناسته وه مستوره — تله بازارته په سوداپسې مزدوره
اوس بي بي سرتوره ووته بازارته — ده مزدوره دکورناستې ته مجبوره

ښکلو پېغلو که په تاسو کښې حيا وي — انعکاس به بې ځوانانو کښې تقوا وي
بې حيا که لوڅې ګرزئ مينوژوب کښې — پرهېزګار مګر يا ړوند او يا خنثیٰ وي

غلام عقل غلامۍ له پيداوي — دومره پوه په خوی اوبوی دخپل آغاوي
چه په خيال کښې بې سباکه يوڅه ګرزي — ده بې وچولی کښې لوستی دېرپخواوي

دآغاګناه بي بي غونډې مستوره — دمزدور ګناه هم وي لکه مزدوره
بي بي نشي ليدی څوک مزدوره ويني — څه به وايم ددی خلکو له شعوره

# څلوريځې

له توټکو غواړي اثر د مسيحا ـــ کتوري غواړي له زاڼو د هوا
احمق سپي ته وانښه بړدي اوبښ ته هدوکی ـــ کوي ړوندته اشارت ګونګ ته وينا

حکومت که قانوني نه وي شخصي وي ـــ دآغا ، آغازاده اود بي بي وي
کورنۍ اوخپلخانه پکښې خاني کا ـــ قندي ګل شاګل ما ګل پکښې خوندي وي

ځان دچا غلام کړه که په نوروبا داري کوې ـــ سرتيټول زده کړه که کارونه سرکاري کوې
هلته زوروتو ته په ګونډولاس په نامه اوسه ـــ دلته که فرعون غوندې په مونږ کلا نکاري کوې

ته بې چه بدګڼې هغه خلکوته ښه ښکاربږي ـــ تاته خوارږه خلکوته زهرونه ترخه ښکاربږي
چې په محبس کښې بې ساتي دسترګوتورشي دقام ـــ چه په قصرونو کښې ځای ورکړې هغه غله ښکاربږي

ورانول نه دي که څوك وران ورانوي ـــ ورانۍ هغه دی چه ودان ورانوي
دورانول وده خاني بداري ـــ ملي معمار خاني د خان ورانوي

معکوس شوي اساسونه دهستۍ ـــ څکه لوړ مقام ته رسي په پستۍ
ډېرخه مومي چه له ډېروشيوتېرشي ـــ غلامان بې کړه خانان خان پرستۍ

هم مې شعرونه هم کارونه کړه جوړ ـــ دليک اولوست مې کتابونه کړه جوړ
دوه پښتانه مې نکړه جوړهيڅکله ـــ که مې هرڅومره مجلسونه کړه جوړ

ډير عالي مضمون په پښتو ژبه خوارو زارشي ـــ ژبه چه بې قدره وي بې قدره بې اشعار شي
سر و کار د خلکو وي له ژبې د سرکار سره ـــ کله به غريبه پښتو ژبه د سرکار شي

# څلوريځې

که هر څومره ښایسته ښکلی جنۍ وي    د لوی کور او د عزیزې کورنۍ وي
چه ګونګۍ وي آدم کله ورته ګوري    په ښایست کښې یې که مینځه درخانۍ وي

قهرمان دسیاست دی هریزید    ولایت لره په کاردی بایزید
شاهان فخرددنیا په تخت وتاج کا    ادهم تاج نه بهتروګڼه تبعید

قانون وي اول نظر کښې ډېرښاغلی    چه لانه وي دعمل کورته راغلی
نقص اوعیب یې په عمل کښې معلومېږي    خصوصاًکه چلوونکي وي ناولي

چه دویني درجه دې نشي دنګه    نورڅه مکړه زندګي دې کړه بلمنګه
ژوندون هلته شي بې مالګې چه سړی    سترګې پټې غوږکړي بنداوژبه ګونګه

مخالف وي یوله بله حال اوقال    په وینا کښې ګوره عکس دمقال
دپښتوداحماسي عالي شعرونه    درته ښئي دپښتون پرېوتی حال

پښتون ډېر دی تېرا پستلی شاعرانو    مغرورکړی په ستاینوادیبانو
که اوس سل ګزه کوهي کښې ښکته پروت دی    ورته ځان ښکاري اوچت له کهکشانو

لاپې شاپې ځان ستایل غټې خبرې    که هرڅووي زړورې زورورې
قوت نه دی کمزوري اوبېوسي ده    شاعرانو وراغوستي خول او زغرې

دا اجیره او مجبوره دانائي    چه چونګښه د بلبل په نوم ستائي
له لیکواله یې ملا بنویس جوړ کړ    د آغا چه خوښه وي هغه وائي

# څلوريځې

ښځه حق لري دژوندا وکارکولو    لکه نردلیاقت ثرګند ولو
په دې شرط چه اهلیت وښئي په کار کښې    نه چه ځان ښئي په ځان سینګارولو

ماموریت که په ښه وجه ښه صورت وي    لبسرین پوډرته به څه ضرورت وي
کاروړانېږي نه وایمه چه څه کېږي    که معیاردلیاقت زیب وزینت وي

دځان ساتلو پوهه عامه ده هرچاسره ده    هم له انسان هم ځناورودصحراسره ده
دحق ساتلواودځان قربانولوپوهه    له اولوالعزمولویوخلکوددنیاسره ده

دکارخلک نه کوي ډېرې خبرې    دخولې شورکله کوي دجنګ لښکرې
چه سندرې جوړوي هغه وي غلي    سندرغاړي وا بې شپه او ورځ سندرې

فکرمه بیایه یوې خواته مدام    چه محدود نشي هرلورته کوه پام
مقیدېږي دګاډۍ آس غوندې نکړې    له اوهاموبې ساته په اهتمام

څه په کاربه دچاهغسې شوری وي    چه درېرې واک پې لاس کښې دملاوې
کله اورکله اوبه وي کله هېڅ نه    ګاه دوسپنونیني ګاهې حلواوې

ځینې ځینې تشوي پکښې ډک زړونه    ځینې نورغواړي چه ډک کړي تش جبونه
په وینا کښې چپ په رایه کښې چه راست وي    مخالفه بې ده ژبه نه لاسونه

هرچاهرڅه په یورازنه دي لیدلي    څوک یورازاوڅوک بل رازدي پوهېدلي
دګمان فریب که نه وي حقیقت کښې    چاچه نوردي غول ولي غولېدلي

# څلوريځې

په جهان کښې چه مردوده باداري شوه
روحاني رنګ کښې راووته پيري شوه
دپيرۍ او مريدۍ بازارچه سوړ شو
سياسي رنګ بې پيداکړليډري شوه

په ورانکاروچه کارونه جوړوي
حقيقت کښې جوړکارونه ورانوي
ياتګي ياډېره زياته سادګي ده
که بتان په بت پرستوماتوي

بدبيني نه ځي که ديدهم لاړشي لېمونه دچا
په تن مينځلوخيرى نه اوزي له زړونه دچا
يقين راځي اوځي ديوبل په خبروباندې
بدګماني نه ځي هېڅکله له معزونه دچا

په تعليم به يوڅوک پوه په زېروزورکړي
بې هنره به صاحب دکوم هنرکړي
ورپه سربه کړي خولۍ دپوهنتون
باورنکړم چه بدل ماغزه دسرکړي

له ځانه لري شه چه ځان ووينې
جهان نه اوزه چه جهان ووينې
نه ډېرنژدې ليدى شي نه ډېرلرې
نه به تورتم نه ډېرروښان ووينې

يوبېکاره او ناکاره به کاردارکړي
يوبې واکه اوبېوسه به واکدارکړي
د يابو زين او افساربه کړي دزرو
ګمان نکړم چه بدل به بې رفتارکړي

داعادي کتابي پوهه چه يادېږي
په ليک لوست باندې هرچا ته حاصلېږي
دماغي انقلابي نايابه پوهه
کله کله کوم شاعرکښې پيداکېږي

وژله يوازې دتېغ کارنه دى
مارهم قاتل دى خوخونخوارنه دى
چه بشري کرامتونه وژني
هغه ګڼلى چاخونکارنه دى

# څلوریځې

که انسان دخیټې نوم وي نورڅه نه وي　　پروانشته که پراته ورته وابنه وي
که دماغ سترګې غوږونه زړه اوروح وي　　بې هنره ژوندبه بلمنګه سابه وي

که هرڅومره غولېدلی عام نظروي　　ظاهربین ساده سطحي اوکوروکروي
که هرڅومره ښه منفوراوبد منظورکا　　بیاېې هم قضاوتونه معتبروي

چه شوتله په آخور کښې وي وابنه وي　　چه په مالګه په کاسه کښې شي سابه وي
دانسان دژوندون مالګه کیفیت دی　　فرق بې نه وي له حیوانه که دا نه وي

شاعربوسه غواړي کنځلوسره　　نه غواړي قندمخلوط له ګلوسره
کابینه غواړي اعتماد له شوری　　له سپکوسپوروبدویلوسره

دظالم دزړه چول کاردموسی و　　پکښې رحم اچول کاردعیسی و
ورکاوه یوه ظالم بل ښه کاوه　　یودعدل بل دمینې رهنما و

پیرکه خس دی بیاهم خپل مریدته بس دی　　مریدان دي دېرکسان که پیرناکس دی
له مریده بندګي دخدای مه غواړه　　که له خدایه ورته ګران پیریوپه لس دی

عقل هروخت دضعیف دلاس امساده　　له قوي سره که نه وي څه پرواده
ګوډاو ړوندبې امسا نشي ګرزېدلی　　تفنن دپاره لاس کښې دبیناده

په ضعیفه اراده عقل حاکم وي　　که قوي وه اراده نوبیاخادم وي
دبشرخدمت ته عقل پیداشوی　　په دې شرط چه روغ وجوړصحیح سالم وي

# ثلوريځي

عقل ګوري ارادې ته دانسان    چه تېرى كوي كه چاسره احسان
اراده چه هرڅه غواړي اوكوي يې    دى پيداورته دليل كړي اوبرهان

غلامي دذهن نه ځي له انسانه    دماغ كله ازاد پرې په اسانه
نه وركېږي غلامي رنګ يې بدلېږي    ځي بدن نه، مګرنه ځي له وجدانه

سياست كه په اسلام هم متكي وي    كه هرڅومره پرهېزګاراومتقي وي
بياهم هېڅ صرفه په قتل وقتال نه كا    مقابل كښې كه امام ددين علي وي

شمرنوم دهرظالم داقتداردى    چه لوى شوى په كاله كښې دسركاردى
په حسين كله لاس نيسي يزيدان    اقتداركه مسلمان وي هم خونخواردى

يوغلام دى داوهاموخرافاتو    بل درسم اودرواج اوعنعناتو
په دنيا كښې خوسل رنګه غلامي شته    دشهرت غلام بنده دمخلوقاتو

مجلسونوكښې ښه كېږي تقريرونه    تهنائي كښې پيداكېږي لوړفكرونه
چه هم فكرهم وينا دواړه عالي شي    اجتماع اوانزوادي دوه وزرونه

كه په چاباندې غالبه تنهائي شي    ژوندبېخونده شي چه محض دانائي شي
كه بېخي په جمعيت كښې شي څوك محوه    خوښي زياته شي خوكمه بينائي شي

يوه ښكلى ښايسته پري پيكره    بله توره ناشولته بد منظره
كميت كښې يې فرق نشته كيفيت دى    چه يوه يې كړه بلا بله دلبره

# څلوریځې

ګونګ مې ځیره ړوند مې آواز پېژني
کله مې دوست غوندې غماز پېژني
چاپه یورازچاپه بل رازولیدم
زمااصلي رازاهل راز پېژني

چه دچافکرمنفي نظرمنفي شي
عملي جنبه شي ورکه فلسفي شي
دشبنم طوفان پې مخه د کارنیسي
دلمدوختېوخولړاوبه کافي شي

ذره بین عقل ته هرڅه ډېر غټېږي
وړه پچه ورته لوی پېچومی کېږي
تېیټ وپاس ورته مهیب کاندي خپل وهم
دمږک سوری ګړنګ ورته ښکارېږي

بتان چه مات کړي بت دځان جوړوي
ځان نه ولي بل نه شیطان جوړوي
مریدان نیسي دالله په نامه
بیاترېنه ځانته بندګان جوړوي

په احسان غلاموي چه بل انسان
بیادعوه کوي دخیراوداحسان
داکه ستابشردوستي وي بشردوسته
لا به څه کړي که لېوه شي یاشیطان

خوښ مې دي لوی مجلسونه شورابي
یادفکرپه عالم کښې تهنائي
دملګروخاص مجلس ته خوشحالېږم
خوښ مې نه دي مجلسونه هرجائي

ظالم خوب کښې ډېرپه زوره خرېده
دی ویده و خو راوېښ بې کړه ویده
دایې خوب دی چه نورخوب ته نه پرېږدي
لا به څه کړي که له خوبه ویښېده

په یوه ډوډۍ مړېږي قلندر
په ملکونونه مړېږي سکندر
که څوک پوه شي بډا وږی فقیرموړدی
له بډای سره وي تل جوع البقر

# څلوریځې

مونځونه کړي خپوهم نکړي داسلام دپاره        حج ته دخدای دپاره نه ځي، ځي دقام دپاره
هرڅه چه کړي دقام لیډراصلي منظوربې داوي        چه په ولس کښې شي مقبول دخاص وعام دپاره

چه وکیل تش کاندي زړه جب یې ډکیږي        چه وزیرتیتوي سرځای یې لوړیږي
دوزیرلمنې لاندې مرداری        چه وکیل کاندي خوله وازه معلومیږي

خوار غریب خپه خیرات کله مړیږي        دبدای لوږه هیڅکله نه کمیږي
دشهرت داقتداردعزت وږی        ګڼه سترګې چه په غرونونه ډکیږي

راته ووې دنسواروتېکه دار        نسوارخوله کښې مانع کیږي دګفتار
سرکاري تېکه دار پوه په رمازه کړم        چه سرکاروکوي خلکوته نسوار

دجلال ښایست په ډېرسازوسامان وي        زیبایي دفقربل رنګه بل شان وي
سبرښه ښکاري چه لیس وي پورته شوی        ګل بید ښه وي چه سرښکته پرېشان وي

دانسان جوهردژبې ګویائي ده        همدغه یې زیبائي اودارائي ده
بې له ژبې هیڅوک هیڅ نشي موندلی        دانائي دلربائي که بډائي ده

په خوراک کښې وي دخولې برخه خوندونه        ساز سروداوښه نغمه اوري غوږونه
دښایست په ننداروسترګی خوږیږي        دمعنی په خوندپوهیږي دماغونه

چه جهادسیاسي نه وي مسلکي وي        سیاسي مراعاتونه لایعني وي
انحراف چه له مسلکه قبول نه کا        ناکامي هم ډېره لویه کامیابي وي

# څلوريځې

ډېراثرشته داور ژبوپه تقرير کښې    سحرپټ دی دويناطرزوتعبير کښې
په اذهانوکوي لوبې خطيبان    دوينا په مدوجزربم اوزير کښې

دهرچاچه حيواني قوت زياتېږي    نفس شيطان لره هغومره مغلوبېږي
که څوک غواړي چه غالب شي په شهواتو    په مرښت نشي داکارپه لوږه کېږي

کموي روژه غوښتنې شهواني    مضمحل کړي هوسونه نفساني
دروژې غايه همدغه شی دی ځکه    روژه نه نيسي صغيرشيخ فاني

چه محروم نشم دښه ژوندون له خونده    خلاص مې کړه خدايه ! دحرص حسدله بنده
له دوستانوسره زه ښه يم پخپله    له دښمن سره مې ته ښه کړه خاونده

خلک ودونه کړي په ډول په نغاره    فحاشي کړي ډېره پټه کناره
دزاهد پټه ګناه لري تينګ ستر    عبادت زهدوتقوائې وي ښکاره

څوک خپل فکر ته ملګري لټوي    څوک ملګروته خپل فکر بدلوي
چه خاوند دعقيدې وي په رښتيا    عقيده له چانه نه قربانوي

په دوستۍ کښې دښمنې خوغداري ده    که ښه نوم وربانده ږدې نوهوښياري ده
بدښه کېږي ښه بدېږي په خبرو    په ويناکښې خوهمدغه ساحري ده

داسطحي خبرې بادوړي بربادېږي    چه خبره وي عميقه پاتې کېږي
سطحي مه اوسه، خوډېرزيات که عميق شې    په خبرودې بيا خلک نه پوهېږي

# څلوريځې

په منطق او استدلال حق باطليږي
ياباطل دحق په ځای باندې درېږي
فلسفه عقل اوپوهه هغه وائي
چه انسان بې په ويلو خوشحالېږي

راغونډېږي ډېرعالم په مداري
يا چه غم وي يابښادي اوسيالداري
که څوک خلک راټول په يوملي هدف کړي
دېته وائي قيادت اوليډري

څوک په کار کښې لاس پښې کاندې ستومانه
دچازړه،روح اودماغ وي سرګردانه
دادتن ناارامي ډېره درته ښه ده
که دې ورکه ناارامې کړه له وجدانه

توره بې اخيستې لاس کښې نه ده توريالی دی
خوب کښې بې هم جنګ ليدلی نه دی بريالی دی
داسې تش نومونه دلته ډېرمونږ اوربدلي دي
رنګ بې دليدونه دی خونوم بې ګلالی دی

چه په ډېرمشکل پيدانوي معناکړم
په ډېرزيات کوښښ بې ښه طرز کښې اداکړم
وايم اوس بې پوهېدو دپاره چېرته
خليلي مجروح پژواک يا بل پيداکړم

چه زورنه وي ضرورت پېښ شي دليل ته
چه دليل بې وي کمزوری ځي تاويل ته
زور ورته څوک دليل نشي ويلی
دليل وايه!مساوي ياکوردليل ته

آزادي که خيراتي وي يادچامهرباني وي
افتخاربه پرې ونه کا که همت بې افغاني وي
قرباني چه پکښې نه وي هغه کله لوی اختروي
ازادی سره ترلی ډېره لويه قرباني وي

ستا جنت کښې خدايه حورې او غلمان شته
ښه قصرونه د ياقوتو د مرجان شته
نعمتونه رنګ په رنګ شته بې حسابه
په يو څو پيسو به بې خرخ کړي ملايان شته

د جنت بيه يوه خيته حلوا ده
يا د چرګ د غوښې ښه غوړه ښوروا ده
په دې شرط چه بې ملا صاحب ته ورکړي
د جنت کلي په لاس کښې د ملا ده

# څلوريځې

خوښه دې چه غلاکړې که فحشااوکه سودونه کړې    چاته جاسوسي کړې که په چاباندې ظلمونه کړې
دلته دعمل آزادي هرچاته حاصله ده    سردې د وهلودی که لړ ازاد فکرونه کړې

نه بې زړه کښې صداقت، مینه وفا شته    نه بې سترګوکښې څه شرم اوحیاشته
سیاست لري ځومخه څو اړخونه    وخت په وخت بې خوله کښې سل ژبې ګویا شته

قهرمان د سیاست دی هر یزید    ولایت لره په کار دی بایزید
شاهان فخر د دنیا په تخت و تاج کا    ادهم تاج نه بهتر وګاڼه تبعید

هیڅ به نشي په هر حال چه ته شکرونه کوی    یا هیڅ شی نکړې تش په خوله شکایتونه کوی
د قربانۍ او جد و جهد په راز پوه نه بې ته    چه لکه کونډه دعا ګانې او سوالونه کوې

یوې خولې بله خوله داسې وپوښتله    وایه څه شي مزه ډېره درکوله
هغې ووې سپینې خولې چه په غلا غلا مې    بیا او بیا سپینې سپوږمۍ ته ښکلوله

خولې څکلي د دنیا ډېر نعمتونه    خولې اخیستي دي له هر شي نه خوندونه
هله پوه دخولې په خوندشوم چه په خوله کښې    راته راکړه چا د سرو شونډو سرونه

دسر کارقدروقیمت ګوره په کاردی    که کارنه وي محض سر، نوڅه په کاردی
دکاردارټول اهمیت ګڼه په کار کښې    بېکاره کاردار بل شی نه، محض داردی

که وي شعرلکه دربنکلی آبدار    دصنعت هنراوفن عالي شهکار
ورته غوږ مه نیسه هیڅ ازادفطرته    که پکښې دغلامۍ وي څه اثار

# څلوريځې

بايد شعر شعورخلاص کړي له قيدونو
ترقۍ لورته رهبرشي دفکرونو

د اوهام وخرافاتوبتان مات کړي
وي منکردزوراوزردقدرتونو

د کار لويه! پهلوانه با همته
د مزدور په نامه ياد لويه قوته

دا جهان به لاندې باندې په يو آن کړې
که خبر شې له د خپل زور له هيبته

ستا په کار او زيار جوړېږي جنتونه
ستا په قهر کېښې پراته دي دوزخونه

ستا زحمت اصلي قيمت دی د جهان
هر څه ستا دي مګر تش دي ستا لاسونه

پرېشان که نن صاحب د زر او زور دی
ستا له لاسه بې دغم کانې په کور دی

چه په خوب کېښې بې وېرېږي له هيبته
توره نه ده د لوګرې د لاس لور دی

خان او بيګ، مير او ارباب، پير او پېشوا
بې زحمته د بل ګټه خوري وړيا

څو چه ورکه مفتخوري له دنيا نشي
نه سمېږي دا د زور ظلم دنيا

که طاعت اوعبادت هرڅومره کم وي
خدای دې نه کاچه شريک پکښې صنم وي

په رياچه دمخلوق دپاره کېږي
که شرک نه وي له ګناه سره به سم وي

که بې رنګه بې ريا زهد و تقواوي
له تګۍ برګۍ چل ول نه مبراوي

څوک بې کله بازارونوته راباسي
سودسودا له ره خوزهد دریاوي

که په پوهه مشهورشوی افلاطون
ترهغه شهرت کم نه دی دمجنون

شهرت نه غواړي عادي ژوندبلکه غواړي
ياپه سرتاج ياسرايښی په زنګون

# څلوريځې

داچه څوک څه شی له چاغواړی ارزان    حقيقت کښې خرڅوي ځان په احسان
ګران ارزان دی ارزان ګران دی که څوک پوه شي    په اصلي قدروقيمت باندې دځان

څوک چه له عشقه ناقرارنه وي    پوه په معنی دانتظار نه وي
غم راوينښ کړی اوپوه کړی نه وي    عقل بې بينازړه بې بېدارنه وي

خوند بې نه وي چه ژوند محض دانائي شي    بې معنی شي که يوازې عياشي شي
کم وکيف خوند اومعنی جلال جمال    چه په ژوند کښې شي پيداژوند انساني شي

که مې ژوند وي دزندان تورو کوټو کښې    که تک تورشم دسکروپه معدنو کښې
که مې سترګې شي ړندې يم په تورتم کښې    بياهم غواړم دحيات اوبه تيارو کښې

زړه شي خوښ چه سترګې وګوري ښکلاته    چه زړه ښه شي نوخوله جوړه شي خنداته
خوږاوازدغوږله لارې ځي زړه ته    داحال مه وايه کاڼه اونابيناته

هيڅ وخت نه وي بې شرابو بې کبابه    ملا خوره بې فحاشي کړه له هر بابه
سړيتوب بې کړ بې آبه تول بې سپك کړه    چه شراب څکل بې کړه ځان غوندې بې آبه

نه وايم له يوې مخې بې حيا دي    بد لمنې له هر لورې هرې خوا دي
دومره واز دي چه په هيڅ بند او واز ندي    د هيچا ندي يا دا چه د هر چا دي

بې ستره شولې ښځې او جونه    هم رشوتونه هم شهوتونه
ښکلابې ستره مينه بې ستره    محکوم په سترنرنرفکرونه

# څلوريځې

بزرګي خو نېک عمل زهد وتقواده          هسې نه چه په نژادنسب بناده
اوس چه چانسب نژادپوري تړلی          نژادي توپيرېږي ښه سمه معناده

خدای بې شکه بې شبهې احد صمد دی          چه صفت بې لم يلد و لم يلد دی
هغه پير چه بې له ځان نه خدای جوړ کړی          دده ولې يو نمسی او بل ولد دی

نه دي بد تمام غلجي يا دراني          يا ازبک يا هزاره يا ترکمني
نه تېول ښه دي نه تېول بد دي ولسونه          دي قانون نه مستثنیٰ دي لغماني

شخصي نظام چاته ډېرخه ورکوي          چاته خپل حق هم پوره نه ورکوي
کله دچا مخ ښکلوي په مينه          کله بيا ګوره سوک په خوله ورکوي

هرزردار ګوره دزرومالک نه دی          لکه هرپه سلوک پوه چه سالک نه دی
ددنيا طالب که هرڅومره فقيروي          فقيرنه دی دسروسپينوتارک نه دی

شخص که هرڅوک وي دڅوورځوحاکم وي          دده ظلم وي څوورځې که ظالم وي
خدای دې نکړي جامعه په ځان ظالمه          چه دا ظلم هم قايم وي هم دايم وي

دهقانان د زميندارو غلامان و          زميندار بيا غلامان د يوه خان و
خان تابع لکه غلام و د بې بې          او بې بې غلام لره جوړ کړی ځان و

وګوره خاني د چا بې بې دچا وه          ښکاره ځنګه پټه ځنګه مشغولا وه
د خانۍ ناموس ته څه حيا شوه پاتې          چه غلام باندې مينه زليخا وه

# څلوريځې

چه مې دښکلو جونو ناز ولیده ځان او جهان مې په بل راز ولیده
د زړګي حال نور پټولی نشم چه د لیلیٰ ګرېوان مې واز ولیده

وا پې خپله خوله قلا ده هم بلا د چا پوچه د چا ډکه له معنا ده
د دانا خولې ته غوږونه کړه نږدې ښکلولو ته پیدا خوله د لیلیٰ ده

دی ملي فرهنګ اساس دملیت هم ملي ثروت دی هم ملي قدرت
شعري پانګې دی "الفت" ډېرسهیم کړی په دولت کښې دکلتوراوثقافت

دیوه خوله سپی دبل سپی ددرو وي ببناکه خوله دسپکوزورورو
پوچه سپکه سپی خوله هېچاماته نکړه ماتوي خلک ډکې خولې له مرغلرو

تقاضادجګ اوټیټ نه وي یوشان راشه! وګوره باغبان او پالېزوان
یوټیټ بوټي ته مېوې پسې تیتېږي بل جګ ښاخ ته دمېوې لوړوي ځان

مچ که پاس دچاپه سرځای ولري که په لوی دسترخان خوري شکرتري
که دګل په پاڼه ناست وي ګلخانه کښې بیاهم نشي پرېښودی مردارخوري

که ماشوم لاس کښې نانزکه ګډوي لویان هم ماشوم په لاس کښې لوبوي
په ولس کړي حاکم لوبې په ده بل څوک سیاست رانه نانزکی جوړوي

دکارپوهه خوهم وېښه هم بیناوي شله نه وي له عمل سره اشناوي
سړه نه وي جاذبه لري دمینې ورسره اخلاقي تومنه دتقواوي

# څلوريځې

حب اوبغض دوه قوتونه دي انسان کښې  که يو نه وي بل هم نه وي په جهان کښې
هريوه نه پخپل ځای کښې اخله کار  پام کوه! چه يوهم مړنکړې په ځان کښې

که په ظالم څوک بلوسېدلی نشي  دمظلومانودوست کېدلی نشي
دخدای دپاره دښمني ده دوستي  خودادوستي هرڅوک کولی نشي

ميخانو کښې کله هغه شراب مومم  چه عالم د تصور کښې بې تل شومم
زه پخپل تصور خوښ يمه هر ګوره  که ذلت ته د عزت په خيال وردرومم

اې فکرونودماغونوکښې بنديانو  په عمري قيدمقيدومحکومانو
رحم نه دی بې رحمي ده که بدل شي  دمرګ حکم په عمري قيددقيديانو

دبلبلوپروازونه وي ګلزارته  دزاغانوپروازونه وي مردارته
زاغ مشهورپه هوښيارۍ دی بلبل نه دی  پټ په غوږ کښې داحال ووايه هوښيار ته

عنادپه زړه کښې توره لاس کښې کيرسر کښې لري  ډېرعذابونه ډېروخلکوته نظر کښې لري
پټې عقدې دظالم تريوتندي کښې غوټه ښکاري  خوله بې هم سپۍ ده اوخوړۍ سپۍ په در کښې لري

يوشان نه دي نصيبونه قسمتونه  کاتبانودازل کړي فرقونه
چابانکونه دي ډک کړي په ډالرو  چاپخپلوخدمتونوتاريخونه

ديوه آسوده ژوند کښې شرم وعاروي  دبل خواراوساده ژوند کښې افتخاروي
فضليت اوتقوی نه وي ډېرثروت کښې  ډېرمالدارسړی به ډېرلږايماندار وي

# څلوريځې

یوظریف نقل د هر مجلس و — په لطیفو یې خوښ دا اولس و
غلام نبي وځای یې چارباغ و — غني معنی کښې مادي مفلس و

اوس خاورولاندې چه نه غرېږي — تولو هېر کړی هېڅ نه یادېږي
غایب نظرنه غیب شي عالم کښې — خلک دخلک وژرژر هېرېږي

چاراوړې ځان سره ده بینا بې — چاپخپل مخکښې دحسن رنګا بې
چادښکلو ښایسته ترګودپاره — رانجه راوړه چادسترګوسلائي

دهغه به مادي ژوند ډېرخوار وزار وي — چه یوازې له معنی سره یې کار وي
دمادي او دمعنی مقابله ده — چه هریوشي ډېرغالب هغه بل خوار وي

هېوادته مخه چه دطوفان شي — ښارونه کلي کورونه وران شي
سره شي په وینو ډېرمیدانونه — یوه سړي نه جوړ قهرمان شي

چه تیاره راشي ډېوه رڼاشي — ډېوه مړه کېږي چه شپه سباشي
دډېوي ژوندی توروتیارو کښې — مهرویان شپه کښې رعنا زیباشي

دلته هلته لفظ بدلېږي او ورکېږي — معاني په هېوادو کښې نه بدلېږي
معنی روح ده لفظ جسد دی دمعنی — لفظ مړکېږي معنی بل لفظ ته نقلېږي

که مادي ژوند چابدل کړ په معنا — پوهېدلی په معنی دی دبقا
خوداکار کله شي هغه څوک کولی — چه راغلی وي مهمل او بېمعنا

# څلوريځې

په احتياط احتياط په لاره نابينائي — ړوندبې لارې نشي تلی که ځي بينائي
پلي خلک ويني لورې او ژورې — بډايان نه ويني زمکه په هوائي

يوڅه اصول دي ژوندانه ته ضرور — خوچه ژوندنشي داصولومزدور
ايديولوژي ښه ده د ژوندخدمت کښې — نه چه ژوندون ته شي باداريا تربور

عقايد که مذهبي که سياسي وي — چه اساس ېې محبت بشردوستي وي
په هرئيزم کښې چه وي ترې ځارېږم — په دې شرط چه تش نوم نه وي حقيقي وي

سياست موچه سرونه لوړوي — منارې موله سرونوجوړوي
سربازي کړي مقدسه مرګ ژوندبولي — سروهي سرلوړي سرته رسوي

احترام دسردتاج نه دمغز و — لوی توهين دی حقيقت کښې دسرو
قيمتي ګوهرپه غوږ کښې دخوبانو — بهانه ده ددولت داورېدو

يوه چاغ رنځورته وويل ډاکتر — دومره ډېره چاغي خوري دسړي سر
نورڅه مه خوره پس له دې غوښې دځان خوره — چاغ بدن دی قوي زړه لره خنجر

کارله فکره فکر کارنه شي پيدا — ګڼه چرګه اوهګۍ هغه اودا
فکرکاردی اوکاردی مجسم فکر — يووبوله ابتدابل انتها

سياست جاه و جلال دی دروزګار — دژوندون سابه په مالګه کړي سرکار
خوکه مالګه ډېره زياته شي ياکمه — بياژوندون لره مرض شي دفشار

# څلوريځې

که مزدور خان شي او خان مزدور — مجبور جابر شي جابر مجبور
ظالم بدلېږي خونه ورکېږي — نه حاصلېږي اصلي منظور

په نامه باندې چنګېزوي که تیمور — رنګ بې سپین وي که تک توروي او که سور
رنګ دې ورک شي نوم دې ورک شي د ظالم — زمهریر غوندې وي یخ که سور تنور

سره وسپنه په سره او رکښې پولاد شي — سره زر اور کښې شي زېور قدر بې زیاد شي
هر نبي دابراهیم مقام نه مومي — د نمرود اور کښې حاصل د پرلوی مراد شي

حسد زړه کښې دی حاسد لره سقر — جنت دی مینه ناک زړه او ښه نظر
د هر چا جنت دوزخ دهغه زړه کښې — غلمان حورې، مارلړم بې خیروشر

د مظلوم اوښکې ساړه آهونه — ظالم د پاره شي سره اورونه
ګناه ښایسته ده سړی بد رنګ کړي — د لولی سپین مخ تور کړي مخونه

ژوندی کېږي آزادي چه مړشي دار — دار زندان دازادی هم بې مزار
دسردارچه زړه کښې وي ازادي نه وي — نظر فکر احساس هر څه وي مهار

وا بې مه کوه خبرې کوه کار — بې خبرو کار په کاردی دبادار
دخر کار او دخره فرق به نو په څه وي — که خر کار لکه خر کار کړي نه ګفتار

کړي قدرتونه حماقتونه — عیبونه بې بولي خلک هنرونه
چه قدرتونه مخ په زوال شي — هنر بې هم بیاګڼي عیبونه

# څلوریځې

ښکلیتوب که وي بې مینې بې معنا    دویرده، دمینې نه ده مېړه لیلی
مبتذله اوناپاکه ښکلاهیڅ ده    دلولی دښکلاشرم وي بها

واېي: زینته المکان بالمکین    په ویونکي بې ووایه! آفرین
که تشناب هرڅومره ښکلی وي جوړشوی    مجبوریت دې ورته بیاېي نه تزئین

نوررنځوران ځانته دوااخلي    رنځورپښتون دم اودعا اخلي
بل له لیلی نه اخلي خوله هرساعت    دی په دې خوښ چه بې بلااخلي

چه لیلی شنه شي په نازوخاندي    ژوندي شي زړونه که وي نیمژواندې
په خنداښادشم اوهم ناښادشم    چه راته خاندې چه په ماخاندې

که نظرنه وای، نوښکلابه نه وه    که محبت نه وای لیلی به نه وه
نظراومینه دانسان پلار اومور    که نه وای آدم اوحوابه نه وه

یوفقیرکه سکه ورووي دغني    ورونه نه دي دښمنان دي علني
سرکشان زحمت کشان یومخلوق نه دي    په دې څه که یې منې وي افغاني

ماشومانو پټې لوبې په غلا غلا کړې    پټ پټهوني به یې پټې له با با کړې
جلی وویل هلك ته څم پټېږم    لټوه مې تر هغه څو مې پیدا کړې
یووکیل ته څوی ویل چه ولې پلاره    کارته نه ځې تنخااخلې له سرکاره
هغه ووې چه په کاراوپه خدمت خو    تنخاکاني مزدوراخلي له باداره

# څلوریځې

د دین باب کښې روحاني ندي مادي دي سیاست کښې د ملي روح منادي دي
د ملي روحیې څومره کړي ستاینه خو د دین روحیې سره عنادي دي

لېونی یونس ځنځیر کښې و تړلی مور په کور کښې زولنو کښې و ساتلی
نن په مرګ له زولنو څخه آزاد شو آزادۍ ته خوشې نه دی رسېدلی

ملا وویل لېونی مرفوع قلم دی ګنهګار او مسؤل ندی څه بې غم دی
چا ونه وې چه په داسې بې ګناه نو ولې شوی دومره ظلم او ستم دی

غذا ګېډې له غني سره ده د روح غذا له مغني سره ده
مادي غنا نه بې نیازه غنا غني سره نه، مستغني سره ده

که خبرې وي د دروغو نغاره لفاظۍ کښې ډېره لوړه مناره
ترینه ښه ده یو په سله یو په زره د صادق ګونګي د ګوتې اشاره

په عادي حال کښې عادي غونډې انسان یم د ژوند چارو کښې له ډېرو نه نادان یم
په بل حال کښې څوك زما په خوله څه وائي چه بیا زه پخپله هم ورته حیران یم

د عشق تور دی د عاشق د سترګو تور سر بلند شي چه په عشق کښې شي سر تور
په مذهب د سوولو پتنګانو د طوبیٰ سیوري نه ښه دی د عشق اور

سیاست زور ته زېب زینت ورکوي قانوني رنګ د عدالت ورکوي
له شخصیت نه اهلیت اخلي بې شخصیت ته حیثیت ورکوي

# څلوريځې

هر ښايست نه دی لايق د مينې    په خوی بد رنګې په رنګ رنګينې
تشناب په نقش و نګار ښايسته دی    ښکلا سره بې بد بويي وينې

بې طلبه مطلب کله وي جالب    په طلب شي يو مطلوب او بل طالب
د طلب هڅه کښې پټ دی د عشق راز    په هجران کښې پټوي ځان مطالب

ژبه په وينا ژوندۍ ده سترګې په نظر    کار خانه په کار، او آژانسونه په خبر
زړه ژوندی په مينه، سر ژوندی په فکر باندې    ژوند د نظر فکر وينا مينې په هنر

وايي چه خبرې له خبرو پيدا کيږي    فکر په وينا کښې زرغونيږي او لوئيږي
څوك چه د خبرو نسل قطع په سکوت کړي    وژني معنی فکر د فرهنګ کور خرابيږي

وايي چه خبرې له خبرو پيدا کيږي    فکر په خبرو کښې کړي وده او لوئيږي
نه وای که خبرې هيڅ به نه و په دنيا کښې    هر څوك د خبرو په قيمت کله پوهيږي



# د حال ژبه

وخت د قیل او د قال ندی حال ته ګورئ　　اوس د حال په ژبه کېږي تکلم

کله وخت د ژړا کله د خندا وي　　مناسب نه وي ماتم کښې تبسم

روزګار بیا تندی تریو کړی دی په قهر　　امید مه کوئ د چا د ترحم

د خوارانو غریبانو ځوی به نشي　　نازولی ځوی د ناز او تنعم

د قیامت انتظار څه کړئ همدا اوس شته　　چا ته حورې غلمان چا ته جهنم

ژبه بنده قلم بند فکر بندي دی　　د حال ژبه بنده نکړه تظلم

غمازان بېړ بېړ غړېږي نور تول غلي　　یو شاعر له ځان سره کړي ترنم

خلك ځكه وي چپ ناست ماتمخانه کښې　　چوپتیا ده، ډېر شه اظهار د تألم

# ولې ؟

زړونه ساړه نغري ساړه آهونه هم شو ساړه　　د ظالم زړه په مظلومانو نه سرېږي ولې

په اور بې وسوه او ایرې بې چېرته باد یوړې　　د آتش مزاج تاوونه لاز یاتېږي ولې

پسرلی راغی طبعیت کښې انبساط راغی　　غوټۍ غوړېږي غوټه تنده نه غوړېږي ولې

شوه سرمایه غاړه غړی له سوسیالیزم سره　　عالیجناب خلکو سره نه پخلا کېږي ولې

دا څه بلا ده چه له داره بې بلا اخلو　　که بلا نه ده نو هر څوك ورنه ډارېږي ولې

د سر سړی خوري او بې سرو ته خطر نشته　　په داسې حال کښې خلک، له سره نه تېرېږي ولې

# که پیداشي

که پیداشي محبوبه ښکلې طنازه — په احسان اوحسن دواړو کښي ممتازه

مینه ناکه حیاناکه لمن پاکه — زړه ساتونکې عشق پالونکې ښه همرازه

نه مغروره په جمال نه کبرجنه — نه دحسن سوداګره نه چلبازه

په عرفان باندې مینه دل آګاهه — دنظرپه ژبه پوهه بې آوازه

چه مې زړه په یو نظرلمبه لمبه کړي — اوآګاه مې کړي دعشق له سوزوسازه

چه شي ماته لکه شمع دل افروزه — له دنیا اومافیهامې کړي بې نیازه

ښکلي شعر کښي به ښکلی مقام ورکړم — ترې به جوړه موسیقي شي دلنوازه

دصورت ښکلابه شي معنوي حسن — حقیقي عشق به پیداشي له مجازه

# په داسي حال کښي

چه زورحاکم وي، ظلم وي مشاور — وکیل جابروي یاوکیل دجابر

حقوق دانان وي نوکران دخان — قاضي فاسدمفتي فاسق اوفاجر

جرګه دصلح وي خانان ملکان — هریوله بل نه غلطۍ کښي ماهر

شاهدکذاب وي مصدق بې خاین — دحق لیدوته ړوند، قدرت ته ناظر

رشوت رایج وي واسطه نافذه — کوي ډېرکاردچا لحاظ اوخاطر

مساوات نه وي، وي تبعیض امتیاز — حق ته نظروي ببخي شاذ اونادر

دعوه وی مینځکښي دفقیراوغني — یوډېرغریب بل دالماسوتاجر

یودقاضي په وره کښي څوک نه پرېږدي — دبل په وره کښي قاضي هروخت حاضر

يوله نظره دهرچالويدلی
دبل ساقي ستايي غزل کښې شاعر

يوخوا خيرن زاړه شکېدلي کالي
بل وي اغوستي لباسونه فاخر

په داسې حال کښې عدالت غوښتنه
دحماقت خوهم يوحدوي آخر

## ښځه

پوهيږئ! ښځه څوک ده؟ ضامنه دبقاده
دښځې په وجود کښې ماشوم مينلې ساده

ملګري د ژوندنه ده منبع دژونداوروح ده
"القاهاالی مريم" دخدای حقه وينا ده

ژوندون پې دعالم ژونداموردژوندانه ده
هم موردمسيحاده هم خپله مسيحاده

ښکلاددې صورت کښې پيداکړه ډېر ررنګونه
په يورنګ اوبل رنګ کښې دخپل مجنون ليلی ده

آدم نه تردې دمه هرچاده خوښه کړي
دهرنظرمنظوره دهرزړه تمناده

چادلته پيداکړې څوک ځي پسې جنت ته
ښايسته دجنت حوره بل څوک نه ده همداده

دنياته چه راغلی اول بابا آدم دی
په ځنګ کښې بې ولاړه زمونږ بي بي حواده

ملګرې دسفرشوه ساره دابراهيم
ښايسته ماريه ځانته بللې مصطفیٰ ده

دحسن په قصه کښې دعشق په افسانه کښې
مشهوره په عالم کښې د مصرذليخاده

فرهادته ده شيرينه له هرچانه رنګينه
وامق ته ډېره ښکلی له هرچانه عذراده

آدم ته درخانۍ ده موسۍ ته ګلمکۍ
دفتح خان دپاره چه هرڅه ده رابياده

په سردې د غم پېټی سريه! که ډېردروندوي
چه ورک دې کړي غمونه دسروشونډومسکاده

توښه ده دخوښيودرازرازرنګينيو
دژوندهره صحنه کښې ددې دمخ رڼاده

سوفيا، تايلرهنر کښې عرفان کښې رابعه ده
په جنګ کښې دميوندخوملالـه بې همتاده

کوتره شوه دصلح سکندرته رخشانه
دحسن ملکه خودزړه جهان کښې داده

کولی شي چه خوږکړي یاتریخ کاندي ژوندون
هم ډېرلطیف نسیم دی هم طوفاني هواده

کړي سپک داوږو پېټی سپره شي په اوږو
دعیش آرام بستردی باعث دنارامتیاده

سبا تیکري کښې پټه بېګابله ډیوه ده
دورځې مروره دشپې ښه ده پخلاده

اختردقربانیو، اوغواؤي قرباني
وصال بې کله کله دسراومال بهاده

دځوکړې دردسره بې دځوی زېری ملګری
یادرنګ ساعت ته ویردی یاډکه خوله خنداده

په غېږ کښې بې ماشوم خوښ هم پلارد ماشومانو
اولادته مربي ده پلروته مربا ده

# دلبراوستمگر

عنادپه زړه کښې توره لاس کښې کبرسر کښې لري
کبرجن کله رحم زړه کښې زړه ځیګر کښې لري

دشکنجودځورولورنځولوکار کښې
ډېرعذابونه ډېروخلکوته نظر کښې لري

پټې عقدې دظالم تریوتندي کښې غوټه ښکاري
خوله بې هم سپې ده اوخروړې سپې په در کښې لري

زورددنیاکه دښکلاوي په هررنګ کښې چه وي
کبرغرور په ستمګراوپه دلبر کښې لري

ښکلي لري دولت دحسن سرمایه دغرور
ظلم وستم وسله په کور دتوانګرکښې لري

زلفی ماران که دلبران لري مینولره
تورمارد ماردزهروآب تېره خنجر کښې لري

که دچازړه د لبروي وړی، اود لبرسره وي
نشته پرواکه دلبربا، دلبرپه بر کښې لري

سیاستونه ضدپه ضد کښې پټوي هرکله
ظلمت د ظلم، داحسان عدل په لمر کښې لري

ددقیانوس دوخت زاړه ارتجاعي فکرونه
نووځملوته په لباس دمنور کښې لري

# په غلا غلا کتل

پخواد زلفوپه تیارو کښې میني غلاکوله
له پلولاندې ښکلا پټه تجلاکوله

دګل په شان وغلې غلې مسېدا دښکلو
پېغلو په شونډو کښې نری غوندې خنداکوله

مابه په غلاغلا کتل تاته تابه ښکته کتل
خدای دې خیردرکړي چه ماغلاوتاحیاکوله

راته دې ځکه نه کتل چه درته سم وګورم
نظردخپل منظورپه باب خدایږوبلاکوله

که دې کتلي راته، مادرته کتلی نشوه
اعتنانه کولو کښې دې اعتناکوله

دزړه درزادي راته حال ستادزړه دپرښه وایه
دحال په ژبه دي له ماسره نجواکوله

په خوله دي ست دسپیني خولې که راته نه کولو
داسلاماته ستا دسروشونډومسکاکوله

په حرکاتوسکناتودي دپرښه پوهېدم
آفرین ماته چه بې ماخه ښه معناکوله

مادرته سترګو کښې ځای درکړتاپه زړه کښې راکړ
خوپه ظاهره به موضوع ناآشناکوله

دشعریت کښې مې وصال دعشق اوحسن ومونډ
"الفت" هنرنه بس همدغه تمناکوله

# زما کار

چه توراوربل په سپین مخ وویم غزل جوړوم
بل کارمي نشته شهلاسترګوته کجل جوړوم

بکره معنی ښکلي کومه دهنرپه سینګار
دذوق لیلی ته دښکلاؤ تاج محل جوړوم

توري تیاري چه ورکې کړم دحقیقت له مخې
له عشقه اوراخلم له ځانه رون مشعل جوړوم

چه افسانه شمه په عشق کښې زمانوته یادګار
لکه مجنون ځان نه دعشق ضرب المثل جوړوم

چه دچاخیال خاطر کښې هیڅکله ونه ګرزمه
چه په درشل کښېدي شم خاوري ځان نه شل جوړوم

وصال دې نه غوارم پټ نه درځم په توره شپه کښې
دعشق په کار کښې زه له ځانه کله غل جوړوم

که زه دې خيال کښې نه يم ته خوزماخيال کښې يې تل
هره شيبه دې خط وخال ځنې اربل جوړوم

چه نظرونه پکښې بندشي له نظره نشي
لوګی کوم درته ځان، زلفې دې ولول جوړوم

دسترګوتوربه دې شم زه که دې زماپه سترګو
خپل جمال وليدچه بې څومره مجلل جوړوم

وايي دشعر رب النوع د"الفت" په ژبه
سياسي لوبوته نه شعرته اجمل جوړوم

چه پکښې مينه اوښکلافکراوخيال کړي نجوئ
د "الفت" بيت کښې دمعنی رنګين محفل جوړوم



# د ژوند مرثيه

نشاط مړشوپه وجود کښې آرزومړه شوه　　دازماوجوددمړوهدېره شوه

لکه وچه خاده يم په قبربان دي　　اوجنده مې دلوخ تن لنده جامه شوه

نه بلبل شته اونه ګل دژوندپه باغ کښې　　خزان وچ کړم ورک مې سيورى اوميوه شوه

که دا ژوندوي، اومرګ نه وي، مرګه راشه　　دژوندون خوا اوس په مابان دي سړه شوه

مادخپل اوسني ژوندتصويرايستلو　　خودژوندنغمه دخوارژوند مرثيه شوه

ځنګه ومه ځنګه شومه؟ خبرنه يم　　چه دچاله غاړي دغه مظلمه شوه

# زړه اوضمير

زمازړه زما ضمير　　په سرستړګودي امير

څه چه وائي هغه وايم　　که سندره ده که وير

غوړاوسترګي ويني اوري　　دلپسنداودلپذير

هرڅه کړم دزړه په خوښه　　که محسن يم که شرير

ښکلوي رابان دي زړه　　تک سپين مخ بدرمنير

بل وخت بياراباندي ښکل کړي　　سپينه ږيره دفقير

# زر

هرصورت قبلوي زر | هيولئ دخيروشر
خولي ته خوندشي غوږته ساز | حسن ته ښايسته زيور
دشهلاسترګورانجه | هم عينكي دنظر
دمستيوسرمايه ده | عقل فكردى دسر
هم شراب شي هم كتاب | كله عيب كله هنر
بلا دفع كړي بلا ده | چه هم سپردى هم خنجر
چاته شهدچاته زهر | هم جنت دى هم سقر
دشاهانودسرتاج | خوارغريب لره شي خر
دصوفي پاك جاى نماز | دلولئ نا پاك بستر
زرق وبرق دفحاشئ | دحيادسرڅادر
هم مسجدهم ميخانه | پري ښايسته غم واختر

# دژوندستور

دژوندون دود و دستور | كله خوى اوكله لور
ظلم جبر، انصاف عدل | خيرغوښتنه كله چور

که واده پېږي دی که غم دی | دځاروو په وینوسور
په مذهب دجبرهرڅوک | پیداشوی دی مجبور
ګوډتیمورکله منلی | ګوډعذرونه د معذور
ماتوي غرور دنورو | څوک چه ډېرلري غرور
دبدرنګي په نظر کښې | ښه مخونه وي منفور
دنظرمحوه کول وي | دړانده ظلم منظور
په ژړا دخلکو خاندي | په غمو بېي وي مسرور
زړه بېي هغه وخت یخیږي | چه جهان کړي سورتنور
ده مرښت داستعمارته | عالمي لوره ضرور
کوم پرهارچه نه جوړېږي | تري جوړزخم دناسور
دحق ژوندي دی حقیقت کښې | مرګ اومړینه دمنصور
تریګني راژوندي کېږي | په وژلودتربور
چه یوکلی په مرګ وران شي | ګورستان بېي شي معمور
دیوه مرګ دبل ژوندي | دطبیب ژوندپه رنځور

# دعشق جنون

دخوشحالیورونږ سباوون | توروتیارو کښې دغم شبخون
تحولونو دزماني | ګردش د ستورو ، دوردګردون
دزوروروجاه وجلال | مال ومنال دفرعون قارون
دم اودعا دپیروفقیر | قهراومهردهمایون
نصیحتونو دحکیمانو | عقل اوفکردافلاطون
په ماونکړهغه اثر | چه په زړه وکړدعشق جنون

کړمه له هرڅه زه بې نیازه — زړه کښې سازونو دارغنون

ګنج ددولت مې په خرابو کښې — ومومند چه عشق کړم خراب زبون

هنرد شعراته عطاکړ — ګلګون رخسار په، ډېرجګرخون

دشعرتورو کښې وینم ګورم — دسترګوتورد ، لیلی مجنون

بصارت شولوبصیرت زړه کښې — دسترګونوردی دزړه مضمون

په اکسیربانډې دمحبت — دمهرویانو په یوافسون

زه بیخي بل شوم بل مې جهان شو — بدل مې یون شوبدل مې تون

ظاهري نه دی جسماني نه دی — ثوک لیدی نشي زما بدلون

زه هغه نه یم اوس چه پخواوم — دی زماکله زما پرون

ماولید بل چالیدلی نه دی — له خپله ځانه دځان بېلتون

"الفت" مومندلی فیض له الفته — ښه ده چه نه دی دچامرهون

# حسن او نظر

حسن دې که ډېره تجلی لري — ړوند دمهرویانو څه پروا لري

څېرته چالیدلی اوریدلی دی — داچه ښکلي نازپه نابینا لري

نشته ښکلیتوب که بینا بې نه وي — سترګې دي چه وابې یار ښکلا لري

تورتیکری دې تورزما دسترګودی — ځکه زما سترګو کښې رڼا لري

سترګو کښې دې ځای دی که هرځای کښې یې — سترګې تور دسترګو کښې لیلی لري

وابې سترګې ډېرڅه په کتلو کښې — غوږېې ناوري زړونو کښې غوغا لري

نه ده بې ادبه دلېموژبه — سترګې خو له سترګونه حیا لري

حسن او نظر په شهلا سترګو کښې
بل اثر بل کيف بله ادا لري

کله وي ښايست په رندو سترګو کښې
حسن ځای نظر کښې دبينا لري

مينه دښکلا، ښکلا دميني ژوند
يوکه نه وي بل بېي کله سا لري

تاښکلا بندې کړه او ما مينه کړه
دواړه دازادژوند تمنا لري

خير دی که دې حسن له نظره شو
بې نظره حسن څه معنا لري

مه پټوه سترګې زما سترګونه
سترګې پټول څومره ګناه لري

ژوند غړوي سترګې پټوي يې مرګ
وګوره! ژوندون څه تقاضا لري



# اولوا الابصار

عارفان دزړه په ستر ګو ګوري یار — دسرستر ګوباندې پېژني اغیار

حایل نه دی هېڅ حجاب دزړه دستر ګو — نه يې مخه تیاره نیسي نه غبار

لمرتري نشي پټولی توري ورېځې — نه حاجب ګرزي مانع اونه حصار

صاحبان دزړه، دزړه په غوږواوري — آوازونه دسکوت اود پندار

چه ولاړوي تولږ شپه قایم اللیل — ورته یووي ددنیا لیل ونهار

دحال ژبه وائي حال صاحب دحال ته — په دې ژبه پوهېږي اولوالابصار

په رښتیاچه بېدارشوی له غفلته — مرګ هم نه ویده کوي هغه بېدار

زړه ازار د صاحبدل شي چه زیارت ته — کله ورشي دل ازارمردم ازار

چه مالک دخپل ژوندون وي مرګ يې نشته — مري هغه چه يې ژوندون وي مستعار

فیض رسان اوالهام بخش دی دژوندیو — ګازرګاه کښې دهرات دپیرمزار

دېرنقشونه محوه شوي محوه نشو — په افکارو کښې دده نقش ونګار

دصورت سینګارلږوخت وي بیازایل شي — زوال نلري معنی په روح سینګار

آلهي نامه يې در دی بې نظیره — په نظر کښې په غوږو کښې دروزګار

سل میدانه دعرفان يې دی وهلي — چالیدلی دی بل داسې شهسوار

تش دقال خاوندخونه ودحال هم و — دېربې حاله کړه په حال دده ګفتار

ددین لاره شوله هرلورته ازاده — چه ملګری ئې دلارې شوه انصار

دقدم نقش يې ددین لاره کښې اوس هم — راته ښئي ګازرګاه اوپای منار

شهداء الصالحين دي ددين ستوري
اوتميم انصارپکښې شمس النهار

دعرفان لومړی قدم هغه قدم دی
چه دنیا کړي پښولاندی نفس مهار

اخلاص دی رهبردلاري دعارف
ددنیا توښه تري ورکه کاندي لار

چه خوب پرېږدي غفلت پرېږدي راحت پرېږدي
باطني احساس شعوربې شي بېدار

طریقه دصوفي لاردخارو ،نه ده
نه دالارده دموټراوتېزرفتار

ده دفکر، ذکر، زړه اونظرلاره
غواړي صبر، قرباني جهدوایثار

خوچه نکړي غرورکبرپښولاندي
ترمطلبه نه رسېږي کلا نکار

له فطرته سالک راغی وارسته
آزادقیدنه ددرهم اوددینار

حرازادی څوک چه وي ازادمنشه
چه بې نورآزادوي نه دي احرار

دصوفي سترګې مړې دي زړه ئې موړدی
که هرڅومره وي په نس وږی نهار

مالګه نه څکي دچا نمکخورنه دی
زړه غني اومستغني نفس بې دېرخوار

ژوندبې نه دی دهواود هوس
بې هواوي دعارف داروديار

زړه بې پاک طینت بې پاک نظربې پاک دی
په غسلونودتوبواواستغفار

له عیشونوله خوندونوبې زړه موړدی
غبطه نخوري که هرڅه خوري دنیادار

یوخوړلوبل خورولونه خونداخلي
نه خوړلونه خونداخلي روزه دار

دعارف خوندونه نوردنورونوردي
دنېکی په مزه پوه دی نیکوکار

هغه خوندچه لري جام دشهادت
بې شهیده څوک تري نشوخبردار

هره خوله کله ده جوړه هریوخوندته
اخلي خوند فداکاری نه فداکار

سرددارد حق منبردی منصورڅکه
اوچت کړدحق اوازپه سردار

دعارف زړه کښې پوازې دخدای ډاروي / شرک یې بولي که یې زړه کښې وي بل ډار

بې له خدایه چاته سرتیتوي کله / که یې سرله تنه غوڅ کړي اقتدار

ادهم سر ددولت تاج ته ښکته نکړ / چه یې سر کښې خیال پیداشو ددلدار

بې زواله پادشاهي کاندي فقیر / حقیقي فقیرته ټیټ سر دتاجدار

دمحمودباغ سپېره ډاګ شو غزني وران شو / حدیقه د سنايي هزاربهار

بلخ وران شوی نه یې جاه نه ئې جلال شته / مولا ناجلال الدین دی ګوهربار

لاتراوسه یې د نی اوازغوږو کښې / وایې زړونوته دعشق خفي اسرار

دهرات زاړه اثاریې ورکېدو دي / دخواجه انصاراثاردي فیض آثار

هېروي زمانه ډېرخلک له خلکه / هېروی نشي هېرې دده یادګار

نه ورکیږي نه یې څوک شي ورکولی / باقیات الصالحات رانه افکار

# خبرنه و

یوه بل نه په ډېرلیازاوامتنان / څه شی واخیست له اصلي نرخه ارزان

خریدارله حده زیات و ډېرخوشحاله / ډېر یې ومانه په سر، سترګواحسان

وېلې تل به مې وي سترګو کښې نیکي ستا / ستانیکي به هېره نکړم په هیڅ شان

بل چاووي خرڅوونکي ته چه ولې / تاپه دي سودا کښې ومانه تاوان

ددنیاسوداخوده دسودپاره / کوي کته پکښې هروخت هوشیاران

چه یې ګران واخلي اوخرڅ یې کړي ارزانه / هرسړی یې کوي حکم دنادان

په ځواب کښې ورته ووي خرڅوونکي / مشکل کاردی پېژندل دسودوزیان

ګټه ماکړې هغه دې غولېدلی　　نه وینې ته هغه سودچه وي پنهان

ماپه لرې غوندې تاوان چه ته یې وینې　　ډېرارزانه دې اخیستی یوانسان

دهغه ګمان وداچه یوځه اخلي

خبرنه و، چه په ماخرخوي ځان

# اقتدار

چه بې ځان دخلکو کړعلمبردار　　چه بې نه ولامونه دلی اقتدار

چه له قهره آمریت ته رېږدېده　　چه بې لاړې توکولې په دربار

چه نظام بې دهرڅه مسئول باله　　چه دښمن بې داولس ګاڼه سرکار

چه بې نه وه دښمني اشتي پذیره　　چه بې هرحکومت وباله غدار

چه راټه بې تملق ددرباریانو　　چه دیوتن ټولواکۍ ته وپه قار

چه غلیم ودباداراوبادارۍ　　چه بې خلکوته غوښتلو خدمتګار

چه قدرت ورغی لاس ته اوکاردارشو　　چه چوکۍ داقتدارورکړه روزګار

چه حاکم شوچه رئیس شوچه وزیرشو　　ځان بې ورک کړخلک بې هېرکړه په یووار

چه بې لاس نه رسېده آلوتروه و　　چه لاس برشوآلوډېرشومزه دار

چه دربارپه مینه مینه غېږکېښې ونیو　　درباري شو اومداح شوددربار

چه رڼاورځ دسرکارئي شپه ګڼله　　بیابې توري شپې ته وې نصف النهار

کلمه دوحده بې ورته ووې　　لاشریک له وینا شوله دیار

چه صاحب شوددربار، دربارتونکی　　کړه بې هرڅه ددربارله سره ځار

چه بېې خوندولید دمدح، تملق ډېر — شوداخوندورته خوندونو کښېږ سردار

چه آمرشو اوهرڅه بېږ شوه په لاس کښېږ — چه ئې واوریده صفت خپل په باربار

خیال بېږ بل شوحال بېږ بل شوسرې بل شو — خدمتګاربېږ هم دخلکوشوبادار

چه اصلي څېره دچابنئې هرچاته — اقتداردی اقتداردی اقتدار

# مزدورې سترګې

سترګې بېږ نه وې زورورخان و — څوک بېږ نوکروڅوک مزدوران و

اړاومحتاج وصاحب نظرته — دامیدلاس بېږ اوږد و نوکرته

یوازې نشوېه لاره تللې — لاس به بېږ بل و لاس کښېږ نیولې

یومزدورخاص و، ددې دپاره — چه خان به بیا بېي په سمه لاره

دمزدورسترګې ځاروې له خانه — په خان ګرو وې ډېرې ارزانه

بینابېي خرڅه په نابیناوه — ځکه ډېره لږه بهاوه

دسترګوحق وړانده خوړلې — خومزدورنشوخپل حق لیدلې

اصلي ړوندی وخوخبرنه و — په حقیقت کښېږ سترګورنه و

چه نابیناوې شعور، احساس — مزدورآله وې دبل دلاس

دخان رهبروې دخان مزدور — دادخانې دی دودودستور

دمزدورسترګې شوې دخان واک کښېږ — بینائې راغله په استملاک کښېږ

دبل دپاره په کاربدله — بل ته بېږ لاره دتلولیدله

په خان ګروشوې سترګې ارزانه — مزدورې سترګې قربان له خانه

# ملي قدرت

په رښتیاهغه ملت وې بختور — چه لرې ملي نظام ملي رهبر

وې اصلي حاکمیت دخلکولاس کښېږ — حکومت وې دملي قدرت مظهر

جامعه پخپله وي په ځان حاکمه / دعامه افکاروي قوي اثر

نه تبعیض نه امتیازوي نه تیری / په حقوقو کښې وي خلک برابر

دهرچااعتمادوي په عدالت / قوانین وي له هرچانه معتبر

آزادي دیموکراسي وي واقعي / خطرنه وي کرامت ته دبشر

مخور مسلط نه وي په نظام / اهلیت اولیاقت وي مخور

سراومال وي په امان فکر اونظرهم / زورورچه پکښې نه وي پخپل سر

## محمد (ص)

محمدبې اوره دخدای هغه انوارولیده / چه خلیل اور کښې ولیده، موسی بې نارولیده

لیده بې هرڅه چه دعلام الغیوب په نظر / دده لیدلي کله سترګوداغیارولیده

په مدینه کښې بې لیده قیصر کسری سرنګون / چه په خندق کښې بې تاثېردخپل ګذارولیده

سترګې بیناشوې درانده علم دده په عرفان / چه فیلسوف پرې پوهېده عارف عیارولیده

نوې منظورته بې پیداکړ بیخي نوی نظر / تیارو کښې ورک انسان دبل عالم اسرارولیده

راغلې دنیاته محمده! هم یتیم هم فقیر / نه دې راحت نه عیش نه مهردخپل پلارولیده

په مصیبت کښې شوې پیدا په مشقت کښې شوې لوې / ددنیا ژوند دې له اوله خواروزارولیده

دمورله مینې شوې محروم هم دنیکه له مینې / په ماشوم توب کښې دې غمونه په بارباروليده

هرچانه سخت دښمن خپل تره ابولهب شودرته / پردې اوخپل دې ځانته ټول خومره په قارولیده

یوازې خدای ته پاتې شوې دخدای اسره وه اوته / څوک دې بې خدایه نه حامي نه مددګارولیده

نورټول دکفرپه خوا، یوته د اسلام په خوا / یوازې نه وې ځان سره دې کردګارولیده

ستا دښمني جنګ او جګړه د پروخدايانو سره
د جهان ستر ګول مرسپوږمۍ ليل ونهار وليده

دخدای په مرسته يوېتيم يسير فقير امي
دجهان د پرلوی انقلاب ته ځان تيار وليده

نه ببوسې نه د پرقدرت تغيير په تا کښې راووست
استقامت دې هروخت هرچا پايدار وليده

دنيا بدله کړله تا دنيا بدل نکړې ته
که دې خوښې او کاميابۍ که دې ازار وليده

د پرغنايم او د پرې فتحې دې په برخه شولې
د پردې غنيان کړه خوخپل نفس دې مدام خوار وليده

پخپل سيرت بې ستا په شان ثابت قدم ونه موند
که زمانې هرڅو مره د پر ثابت سيار وليده

درياضت لوړې سختۍ دې په ځان تېرې کړلې
مزو چړچو عيشونو کله ستا دربار وليده

تيارې دې ورکې کړې دحق رڼا دې کړله خپره
داسلامي عدالت لمردار ودي يار وليده

دلېوه وېره دپسه په زړه کښې پاتې نشوه
چه بې ستم ظلم وحشت اوزورمهار وليده

سرکشان وارې پرېشان شوه فرعونان شوه حيران
چه مومنان بې اشداء على الكفار وليده

لارې دې جوړې قافلې او سالاران دې کړه جوړ
خلک دې جوړ کړه د پربې لارې دې په لار وليده

تامحمده!دايمان قوت جهان ته وښود
ستا په تعليم دخپل ايمان زور ايماندار وليده

دغلام خپولاندې غرور دابوجهل پايمال
په تعجب په حيرت ستر ګو دروز ګار وليده

تاسرداري کړه خدمتګاره دبشر د پاره
تاريخ بيا بيا ستا دصديق، عمر کردار وليده

هغسې عدل، مساوات چه تا دنيا ته راووړ
نظير يې بيا نه هيڅ نظر نه انتظار وليده

لوی انقلاب دې راپيدا کړ دانسان شعور کښې
په روح په ذهن ،زړه ،نظر کښې مو ستا کار وليده

د"لاتحزن" د" ان الله معنا" اطمينان
چه چاته ورکړ تا هغه بيا کله ډار وليده

دهغه ستر ګو کښې بيا و لکه چينجې دختو
که راروان به بې دځان په لورښامار وليده

په نوې روح دې دا زړه دنيا کړه ببرته ځوانه
دجهان کونډې بيا په ځان کښې ابتکار وليده

خپل کاردي خلاص کړرسالت دي سرته ورساوه
مطمئن لاړي چه اساس دي استوارولیده

هغه معماروي چه نقشه دي دجهان کړه بله
جهان بیا کله ستاپه شاني بل معمارولیده

څوک چه لوی شوی په غومشقتونوکښې و
هم مو نبي هم موحکیم هم لوی سالارولیده

## پاکه مینه

دمومن په زړه کښې مینه وي د الله اکبر
دقارون په زړه کښې مینه ددنیادسیم وزر

په پاک زړه کښې پاکه مینه په ناپاک زړه کښې ناپاکه
دغوجل په شاني زړه کښې مینه وي دګاووخر

خفي شرک دی که څوک پوه شي دد نیامینه په زړه کښې
یوه مینه ساته زړه کښې نوري میني کړه بهر

دمین نظرهرکله وي پخپلې لیلی باندې
دپتنګ نظرپه شمع نه په شمس نه په قمر

شي له نوروبېګانه ، لېونی بیافرزانه
چه په عشق اومحبت کښې شي له ځانه ناخبر

حال بې بل شي خیال ئې بل شي نظربل شي منظوربل شي
بل سړی شي بل عالم کښې دیوچاپه یونظر

ددنیاتوروتیارو کښې پټې سترګې ویده پروت وم
د راحت بسترمې پرېښودچه مې ولیده سحر

له عالمه کناره شه! که وصال دمحبوب غواړې
ګڼه ګوڼه کښې څوک مومي وصالونه ددلبر

څودنیانکړې طلاقه دعقبې لیلی مه غواړه
بن په بنې ورځي کله دشپې چالیدلی لمر

# اميدونو!

اميدونوارمانونوآرزوګانو داولس دماتوزړونوفرزندانو
خوارو زارو رټل شوو اسروهيلو ددې ستړودهقانانو مزدورانو
سوو لوو جل وهلو ارمانونو دنهرودلغړوانس جانانو
کړېدلو، رنځېدلو، پخسېدلو له ازله ترابده بدبختانو
دحرمان اوانتظارپه سخت عذاب کښې په عمروعمرو دزړه کور کښې بنديانو
دلته ستاسې برخه نشته بدنصيبو هرڅه دي ديوڅوتنو بډايانو
چه دچاپښوموټرولاندې نشئ دزړه کورنه مه رااوزئ ماشومانو
ډېرېې تاسې غونډې دلته پايمال کړي دي بې باکودي مغروروظالمانو
که زما منئ دمرګ په خوب ويده شئ بېرته زړو کښې دخوارانوغريبانو

که دانکړئ عيش عشرت کښې ژندګي کړئ
ورشئ زړوته ددولت دخاوندانو

# رسم او رواج

دواده اوخوښې کور کښې
مستې نجونې وې راغونډې
په سازونو کښې مې نوشې
په کيفونو کښې مد هوشې

خنداګاني شولې مستې
آرزوګانې په نڅاشوې
جنتونه وربښکاره شوه
دخیالونو په لېمو کښې

چه یوه پېغله ودېږي
نورې پېغلې هوسېږي
شوق راوینښ شي
ذوق راوینښ شي
ساپیداشي اومیدو کښې

ناوې جوړه په سینګارشوه
دښایست ډېوه شوه بله
سترګې تورې په کجلو
په سپین مخ زلفې خورې شوې
خیالي ناوې شوه سمباله
دوصال دشپې دپاره

ناوې جوړه شوه خوچاته؟
یوړانده ته نابیناته

چه ئي نه ليده جمال
بي ديداره، ووصال

چاويل دناوي كور كښي
فكروكړئ څه كوئ
ناوي چاته جوړوئ ؟
دسينګارمعنابه څه وي
چه كاته ورته هيڅ نه وي ؟
مه كوئ خوشي خواري
دړوندوسترګودپاره

بل ويل دوداودستوردى
همدغه دزماني
چه ناوياني سينګاربږي
په پودرپه لب سيرينو
په خالونوپه تيكو
څوم كه ړوندوي كه بينا
دارواج دى ددنيا

ددنيارسم اورواج
نه بيناګوري نه ړوند

دشهی شاهوکه ړوندی
رواج کله دی بینا
دړوندوبازاردی دا

نه تبعیض نه امتیازشته
په بازار کښې دړندو
مساوات ګوره ساتلی
لارسمواورواجو
پکښې نشته توپیرونه
د غنې او د فقیر
د اعمی او د بصیر

نه منطق دلته چلېږي
نه دعقل نصیحت
ماتوي داقتصادملا
درانه پېټې د رواج
زور وردي رواجونه
ځکه ناوري دلیلونه

# بابا

خپل نیکه ته نمسوويل بابا     احترام به دي کووسبابېګا
بريه ناست يي ښکلووبه دي لاسونه     جوړووبه درته ښه عباقبا
سمووبه دي پښي چه چېرته ځي     ته به مخکښي بېي روان اومونږترشا
په ادب کښي به هيڅ نه کووتقصير     مبارکه ګڼوستادلاس امسا
ستاوجوددی غنيمت زمونږدپاره     ته نورهيڅ مکړه کوه راته دعا
نوم به ستاوي اوکارونه زمونږلاس کښي     تابه ساتولکه خپل پيراو پېشوا
خوزمونږکار کښي کارمه لره مونږ پرېږده     خپلی خوښي ته چه هغه کړوکه دا

دادستوردی چه زامن بېي شي دکار
دکاله واک واختيارورکوي پلار

# ښامار

وابېي چه يووخت په کوم لري ځای کښي     يوه ځنګله کښي يو ښاماراوسېده
چه مسلط په يواولس باندي و     له دهشتونوهيبتونوسره
په هره ورځ به يوه سره ډولۍ کښي     يوه ښايسته پېغله دخلکوله خوا
ده ته پېشکش وړاندي کېدله مدام     له افسوسونوحسرتونوسره
ډېري ښايسته جوني قرباني شولي     په لونوډېري مېندي وژړېدي
ديوښامار دخوشحالۍ دپاره     خاوري ځوانۍ شوي ارمانونوسره

ثوچه یوه ورځ په دي لاره باندي    یوغیرتي ننګیالی ځوان تېرېده

دځنګله خوا کښې یې ډولی ولیده    دانتظارله عذابونوسره

ځوان چه دظلم داقصه واورېده    دیوي پېغلې له سروشوندوڅخه

دغضب اور یې زړه کښې تاو پیداکړ    دشجاعت له غورځنګونوسره

قسم یې وخوړچه ښاماربه وژنم    یابه خپل سرقربانومه دلته

نه ځمه هرڅه که پېښېږي راته    مرسته کوم له اولسونوسره

ښامارچه راغی ده په ډېرشهامت    په تېره توره خوله ورڅیرې کړله

دښامارخوله څیروي، هغه چه ځي    دبلاخولې ته جرئتونوسره

دیوه ځوان له برکته ګوري    یواولس خلاص شودښامارله خولې نه

په یوه سر له لوی ښامارسره جنګ    ښايي دځوان له همتونوسره

# دغریب ګیلې

خوځیږي زمکه بیابیا هرڅېرته زلزلې دي    نارامه ټول جهان دی شورونه غلغلې دي

دزمکې له زړه اوزي قیدشوي براسونه    چه پاتې دي لازړو کښې دخوارغریب ګیلې دي

سیندونه کاربزونه، چینې ویالې وچېږي    چه هیڅ وخت نه وچېږي یا اوښکې یا خولې دي

هرڅه دقدرت لاس کښې په هروخت کې لوبېږي    چه وخت په وخت بدلېږي دزورلاس کښې آلې دي

شراب دزاړه خم دي پکښې هغه نشه ده    محفل اوساقي بل شوبدلې یې پیالې دي

شعاربې نوی کړی چه تېرشعاربې هېرکړو    آهنګ نوی سازنوی هم نوې قلقلې دي

زوړ نوم بې ګرزولی لباس بې بدل کړی
زاړه ارباب سره اوس په بل نوم قوالې دي

اوس زوردی هوښیارشوی دخلکووکیل شوی
دخلکوپه نامه بې په خلکو څه حملې دي

چه خلک احمقان کړي، ړانده کړي شعورونه
غلط پروپاګنډدی غلطې مقالې دي

هماغه کبابونه هغه پلوچلودی
هماغه اشتهاده هماغه نوالې دي

له شرمه کتی نشو بربنډه ناروادە
په غلاغلاورته ګوري دچاسترګې چه غلې دي

لا ژوند طبقاتي دی په هره جامعه کښې
له تا سره مزدوره!چه څه کېږي غالې دي

قدرت اخلي ملت نه ملي حکومتونه
ملي قدرته ځکه په تا بې غلبلې دي

چه نه کمېږي هیڅ وخت اولاپسې ډېرېږي
یازورد زورورو یازمونږه حوصلې دي

په نورڅه نه هېږو په دې ډېربنه پوهېږو
چه هرڅه راته وا یې زمونږ بلې بلې دي

"خاکم بدهن" وایوکه کوم وخت کښې ووایو
زمونږ په خولو کښې خاورې کندوانو کښې غلې دي

څاروي دي بې زبانه بې خولې ورته مه وایه
چه خپل حق خوړی نشي هغه خلک بې خولې دي

# حاضرجوابي

ځوادیان اوشاعران په یوه لار و روان
هریوه بل ته ورکاوه دظرافت امتحان

له هغې خوا راغله څوخره یودبل څټ ګراوه
دخرخارۍ ډېربنه مثال چه شولودوئ ته عیان

"مجروح" الفت ته ویل ګوره! خرو کښې هم شته الفت
"الفت" وی هو! لکه په تاسو کښې چه زه یم الآن

# څوك څه پوهېږي؟

څوک څه پوهېږي سبا څه راوړي له ځانه سره
په کال کښې نه وي هغه څه چه وي له آنه سره

زمانه پټه حامله وي خوخبره نه وي
څه ورسره وي چه په فکر کښې له سره نوي

څه راځي؟ څه کېږي دچاپه لاس دچادپاره
شپه په تیاره کښې زېږوي څه دسبادپاره

دتوري شپې قهرمان یاودسبابل وي
تیارو کښې پټ بل څوک ظاهر کښې رهنمابل وي

لکه نطفه دانقلاب چه خپل طوفان نه ویني
دآغازسترګې دانجام قهرمانان نه ویني

دېرتغییرونه زماني سره دنیاته راځي
نوي فلمونه دزاړه ښارسینماته راځي

څوک ډرامې جوړوي څوک پې تمثیلونه کوي
سیاستونه په هنر کښې دېرکارونه کوي

تراژیدي کاندي کومیډي سپین لکه تورښئي
دېرمقدس دخدای نعمت دسوتي زورښئي

په پټه خوله لګیاوي خلکوته زندان جوړوي
په چیغوچیغوخلک کاڼه کړي چه پلان جوړوي

داپه صحنه کښې ظاهري متحرک به څوک وي؟
اصلي علت اصلي عامل پټ محرک به څوک وي؟

زمونږ نظرخویوڅونوي قواري ویني
دلوبېدونکو نا آشناجعلي څېرې ویني

بې روحه عکس حرکت کوي خبرې کوي
هرڅه چه کړي هغه پرده کښې مونږ نه لري کوي

## دمحمد"ص"تعلیم

توره تیاره وه انسان ورک خپلووهمونو کښې و
شعوراوفکردتورتم په زندانونو کښې و

دځان له سیوري ډاربده دډاربنده وانسان
دخپل غلط احساس په رنګ رنګ عذابونو کښې و

دعقل سترګې پې ړندي وي لاربې نه لیدله
خدای تربنه ورک دطبعیت په طوفانونو کښې و

انسان بنده ود هرشي هرشي پې خدای ګاڼه
د شیطانانو د پیریانو طلسمونو کښې و

ډاربې هربت ته په سجده باندي وسرټیټ کړي
دسرلوړي فکرونه کله په سرونو کښې و

خدای وغوښتل چه سرېتوب له ذلتونوکړي خلاص
دالوي اثردمحمدپه تعلیمونو کښې و

هغه تعلیم چه په الهام وحې دده نصیب شو
هغه تعلیم چه دېرو لوړومقامونو کښې و

محمد خلاص کړو دبتانو بندګي نه انسان          لوی قدرت ایښی لوی قوت دده لاسونو کښېو

چه په قرنو قرنو یې پاتې شوه رڼا په جهان          هغه پاک نور د حرا غار د فاران غرونو کښې و

جهان حیران حیران "الفته" دده کارته کتل          څه چه ده راوړه هغه کله جهانونو کښې و

راغی جهان ته محمد چه وران جهان جوړ کړي

چه جوړوونکي د جهان یعنې انسان جوړ کړي

## د محمد "ص" عرفان

جهان بدل شو چه جهان کښې محمد شو عیان          زمکه اسمان ته هسکه شوه زمکې ته ټیټ شو اسمان

په ده قایم شو ارتباط د اسمان زمکې سره          جبرئیل ده ته شو راښکته په نزول د قرآن

مور آمنه پلار عبدالله وهغه وخت کښې دده          چه عبدالشمس عبدالعزی عبدالکعبه وانسان

دده رڼا نه لمر سره، اونه سپوږمۍ سره وه          شوه مسلمان ځکه دستور وا ودلمر بندګان

قریشو مات کړ دده غاښ ده د قریشو غرور          چه یې قریش و بندګان مات یې کړه هغه بتان

راغی دنیاته عام الفیل کښې داپیغام یې راوړ          چه ابابیل تباه کوي اصحاب الفیل اوپیلان

ده ظالمان کړه خوار ذلیل او مظلومان یې کړه لوړ          ابوسفیان غوښته یوبل نه مدینه کښې امان

هغه فقیرو، چه یې ډېرو ته ډېر څه وښل          چاته رمې چاته سره زر او چاته سل سل اوښان

خیر یې عالم ته ورسید او ترقیامته رسي          چه یې تیاره زړونه رڼا کړه په رڼا د ایمان

بولهب تره د محمد وه محمد ته پردی          د فارس سلمان یې وباله د اهل بیت و په شان

له حبشي بلال نه یې ځار کړه د اسلام د پاره          نامسلمانه قریشي او هاشمي سرداران

ده ویل مه کوئ فخر پخپل اصل ونسب          یو شان یو راز دي په هر څه کښې د آدم فرزندان

بی له تقوا هیڅوک په هیچا برتري نلري          دي برابر عرب عجم سپین وي که تور مومنان

الفته! ده راووړ جهان له ره کامل سړیتوب          سړی سړی شوه په رښتیا د محمد په عرفان

# اوسنی او پخوانی مسلمان

زمکه دمکې وه بې اوبو او بېحاصله
نه پکښې یوګل و نه ګیاه زرغونېدله

نه پکښې ویالې وې نه چینې نه بارانونه
نه چا دبهار یا دخزان ښېره لیدله

خلک و ببېدبا کښې وږي تږي سرګردانه
نه وتمدن نه مدینه چا پېژندله

ژوند و بې نعمته سرېتوب بې کرامته
کوردخدای پکښې ودخیرطمع تري کېدله

خدای پکښې پیداکړمحمد دعبدالله نه
هغه چه ځانګوې ملایکوځنګوله

هغه چه بې راوړمشرکانوته توحید
هغه چه کعبه بې له بتانو پاکوله

هغه چه بې عدل او انصاف راوړجهان ته
هغه چه ددې دنیا ښېره بې بدلوله

هغه چه خواران اوغریبان بې عزیزان کړه
هغه چه په فقرېې شاهي وپرځوله

هغه چه بې وران کړدفسادا وظلم کور
هغه چه دنیا بې بې، دنیاته جوړوله

دی هغه یوګل و، چه جهان پرې پسرلی شو
راغله دغه ګل ته دجنت دباغ بلبله

رابې وړه نغمه ملکوتي خلک بې ویښ کړه
غوږدشرق وغرب ته دانغمه ورسېدله

رابې وړه باطن ته رڼا بې دمعرفت
ننوته زړوته چه بیاهیڅ ونه وتله

داښایسته رڼا چه شوه ظاهره په انسان کښې
حوره دجنت بې تجلیٰ ته پخسېدله

جوړه مدینه کړه له یثرب نه محمد
ده داسلامي تمدن ستېه کېښودله

زړونه بې قوي کړه په ایمان دایماندارو
ځکه به یوتن لسوته ماتې ورکوله

جوړې بې مسلمان نه دجهان لوی قهرمان کړ
هرځای داسلام جنډه په سرورپېدله

لوی جهاد شروع شوچه په الله اکبر به
زمکه له هیبته لکه پاڼه رېږدېدله

نن هغه قوت دی کله پاتې مسلمان کښې
هغه روحیه مسلمانانووبایلله

وینو کښې اوس نه لامبي مسلم شوداوبومهی    نه ورکوي سرخوسرسایه یې ومنله
نه کوي جهاد ، نفل کوي اووظیفې کوي    مفت ثواب ته ملامسلمانانوترله
تش دخولې په ذکرخدایه ستاخوښې رضاغواړي    ستارضا یې هرڅه نه ارزانه وګڼله
هغه طاعت نکړي چه پکښې یوڅه تاوان وي    مونځ کړي خوذکات باندې یې خېټه واچوله
هم دظالم لاس ښکلوي هم دخدای کتاب    هم کښېني واعظ ته هم که ډمه ګډېدله
هم څکي دزمزم اوبه اوهم دمظلوم وینې    خان کوي هم دا اوهم هغه کله ناکله
نیسي لاروژې، خوماتوي یې په حرامو    هیڅ وخت یې حرامو نه روژه ونه نیوله
هغه ښه سړی هم نشته اوس په کوراوکلي کښې    ښه به یې چه ښکاره کول ګناه به یې پټوله
رابه غی مسجدته چه توبې به یې ویستلي    پټ به شوله خلکوچه توبه یې ماتوله
اوس خومجاهرفاسق "الفته" هیڅ حیانکړي    اوس خورقاصه لوڅه میدان ته ووتله
دامسلماني خوآخرت کښې په کاربرې نه    داسې مسلمان نه خودنیا کښې څه جوړېږي نه



# په ځان مينه!

په ځان مينه! په جانان شه مين
په قام مينه! په افغان شه مين

مينه چه هرڅومره عالي وي ښه ده
په سپوږمۍ ستوروداسمان شه مين

مينه کښې فرق دشرق وغرب مه کوه
په صبحدم، ماښام يوشان شه مين

ښکلاکه لوړوکه ژورو کښې وي
په غرو، درودبدخشان شه مين

هوا کښې وګوره د وريځو اوښان
هم په شبنم هم په باران شه مين

دطبعيت ښايست هروخت کښې ګوره
هم په بهارهم په خزان شه مين

هرڅوک په خپله معشوقه وي مين
په عشق مين شه!په عرفان شه مين

ګبروترساوي که وي خپل که پردي
په ښايسته نوع دانسان شه مين

پرېږده بلبل چه په ګل مينه کوي
ته هم په ګل هم په باغبان شه مين

يوازې خپله باغچه مه ستايه تل
"الفته" راشه په جهان شه مين

# محيط او انسان

سوزوي مواوبه هم چه په جوش راشي
اوبه اورشي چه محيط يې شي سوراور

په هرشي کښې دمحيط تاثيرښکاره دی
وي بې زهروچه اوبو کښې وي منګور

په اواربستر کښې سيندرومي آرامه
خوپه چړ کښې بې بياګوره شروشور

لوګی اورڅخه پيدادی خواورنه دی
دمحيط اغېزه کله لري مور

له يوه پښتنه ړنا اولوګی دواړه
ديوه مخ منوراودبل تور

محيط چانه چنګېزجوړچانه بوداکړ
دمحيط مخلوق هم فخرهم پېغور

کله کله څوک پیداشي په محیط کښې
چه محیط ورپسې ځي که ځي هرلور

زورورانسان په هرځه زوروردی
په محیط په زمانه اوداسې نور

داانسان دی چه آرام محیط نارام کړي
یانارامه محیط کړي دسکون کور

په هرځه کښې دي عیان تفاوتونه
یوشان نه وي دځېرې اولوخې اور

انسانانو کښې شته څومره ډیرفرقونه
نه دي یورازاوسپدونکي دیوکور

دګاندي کارله ټاګوره پوره نه دی
ګاندي جي هم نشي کړی کارد ټاګور

بازنه مه غواړه نغمه دبلبلانو
مه کوه په توره لو کړه بې په لور

دچالاس توري ته جوړدچاهنرته
دهرلاس دګوتوکارنه دی انځور

انساني قوه خوپوهه ده تمیزدی
حیواني قوت دی بې تمیزه زور

# عمل او عکس العمل

مینوژوب اغوستل ښه که بدعمل دی
ددلاق اوچادرې عکس العمل دی

دډېر قېد نتیجه ډېره ازادي ده
دروحي عقدوسادېزم ته تکل دی

دېرفشارکله شي دېردوام کولی
دشدیدي شکنجې عمراقل دی

که افراط دی که تفریط یودبل سرخوري
هریوبل ته قبرکن دبل اجل دی

حقیقت کښې خپل ځان وژني چه بل وژني
مري هغه اورچه سېزلې بې ځنګل دی

که نن وي ستارسۍ اودبل غاړه
دارسۍ سباته ستادغاړې ول دی

انتقام ته تېږي زړونه ترخوتېږي
بایدیخ شي هغه زړه چه اورېږي بل دی

# سوتي

دسوتي اوسياست خودقديمه آشنائي ده — دسوتي په زوربې کړې په هروخت کښې آغابي ده

په لېمو راننباسي ناتراش سوتي په زوره — وابي ستركو كې ځاى وركړېء دادستركوسلابي ده

چه ډب نه وي ادب نه وي د سوتي د خولې منطق دى — ډبولوراښودلي ډبېدلې داناپي ده

ظالمانويووهلي ټكولي اورټلي — زړه كښې وېره سر كښې وېره زمونږ برخه كذابي ده

ضرباضربوزده كړي په مونږضرب زباني هم — دضربې قوه كې ضرب شته دسكې ضرب كفابي ده

چه وهي مو، راته وابې ګورئ اوس به موسرې كړم — په وهلوسرې كېږو دزورلښتته موداپي ده

دموسى امساچيني كړې له وچ كاڼې نه رواني — ددهقان لاس كښې بې كړې قلبه سمه په غوابي ده

ګداځان پري دى ساتلي دخوري سپي له خولي نه — يوړانده لره بې كړې ډېره ښه رهمنابي ده

كله شي خلى دستركوبيناستركي ړندوي — درنجوسلائي ستركوته وركړې زيبابي ده

چه سوتى سلابي بولي اوله چانه نه شرمېږي — ښه په زور كښې راروانه ياره ستابيحيائي ده

# خپل اوپردي

لري بېل بېل رنګونه ديوچمن ګلان — يوشان په ګل مين دي دهرځاى بلبلان

بلبل كارغه نه بېل شوددوق په اختلاف — دګلومينې خپل كړه بلبلې پټنګان

خپلوي دسيرت ښه ده خپلوى نه دصورت — ښېره كښې خوپردي هم ښكاري كله يوشان

رنګ شكل ته مه ګوره معنى نيسه نظر كښې — ظاهر كښې لكه غنى ښكارېږي غنډلان

په اصل كښې كه يودى بياهم سره يونه دى — چېرته دپسرلى باد اوچېرته دخزان

دسرستركي جدادي دزړه ستركي جدا — ويښتوب دستركوكله ويښتوب دى دوجدان

طوفان دبادکه هرڅو قوي دی په ظاهر
قوي په حقيقت کښې نسيم دی دنيسان

دخيراود شراصل که يوهم وي يونه دی
لطيفه ورېمه نه ده همجنسه دطوفان

په وينه باندې مينه ددين شوله غالبه
قربان له عقيدې نه هرڅه کړه مسلمان

بلال حبشي وروړشوسلمان سره دفارس
مومن دمومن خپل دی عرب وي که افغان

پردی شومحمدنه خپل تره ابولهب
زيدځوی دمحمدشوچه راښې ووړايمان

پردی چه وي له خدايه خپل نه دی دمومن
دنوح ځوی ګوره نه دی دنوح دخاندان

په مينه پردي خپل شي بې ميني خپل پردي شي
په دې رازښه پوه شوي دزړونو خاوندان

که زړونه مروروي که نه وي "الفت" زړو کښې
که شي غاړه په غاړه پخلانه دي ياران

# دشاعرترنم

په موجونوسپور تيتېږي او جګېږي
ترقي ده دموجونوتلاطم

مساوات دنراو ښځې به همداوي
چه مېرمنې لري حق دتقدم

که هرڅه شي ورورېه نشي دخوارانو
نازولی ځوی دنازاوتنعم

دقيامت انتظارڅه کړئ همدااوس شته
چاته حورې غلمان چاته جهنم

وخت دقيل اودقال نه دی حال ته ګورئ
اوس دحال په ژبه کېږي تکلم

ژبه بنده قلم بندفکربندي دی
دحال ژبه بنده نکړه تظلم

غمازان برېرغږېږي نورتول غلي
يوشاعردځان سره کړي ترنم

خلک څکه وي چوپ ناست ماتمخانه کښې
چوپتياده دېرښه اظهاردتألم

څه چه بولي واقعي اوحقيقي څوک
توهم دی توهم دی توهم

# امیدونه راژوندي کړه

امیدونه راژوندي کړه خاورو لاندې مایوسي کړه  
په نطفه کښې که دروغ وژني مړه مړی کښې چاپلوسي کړه

دحافظ سوتې چه لګي دیوه بل په سرونو  
داکوتک کوتکماري خودړې وړې سملاسي کړه

لوڅه توره ژړپسېږي یابې زنګ خوري یاماتېږي  
تېکې دی لباس دتورې خپله توره لباسي کړه

قدرت ښه دی ورسره چه هم هنروي هم حکمت وي  
چه بې نورپه جبرکاندې هغه کارپه شابسي کړه

توروي دې زړه له سپینه ، سپینه ورځ درته شپه ښئي  
ورکه دارښادښمنه تکه توره جاسوسي کړه

چه ولس دپاره کارکړې د اولس په خیراوګټه  
ولس هم درسره مل کړه رویه هم ولسي کړه

مرورخلک پخلاکړه قحطي ورکه دخنداکړه  
بړوسې شوندې په مسکاکړه بې سببه ډارپانسي کړه

# دعصر دلبره!

ته منظوردهرنظر یې  
ته ددې عصردلبرېې

مبارک شه! مبارک شه!  
په خوبانو کښې افسرېې

دالماس تاج دې په سر دی  
آراسته په زر، زیور یې

دښکلاثاني دې نشته  
معطرمشک وعنبرېې

تول دې تل ثناصفت کړي  
له هرچاڅخه بهترېې

عیب دې څوک لیدلې نشي  
سرترپایه ټول هنرېې

خوشبې ورځي درته وایي:  
آیادې نه هم خبرېې

چه ښکلاوي يوڅوورځې    چه پرېوزي هغه لمرېې
داڅېره نه پاتې کېږي    که هرڅو ښکلى بشرېې
دجګ غره په جګه څوکه    زېړى لمردمازديګرېې

# جوي انقلاب

داهوا دطوفانونوهيولىٰ ده    هندوکش پاميردلوى طوفان ماوىٰ ده
زلزلې که وران کړه خلم کښې کورونه    دسيلاب خواهم سره په مونږ بيابيا ده
توري لړې تل زمونږ په سروګرزي    ګرزوګروزدي تندريزه بې برېښنا ده
له بارانه بې سيلاب راځي دمخه    نه سبانه بېګاګوري څه بلا ده
خلک وږي کورونه وږي فصلونه هم وږي    دعمل دآزادۍ دغه معنا ده
دچاځوى مړدچاپلارمړ دچاوررمړ    کونډې ژاړي دځوى مړوواويلاده
مصيبت په مصيبت غم په غم اوري    دافضادغم باران سره آشناده
دخوښيوکورېې وران کړ، زړونه بې مات کړه    هېره کړې خولوخنداشونډومسکاده
مهارکړي هيچانه دي سيلابونه    څومره مطلق العنانه اوريا ده
له بداية په څنګ ځي خواران بې چت کړه    نه وږي هغه سرمايه چه د ربا ده
دجوي انقلاب زړه په مونږ سوړنشو    که په کور کښې موهرڅوسره سناده
دفضاتسخيرته ملابشرترلې    فضاځکه قهرجنه په هرچاده
پاکستان هنداونيپال کښې سيلابونو    تباهۍ ته ملاترلې ددنيا ده
زلزلودچين شمال کښې ځاى نيولى    په ققفاز کښې زمکه هم په رېږد بداده

فلپین کښې زلزلې قیامت جوړ کړی — نااقراره ناآرامه آسیاده
زمکه څه وینې په مخکښې چه له ډاره — لکه پاڼه هروخت ریږدي وارخطاده
چه له قهره زړګی ډک دطبعیت شي — تشوي بې په مونږ، مونږ کښې څه ګناه ده
نفس ظالم تربورظالم دی خان ظالم دی — له هرچا ظالمه لا، هوا فضاده
چه په دغسې هوا کښې بې غټ شوی — سره! ستامغزو کښې هم دغه هواده

اسد ۱۳۵۵ هه ش

# خطابونه

دزورخاونده! لرو زړه کښې درنه پته ګیله — چه خاورې زمونږ سترګو کښې اچوې کندو کښې غله
سیاستواله! تاموغوږ کښې دغفلت پنبه کړه — هغه ړانده کړو تاکاڼه کړو رانه جوړشوبوله
ملاصاحبه ! تاقانع کړو دظالم په ظلم — له زوراوزروسره شوه ملګرې ستامسئله
لیکواله !ستاپروپاګنډخوظلم عدل وښود — پلیس نه زیات تاته خدمت دپالیسي حواله
غلط جاسوسه! دصحیح مغزودسردښمنه! — لکه مکروب هروخت کوې په صحتونوحمله
هوافضا شوله تیاره لورې لودن ورک شو — کعبه مو ورکه کړه، قبله موشوه دخان بنګله
دهیبتونو دهشتونو طوفانونه راغله — نورترې منکردي مونږ لیدلي دقیامت زلزله

# نا جوړه جامعه

حکومت دخلکووی که د افسروي
په هرنوم چه وي هر ګل بې چه په سروي

جمهوریت د افلاطون وي جوړ په عقل
که په زورترلاسه کړی سکندروي

که وزیربې وي لقمان غوندې حکیم
که واکداربې نوشیروان دعدل لمروي

که پیرو وي دبودا یا دمسیح
که بې هر څومره ډېر ښه ملی رهبروي

څو حاکمه طبقه وي په هیواد کښې
څو چه ژوند طبقاتي اولروبروي

څو چه فخروي په اصل او په نسب
څوچه خلکو کښې بشر فوق البشروي

کارګران اوبزګران به خواروزاروي
حکومت د کارفرماکه دکارګر وي

که ملي وي که حزبي وي که فردي وي
دناجوړه جامعې نظام ابتروي

چه ملت ګوندوي ګوند فردوي فردملت وي
خلک ضمیرغوندې یوه فرد کښې مضمروي

جامعه وي د فردسیوری فردپسې ځي
دتش سیوری به څه نقش اوڅه اثروي

# دښوسیوری

کله چه تاووینم ځان نه وینم
خپولاندې زمکه پاس اسمان نه وینم

یوازې تاوینم منظورمې ته یې
امتحان وکړه این وآن نه وینم

ستادښوسیوری لیدلی شمه
سیوری دخدای یعنی سلطان نه وینم

جانان زما دجانان لوښي دبل
وینم ښه مخ دسروپېزوان نه وینم

دغاړې هارېږي که په غاړه وينم ‌ ‌ ‌ معنايي داده چه جانان نه وينم
ليدی شم خوارحسن په خوارلباس کښې ‌ ‌ ‌ د "الفت" ستر ګو کښې نقصان نه وينم
ضعيف مېږی وينم چه ځي اوراځي ‌ ‌ ‌ په غرور کبرباراوښان نه وينم
نيکي دستر ګو په سرستر ګومنم ‌ ‌ ‌ چه بې له خدايه نورخدايان نه وينم
له پرېشان اربل سره يم اشنا ‌ ‌ ‌ يم پرېشان چه پرېشان نه وينم
نورحيران ماته زه هغو ته حيران ‌ ‌ ‌ چه بې ستا حسن ته حيران نه وينم

# نوی ګل

دحاکم نوم چه ولسوال شو تحول دی کنه ‌ ‌ ‌ ددې ملي نهضت همدغه نوی ګل دی کنه
ديموکراسي ده فرق دسپين اودتورنشته ګوری ‌ ‌ ‌ نظربې يوشان په سپين مخ اوتور اوربل دی کنه
کله وي واردابی کله داباد لته ‌ ‌ ‌ حق مساوي دګل آغااوبي‌بي ګل دی کنه
دپرون کونډه که نن بيا په ډنګ وډول ودېږي ‌ ‌ ‌ که ابتکارنه وي نغمه اوسازخوبل دی کنه
دغرونوتورد ېوان بې واوروباندې سپين وښودل ‌ ‌ ‌ تعجب مه کوئ بل ځای نه دی کابل دی کنه
جهل لوی عيب دی دعوامو نه دخاصوخلکو ‌ ‌ ‌ دعارف جهل، جهل نه دی تجاهل دی کنه
دخوارغريب غفلت هرچاته ښومره بدښکاربږي ‌ ‌ ‌ چه بدنه ښکاري دخوبانوتغافل دی کنه
ستا ګناه نه ده ولسواله ملامت نه بې ته ‌ ‌ ‌ داچه په مونږ هرڅه کوي زمونږ تحمل دی کنه
ته ديموکرات بې خوله تانه دکتاتورجوړول ‌ ‌ ‌ دبل چاکارنه دی داکار زمونږه خپل دی کنه

# آزادي

آزادي ده ژوندانه لره اکسیر          لوی دولت دی ورسره خیرکثیر

په عادي نظرکتل ورته ګناه ده          ناپوهي ده دوجدان اودضمیر

پت عزت دژوندانه ازادي بویه          بې له دې وي ژوندذلیل خواروحقیر

آزادي دتن اوغړوڅه په کارده          که دې فکروي تړلی په ځنځیر

چه ازادفکرلري په جیل خانه کښې          دی ازاد دی نه غلام غوندې وزیر

په تش لاس ازادي نشي څوک ساتلی          ازاد نه دی بل ته اړوړی فقیر

چه وطن اوملک ازاد وي کله ښائي          چه بې خلک دڅوتنووي اسیر

باداري دزوراو زروچه کړي ورکه          ده همدغه آزادي وړدتقدیر

# خپلواکي

دملي ژونداساس خپلواکي ده          دملي غرورژوند ،سرلوړي ده

دڅوتنوڅوکسوخو،نه ده          پکښې برخه دهرهرسړي ده

حفاظت بې په سر اوپه مال          دهرچاوظیفه ایماني ده

په تش لاس بې ساتنه ده ګرانه          لوی دښمن بې خواري بېوسي ده

په ملي قدرت لاس ته راغلي          په ملي اتحاد متکي ده

چه هرڅومره ملت متحدوي          خپلواکي بې هغومره قوي ده

په ملي تربیه قوت مومي　　په ملي روحیه کښې خوندي ده
تېنګ اساس بې ملي اقتصاددی　　خپلواکي نورونه بې نیازي ده
په ملي ثقافت قوم ژوندی دی　　کلتوري سرمایه بې هستي ده
راشئ! ورکه خواري کړووطن نه　　ترقۍ لورته هڅه حتمي ده
ورکه کړئ باداري دخوتنو　　خپلواکي دفردفرد ازادي ده
په ازاد اوخپلواکه وطن کښې　　رواکله په بل باداري ده



# زما وصيت

غوارمه چه مرګ مې وي په شان د بېوفقير  نه دې پکښې ويروي نه دخلکو ډېربهير
نه دې راډېو کښې وي زما دمرګ اعلان  نه دې وي زماپه قبرخان وبېګ اومير
خاوروته دې وسپاري ماهغه دهقانان  هغه چه کري تخم او ورې خېرکثير
نورڅه نه ورم عجزاونيازبه ورمه خدای ته  رحم اوکرم ته به بې ورم عذروتقصير
لاس کښې که څه نه و، چه نهروړي ماړه کړمه  زړه کښې خوځه و، چه بې په دوئ کړمه زهير
ښه به وي که لږمې داتياره قبرړنا کاندي  که مې رڼاکړی وي دچاذهن اوضمير
مکړئ د رباد پاره ماپسې خيرات  ځان پسې نه غوارم خيراتونه چشمګير
ورکړئ غريبانوته که وي زما څه مال  پټ غوندې له خلکوچه پکښې نه وي تشهير
خدای ته ډېرنژدې وي له هرچاځخه "الفته"!  هغه چه دنيا کښې وي غريب خواروحقير

## پای



# *Gedichte und Vierzeiler*

*von*

*G. P. Ulfat*



۵۰ ټوکه
www.ulfat.de
جرمني

د چاپ شمیر
دریم چاپ
د چاپ او ترجمې حق په مهتمم پورې اړه لري

دالفت خبری